# مصري پېغله

ناول



ګل رحمن رحماني

Telegram : Pashto_novels پښتو ناولونه

*********************

دوه درې ځله مې په ماشه ګوته ولړزېده، خو بیا به مې ځان راسمبال کړ او په نښه به مې سترګه برابره کړه، تیاره ورو ورو خورېده او نرم باد هم دانارو وړکې او لویې څانګې په شور سره خوځولې، دملګرو دیوه لنډ شپیلي سره مې حواس بېرته په ځای شول،ښۍ پښه مې یو څه راټوله کړه،په خپل کلاشینکوف مې نښان سم کړ ،او بیا مې دګوتو شخي ویسته،دولاړو وانښو څانګې مې یو او بل خوا کړې، په سړک موټرونه په تېزۍ سره روان وو، خو کله کله به لړ ځنډ په کې راغی او شور به یو څه غلی شو چې همدا زموږلپاره دخبرو ښه موقع وه.

زموږ دکلي یوه سپین ږیري به هر وخت په خپلو خبرو کې ویل چې په جنګ کې به نه مخکې ځې او نه هم وروسته، بلکې تل باید په منځ کې وې، نن ماهم همغه خبره په ځان عملي کړې وه،زما ښي اړخ ته په ترتیب سره شپږ کسه په مورچل کې ګوته په ماشه پراته وو.

قومندان پلان داسې راکړی و چې تر ټولو وړاندې به راکټ ویشتونکی دکاروان دریم یا څلورم ټانک تر برید لاندې راولي او چې کله دبهرنیو سرتېرو کاروان تم شي نو په ترتیب سره به پیکا او بیا موږ فوځي کاروان تربرید لاندې راولو، د اړتیا او تېښتې په مهال به دباغ په کوزه څنډه کې چې لمر خاته لور ته وه پنځه موټر سایکلونه هم ولاړ وي چې موږ به پرې ځانونه دالوتکو تر راتلو وړاندې کوم خوا ایستلی شوی.

ملګرو ته مې وکتل، همغسې په وانښو کې غلي پراته وو، زموږ ترمنځ نږدې لس لس متره فاصله وه، خو د ګروپ مشر مو سرک ته نیږدې دیوه پولچک څنګ ته په ولاړو اغزنو بوټو او وانښو کې پروت و، چې دګوزار په مهال زر را وتلی شوی، هغه په زوره زوره ځان سره څه ویل، زه پوهېدم چې په داسې شېبو کې جنګیالي ځان ته خپله ډاډ ورکوي او دخپل بري خوبونه ویني.

ساعت ته مې وکتل، له ټاکل شوي وخت پنځلس کې شل دقیقې اوښتې وې خو دبهرنیو سرتېرو کاروان نه تر سترګو کېده، کله کله به مو ویل چې هسې نه راپورچي ملګری مو ناسم پوه شوی وي، خو بیاهم ډاډه وم چې هغوی په ولسوالۍ کې تر ډېره نه شي پاتې کېدی او دتیارو له خورېدو وړاندې به مرکز ته ځان رسوي ، علت یې دا و چې اکثره وخت به په داسې مهال ددوی کاروانونه زموږ تر برید لاندې راتلل او موږ دتیارې نه په ګټه ځانونه یو خواته پټولی شوی، زموږ هڅه به هم دا وه چې خپلو مشرانو ته خپله مېړانه څرګنده کړو، بیامې ساعت ته وکتل، په ښېښه یې ګرد خور و، ژبه مې پرې راتېره کړه، دساعت ښېښه پاکه شوه

او ستنه يې په شپږو بجو ولاړه وه، وروسته له دې نو تياره هم ورو ورو خورېدله، خو موږ لا همغسې انتظار وو او په ځان مو کلمې ويلې، غوږونه مو دبهرنيو ټانکونو شور ته څک کړي وو.

اوس مې دخپلې تجربې له مخې دپوځي او ملکي موټرونو غږونه ښه اسانه سره بېلولی شوی، نږدې لس دقيقې به نورې نه وې تېرې شوې چې له وړاندې نه دوړې او ګردونه معلوم شول، ټولو ملګرو دمشر له يو غږ سره سرونه ښکته کړل، زما دزړه دربا هم په زياتېدو شوه، په خيال کې مې دجنت ګڼې منظرې جوړولې او ړنګولې خو دمشر دې غږ چې (چمتو اوسئ ) دغه لړۍ پرې کړه، نور ملګري مې هم دبت غوندې چپ او غلي شول،ټانکونه ورو ورو رانږدې کېدل ،لوړ انټنونه يې دګړندي تګ له امله منظم خوځېدل، دپلان له مخې په دويم ټانک هغه وخت ګوزار کېده چې زموږ دمخې له پولچک نه وړاندې ژور غالي ته تېر شي، دغه ژور غالی ديوه پخوانی ماين پاتې شونی و چې ټول موټر به ورته ورو شول.

له سترګو مې داوښکو څو ځاڅکي وڅڅېدل، خو زر مې دموټې په شا وچې کړې او يو ځل بيا مې ماشه راټينګه کړه، مشر په مخابره کې څه وويل او بيا يې په ټيټ غږ د چمتو کېدو امر وکړ، ترڅنګ مې وکتل، دوه ملګري چې راکټونه ورسره وو او ددريم ټانک دويشتلو امر ورته شوی و، سرک ته ځير ښکارېدل، دټولو هڅه داوه چې خپلې وسلې دبڼ په وچو واښو کې دبريد تر وخته پټې وساتي.

وړاندې مې دترسترګو تر کونجو وکتل لومړي ټانک په تېزۍ سره را روان و، ترمخ يې دماين پيدا کولو اله بنده وه ، يوازې يو سرتېری يې په سر ښکارېده، دوی لاهم ملکي موټرونو ته اجازه نه ورکوله چې تېر شي ، خو نن له ښه مرغه چې وو هم نه ، دوی په خپلو منځو کې پوره فاصله ساتله او دپخوا په څېر جوخت سره نه تلل ، بيا مې دمشر غږ واورېد.

چمتو اوســــــــــئ ،کلمې درستې کړئ!

په ماشه مې نور ګوته خولې شوې وه ،په خاورو مې وموښله او دوه اضافه جاغورونه مې په جيب کې ومنډل چې دمنډې په مهال رانه پاتې نه شي، په همدې شېبو کې لومړۍ ټانک تر پولچک په تېزۍ سره واوښت ، دشلو مترو په فاصله دويم هم تېر شو، دريم ټانک دشلو مترو په فاصله شاته روان و، دلته نو دراکټ چي د ملګرو تر ټولو سخت ازمايښت و چې بايد خپله مېړانه څرګنده کړي.

اکثره وخت به په داسې مهال هرچاته وړې وړې خبرې او پېښې، کورنۍ ،دهغوی يادونه او انځورونه يو يو مخې ته کلک ودرېږي، زما حال هم همداسې و، خو دمشر خبرو به مې په غوږ کې انګازې وکړې (تاسې دجنت سينګار ياست، ځوانان په مېړانه او غيرت ښکلي

ښکاري، څوک چې دشهادت له مرګه ووېرېدل نو ډېر دبې عزتۍ په مرګ به مړه شي ،که څښتن ته زموږ شهادت منظور وي نو دسترګو په رپ کې به مو ترجنته ورسوي او که نه وي نو دابراهيم خليل الله غوندې به مو په سره اور کې هم وساتي او غازيان به وو) که څه هم له وسله والو طالبانو سره ديوه کال له تېرولو وروسته نور دا يوه تکراري خبره وه، خو په دې شپېو کې يې زيات اثر درلود، وينه مې په ګرمېدو وه، دريېم ټانک هم را ورسېده چې په وسپنيېزو پنجرو پوښلی و او ګردونه يې خواره وو، په سر يې يوازې وسله او يو لوی دربين ښکارېده خو سرتېری ورسره دنورو ټانکونو غوندې نه وو ناست.

له پولچک نه تېر شو او جمپ ته د ورو کېدو سره يو لوی درز واورېدل شو، پاتې درې ټانکونه هم په نږدې فاصله کې پسې رارسېدلي وو ، په ټانک زموږ دملګرو ښه سمه لګېدلې وه او لمبې ترې اوچتېدلې ،له چيغو او شور سره، په پوځي موټرونو دمرميو باران شو، وروستي درې ټانکونه هم په يوه وخت کې تربريد لاندې وو.

ماهم نږدې کوم يو جاغور په تر ټولو مخکيني او دويم ټانک خالي کړی و.

چامې په تندي لاس راکېښود

صفي الله ! صفي الله وروره!

زه اوده نه وم خوداسې راته ښکارېده لکه ژبه مې چې په خوله کې پړسېدلې وي او خبرې نه شم پرې کولی.

غږ بيا تکرارشو

څنګه يې سترګې وغړوه ؟

په سختۍ مې سترګې وغړولې، هرڅه راته نا اشنا وو، شا وخوا مې وکتل، دپخو خښتو نه جوړه يوه برابره کوټه وه، په مخامخ دور يوه اسماني رنګه پرده راځوړنده وه او څه کرښې هم پرې ليکل شوې وې چې توري يې زما تر سترګو سم نه راتلل او داسې راته ښکارېده لکه دخوځښت په حال کې چې وي، په چت کې يو زېړ بخونده ګروپ هم روښانه ، ځان ته مې وکتل، دپښو خواته مې يو بل کټ هم ايښی و، چې څوک ورباندې پراته و، ژبه مې په شونډو تېره کړه،حلق مې وچ و، اوبه مې وغوښتې، سرته ولاړو دوو کسانو ته مې پام شو، يوه سپين رنګه کس منډې کړې، يو ګيلاس اوبه يې راته ونيولې خوښی لاس مې درووند و، په کټ کې يې را کښېنولم اوبه يې راکړې او بل کس ته په خبرو شو.

ادريس خانه ! دادي داهم په ښه کېدو دی.

هغه ورته وخندل

هو عبدالوهابه وروره تا دې خدای ژوندی لري، ټوله ستا دهڅو برکت دی، چې څښتن تعالی شفا ورکړه.

سپین رنګه ځوان ورته وخندل

داڅه وایې ادریسه وروره !

دازموږ مسولیت دی، په دې کې داحسان څه خبره ده، مجاهدین خو ټول سره ورونه دي او بیاخو چې په بهرنیو سرتېرو خصوصا په امریکایانو یې ډزې کړې وي نو زما دسترګو تور وي او زما دزړه سکون پرې کېږي.

دواړو دزړه له پاسه وخندل او هغه پیاله راڅخه واخیسته ، راباندې راټیټ شو

نورې هم څښې ؟

دنه په دود مې سر ورته وخوځاوه ، هغه هم ګیلاس ها خوا کېښود او ولاړ کس ته یې وکتل

ادریسه وروره ! دغه مرمۍ زهري خاصیتونه لري کنه دغه ټپونه په درېیو ورځو کې نه په دریو ساعتونو کې جوړېدل، نور نو دوی دواړه هم دخدای په فضل روغ جوړدي او شهیدانو ته دې خدای اجرونه ورکړي.

ماپه دوی کې سترګې ګنډلې وې او خبرو ته مې یې غوږ نیولی و، دادریس چې ماته پام شو را وړاندې شو په تندي یې ښکل کړم.

وروره ! اوس لکه چې ماهم نه پېژنې، ښکاري اعصاب دې په ځای نه دي، بیا مې یې په تندي لاس راکېښود او په ځای کې یې راکښېنولم، سپین رنګه ځوان ووت او ماهم ادریس ته وکتل، په ځای مې راووړ، زما خوږ ملګری او کلیوال و، بیامې غاړه ورکړه او هغه هم په خبرو شو.

صفی الله وروره ! کله چې دانارو دبڼ وروستۍ څنډې ته ورسېدې، زما درباندې پام و او بیا چې پرمخې په لښتي کې را وغورځېدې پوه شوم چې کومه مرمۍ درباندې ولګېده، ما فکر کاوه چې یواځې په مټ لګېدلې یې او لاس دمات دی خوکله چې مې دملګرو په مرسته له خطرناکې سیمې په باغونو کې رابهر کړې نو راته څرګنده شوه چې پنځه شپږ نور زخمونه دې هم به بدن خوړلي.

ډاکترعبدالوهاب صیب په اندېښنه کې و چې وینه یې زیاته تللې، خو بخت دې دلته ښه و چې زما دوینې ګروپ درسره برابرشو ، پوره اته سوه سي سي وینه مې درکړه ، هغه شاته

دې ملا شېرمحمد دی خو حالت یې ښه نه ښکاري او عبدالوهاب تللی چې دوا ورته راوړي خو...

ما یې خبرې ورپرې کړې

داخبرې پرېږده وایه چې کمین څنګه شو، زما له غوږځېدو  وروسته څه وشول ؟

هغه څېره یو څه جدي شوه.

هو که څه هم څلور ټانکونه په لمبو وسوځېدل خو زموږ دشل کسیز ګروپ له ملګرو هم یواځې اته کسه روغ  او اته کسه تا غوندې ټپیان پاتې دي، نور دوه کسه یې په شهادت ورسول .

پوښتنه مې وکړه

دهغوی په ډزو؟

 نه شپېه پس الوتکې راغلې او ټوله ساحه یې بمبار کړه خو هغه وخت موته ، شېرمحمداخوند او نور ملګري ډېر لرې رسولي وی او په کلو کې یې پیدا نه کړو، بس هسې دخدای رحم و په ډېره سختۍ او ستونزو مو ته تر دې ځایه را ورسولې، دا تېرې درې شپې موځکه ځایونه بدل کړل چې زه وېرېږم دغه شیطانې الوتکې مو پیدا نه کړې، ته ګورې چې هغه شپه او ورځ نه ګوري، هر وخت زموږ په سر وي خو دوه درې ورځې وروسته به حالت بېرته له خیره سم شي.

هغوی ته به څومره تلفات اوښتي وي ؟

ادریس سر وخوځاوه

نه پوهېږم ، خودهغوی له دومره شدید عکسلعمل نه ښکاري چې په ویشتلو ټانکونو کې یې یوکس هم ژوندی نه دی پاتې ،الوتکې اوس ځکه هره شپېه لټون کوي، خدای دې ډاکټر عبدالوهاب ورور ته خیر ورکړي چې هر وخت یې زموږ په درد خوږلي او خپل مسوولیت یې په ښه ډول تر سره کړی دی.

زه حیران وم ، غوښتل مې چې دهغه په اړه ترې پوښتنه وکړم چې داڅوک دی ؟ ماته یې پښتو هم بل ډول او درنه ښکارېده ، خو د ادریس  خبرو دغه پوښتنه راڅخه هېره کړې وه ،دهغه خبرې چې خلاصې شوې په تعجب مې ورته وویل

ډاکتر عبدالوهاب ، دا څوک دی ؟

هغه وخندل

هو دغه سپینکی ځوان درته یادوم ، پوره نوم یې سعد عبدالوهاب دی ، نږدې یوه میاشت کیږي چې ورسره پیژنم ، ښه دملګری سړی او دجهاد په مینه یې خپل کلی ، کور ، هېواد او هرڅه هېر کړي دي.

دده خبرې راته عجیبه وې ، ترې ومې پوښتل

یاني هغه زموږ دولایت نه دی او دکوم بل ولایت نه راغلی ؟ داسې خو نو زموږ ډېرنور ملګري هم شته چې...

ادریس په خپله خندا زما خبرې راپرې کړې

نه نه هغه بیخي دافغانستان هم نه دی، ماتېره میاشت هغه وخت وپیژنده چې کله ورته ملګرو ستا په څېر په زخمي حالت کې راوړم او ده مې په ورین تندي پوره علاج وکړ ، هغه له مصر نه شل دوه ویشت کاله وړاندې چې لا پوره ځوانکی وو، دلته راغلی څه وخت یې په پېښور کې هم تېر کړی، دهغه پلار هم د دامارت د لومړیو شپو ورځو په مهال په جلال اباد کې شهید شوی، په پېښور کې یې ډاکتري هم یوڅه ویلې او ټل زموږ دملګرو علاج کوي ، په ښار کې یې یوه معاینه خانه هم شته چې ملګرو ورته جوړه کړې او اصلا هغه زموږ دارتباط مرکز دی ، که څه هم دی ورته اړتیا نه لري زموږ دمشر په غوښتنه یې دا کار کړی ،دی یوائې ډاکتر نه دی زموږ سره یې په ګڼو عملیاتو کې هم ګډون کړی، ده د ډېرو ټپیانو علاج کړی خو عجیبه داده چې ته مو کله ورته راوړې نو ستا په لیدو یې په سترګو کې اوښکې راډنډ شوې.

اوښکي ؟

ادریس ځواب راکړ

هو ما چې ترې وپوښتل ویل یې چې زما یو ورور کټ مټ ده ته ورته دی چې اوس په مصرکې بندي دي او زموږ خپلوان وایي چې دالقاعدې او نورو سره دنږدې اړیکو په تور اعدامیږي او که اعدام شوی.

دمحمدابراهیم او صفي الله ترمینځ زره فرق هم نشته ، دهغه مینه مې پرې ماته شوه ،ځکه مې اوښکې تویې شوې ، هغه زما دماشومتوب ملګری و، ښه وختونه مو سره تېر کړی زه یې هرشپه په خوب کې وینم چې ددار په سر ولاړ وي او راته خاندې ، هغه وایي چې کاشکې خپل وطن ته تللی شوی او یو ځل مې دمحمد ابراهیم او یاد دهغه دمزار دیدن له کلونو وروسته کړی وی.

ماته تر ټولو حیرانوونکې دهغه روانه خو عربي غونډې درنه او په حلق کې نښتې پښتو وه چې زه پرې له اوله شکمن وم ، ادریس ته مې وویل

نو پښتو یې عجیبه نه ده ؟

ادریس وخندل

هو که هغه ماته نه وی ویلي چې مصری یم نو ما به هم پرې دکوم کابلي پښتون ګومان کاوه ، خوشکر دی چې دهغه دوروری او ملګری ویاړ مې نصیب شو، هغه په تېرو کالونو کې پوره سمه پښتو زده کړې، دپېښوریانو غونډې خبرې هم کړلی شي خو دلته سم دم کندهاری ترې جوړ شوی، همدا اوس چې مور په کې یو دهغه کور دی ، څو کوټې یې دملګرو علاج ته ځانګړې کړې او په ټوله سیمه کې دکابلي ډاکتر په نوم مشهور دی خو ته پوهېږې چې هغه پیسو او ډاکترۍ ته هېڅ اړتیا نه لري.

مور لا په دې خبرو کې وو چې دروازه خلاصه شوه او ډاکتر عبدالوهاب ددوا له یوې کڅوړې سره راننوت، په شونډو یې دورخطابۍ او وېرې په ځای ښکلې موسکا خوره وه ، زما په تندي یې لاس کېښود او په خبرو شو

ماشاالله روغ شوی یې، ما وړاندې ویل چې ټپونه یې کاري نه دي، یوازې زړه یې اچولی او وینه یې زیاته بهېدلې ده.

زه په ځای کې ناست وم او له زړه نه مې دهغه لاسونه ښکل کړل ، خو هغه له دې کار نه منعه کولم او زما په تندي یې شونډې راکېښودې.

صفي الله وروره ! خدای به دې روغ جوړ کړي، نور ښه شوی یې، ادریس ورور درته زیاته وینه درکړه، دوینې ګروپ یې درسره برابر و، کور ته مودې هم احوال ورکړی،هېڅ تشویش مه کوه ،انشاالله تر سبا پورې به بېرته خپلو ملګرو او یا کورنۍ ته ورشې، خو ادریس ورور وایي چې دا لرې او نږدې ساحې ترڅارنې لاندې دي ، الوتکې هم ښکاري او په ښار کې ستاسې وروستۍ بریا خوله په خوله ګرځي.

دا خبرې یې وکړې او بیا دهغه بل ناروغ خواته ورغی چې په خرنده خوب اوده و، په دېوال راځوړنده پرده یې پورته کړه ،ددوا بوتلونه اېښي وو، خپله وړوکې کڅوړه یې ورکېښوده.

ادریس ترې پوښتنه وکړه

ښار ته تللی وې عبدالوهاب صیب ؟

تر ژبه لاندې ځواب یې راکړ

هو يوځه دارو درمل مې په کار وو او يو څو اېملونه مې هم ځواب کړل.

ادريس ترې پوښتنه وکړه

اېملونه ؟

هو له قاهرې نه يو څو اېملونه راغلي وو، دا يوه اونۍ مې اېمل نه و چک کړی، خو ښه شوه چې اوس هم وخت په لاس راغی.

زه له کټ نه پاڅېدم ،دوی دواړو چې زما په پاڅېدو اعتراض ونه کړ، نو ايله مې پام شو چې په څو نورو ځايونو کې مې هم پټۍ لګېدلې، دګروپ نور ملګري مې په ذهن کې وګرځېدل،چې ګڼ کسان يې اوس زمونږ په مينځ کې نه وو، زړه مې درد وکړ، خو زمونږ لارې او منزلونه له دې نه هم ستړي او لرې وو، د دېوالونو په مرسته له دروازې ووتم ، مخ پورته په تنګه کوڅه کې  وړې وړې زينې ختلې وې ، زه ايله اوس پوه شوم چې موږ په يوه زېرزمينۍ (ځمکتلي ) کې يو، ادريس هم راپسې راغی او شېبه وروسته يې يوې وړوکې حويلۍ ته اوچت کړم ، قدم وهل مې پيل کړل ، داسې مې احساس کړه لکه درې ورځې پرلپسې خوب مې چې کړی وي، ځان راته روغ جوړ ښکاره شو او ادريس هم راته وخندل

تکه داخو روغ جوړ يې، ماشاءالله سبا به بېرته مخ په سنګر ځې له خيره.

ده په مخ کې خوښۍ ځرکونه وهل خو زما مخ ته دعبدالوهاب دقربانۍ او ايثار غرونه ولاړ وو او هغه درې تېرې ورځې مې په ذهن کې تېرېدې چې زه تپي پروت وم او هرڅه مې دده په غاړه.

له دې ورځې وروسته مې کومه ستونزه نه درلوده، ډاکتر عبدالوهاب راته يواځې داحتياط کولو سپارښتنه کړې وه، دهغه سره مې په بيا بيا څوځله ليدنه وشوه ، راته ويل يې چې مرمۍ دې په هډوکي نه ده لګېدلې کنه لاس دې پرې کېده دده په دې خبرو به مې  داسې احساس کاوه چې  روغ جوړ يم، کله کله به يې ټوکې راباندې وهلې او ګوډی به يې راته ويل، خو زه پوهېدم چې هغه په ما دخپل ورور مينه ماتوي، دهغه مشر ورور محمد ابراهيم کلونه وړاندې پېښور ته تللی و او بيايې وروسته ډېر بد بد احوالونه راتلل او د اعدام اوازه يې هم راغلې وه .

ماته به يې اکثره وخت دمحمد ابراهيم په نامه غږ کاوه، په لومړيو کې زما پام نه و  خو وروسته ورسره بلد شوم چې هغه دا نوم زما لپاره اخلي او په ماهم ښه لګېده.

دا ريښتيا ده چې له زړه نه زړه ته لار وي، لکه ځرنګه چې زه عبدالوهاب ته ګران وم ،هغومره دی هم زما په زړه کې ناست و او دده په نشتون کې به مې د ناارامۍ احساس کاوه

،که به له ملګرو سره کومې خواته تللی وم یا به دی تللی و، نو په مخابره یا مبائیل به یې راسره اړیکه نیوله او ابراهیم به یې راته ویل.

ځوځله مو په ګډه هم دبهرنیو سرتېرو په کاروان عملیات ترسره کړل، دکمین او جګړې په ډګر کې داهم راته معلومه شوه چې هغه یواځې د ډاکترۍ او دارو درملو مېړنی نه، بلکې دټوپک او جنګي تاکتیکونو زمری هم دی او باید ووایم چې ډېر څه مې په جګړه کې هم ورنه زده کړل، یو بل مهم ټکی یې دا و چې کله یې هم دکورنیو عسکرو په وړاندې عملیاتو ته زړه نه ښه کاوه او په داسې مهال به یې یواځې دټپیانو درملنه او په سختو لارو دلېږدولو دنده په غاړه اخیسته، خو که به دملګرو له خوا مجبور شو نو بیا به یې په نه زړه تګ یواځې ما حس کولی شو، ډېر ځله زموږ دملګرو مړي هم په میدان پاتې کېدل او موږ به دبمبار له وېرې په دې نه توانېدو چې په وخت یې له ساحې وباسو، که څه هم په داسې حالاتو کې به موږ عادي وو، معمولي خفګان به مو په څېرو کې و خو دهغه له سترګو به ښکاره اوښکې روانې وې ،دا اوښکې به شاید چانه شو حس کولی خو هغه چې په ما دخپل ورور ابراهیم تنده ماتوله نو ځکه مې له نورو ښې حس کولی شوی، دلته نور زما سره دا احساس نه و چې هغه دکوم بل هېواد دی، بس داسې مې ګڼله چې هغه هم زما ورور دی یواځې زه نه بلکې زما هربل ملګری چې زموږ سره دجګړې دکاروانونو ملګری وي دهغه ورور دی.

له دې ورځې نه مې وروسته له عبدالوهاب سره ګڼ مجلسونه وکړل او داسې وخت به هم راغی چې په شپو شپو به مو خبرې سره کولې، په دې دومره موده کې یې راته ددرملنې او ګڼو دواګانو نومونه هم زده کړل او کله کله به مې دجګړې له کرښو دراغلو ټپیانو ټپونه هم تداوي کول او له عبدالوهاب سره به مې لازمه مرسته کوله، هغه نور ماته صفي الله نه ویل دابراهیم په نامه به یې غږ راپسې کاوه، زه که څه هم لومړی ددې نامه په اخیستو نه ځیر کېدم خو وروسته پوه شوم چې هغه په همدې نامه په ما دخپل ورور ابراهیم تنده ماتوي چې اوس هلته لري دهغوی په هېواد کې دی او ده به یې تل یادونه کول، زه پوهېدم چې ددې نامه په اخیستو دهغه په زړه کې څه تېرېږي ،ما هم نور داخپله زمه واري ګڼله چې هغه ته دخپل ورور مینه ورکړم او کله هم دهغه دنشتون احساس و نه کړي، هسې خو ده نیږدې ټوله کورنۍ له لاسه ورکړې وه او دی هم له خپل پلرني وطن نه دتل لپاره محروم شوی و او د یوه بې ځالي مرغه غوندې ژوند یې درلود.

چې کله به وزګار و او کوم کار به یې نه و او یا به له وېرې په ښار کې غلي غلي ګرځېدو نو تل به مې هڅه داوه چې له هغه نه ببلابېلې پوښتنې وکړم، که څه هم هغه په ژوند کې دردېدلی و خو یوه ورځ یې هم دناهیلۍ خبرې ونه کړې، تل راتلونکې ته هېلمن و، دعبادت وخت یې نه ضایع کاوه، په وخت لمونځونه، ذکرونه او تسبیح ویل دهغه عادت وو او کله کله

به يې دپخوانيو غازيانو او کېسو تر تاثير لاندې دومره راوستی وم چې يو اځې هو هو به مې ورته ويل او يو څه به مې ترې زده کول.

يوه ورځ يې راته وويل چې غربي هېوادونه او ياپه ټوله کې غير اسلامي هېوادونه که څه هم دومره لوی نه دي او واړه واړه دي خو دبېلا بېلو ټولنو او اتحاديو په جوړولو سره يې لوی لوی قدرتونه جوړکړي دي خو ددې برعکس بيا اسلامي هېوادونه دعثماني خلافت له ړنګېدو وروسته دوېشلو په حال کې دي، نه يواځې چې ترمنځ يې کوم اتفاق نه شته بلکې ورځ په ورځ په کوچنيو برخو وېشل کېږي چې ښه بېلګه يې دسوډان تجربه ده چې دلکونو انسانانو له وژل کېدو وروسته بياهم نه يواځې چې سره يو نه شو بلکې په دوو لويو ټوټو ووېشل شو.

زه پوهېدم چې نه دهغه عمر دومره زيات دی او نه يې دومره زده کړه کړې خو هرڅه يې دمطالعې له لارې زده کړي دي او په ډېر څه پوهېږي، دهغه هيلې به لوړې وې خو له خپل وطن نه په پردېس کې اوسېدو، دخپلې کورنۍ په يادونو کې يواځې او لالهانده ګرځېدو؛ خو دې ټولو له خپلو هيلو څخه نه وو لرې کړی .

زما ډېر زړه ورباندې دردېده خو ده يوه ورځ هم دخپل دغه يوازېتوب نه راته شکايت ونه کړ او ويل به يې چې په ټول افغانستان کې ملګري لري او هر وسله وال طالب يې ورور دی خو کله به مې چې په ټوکه کې ترې وپوښتل چې زه ؟

نو ده به هم وخندل او راته ويل به يې:

ته، ته خو زما دزړه ټوټه ګران ابراهيم يې، که خدای ته منظوره وه او په ژوند کې يوازې څو داسې شېبې هم راغلې چې هغه په کې وګورم نو ته به يې خپله وګورې چې دصفي الله او ابراهيم تر مينځ به يوه زره فرق هم نه وي، خو که اوس دمصر پوځي محکمو هلته زموږ دنورو ملګري په څېر پرې دوزخي ورځي شپې راوستي وي نو شک نشته چې وخت به دهغه ښکلې څېرې ته هم بدلون ورکړی وي او هغسې به نه وې چې زه يې په خوبونو کې وينم؛ خو زما په سترګو کې لا هماغسې ښکلی ښکاري او اوس هم حس کوم چې دواړه زما دخورماوو په بڼ کې لوبې کوو او يو بل مو پسې اخيستي وي،هغه ډېر ښکلی خوب و خو ډېر لنډ او بې تعبيره و، زما پلارجان به ماته ډېره پاملرنه کوله مور به مې چې کومه اونۍ دهغه دپوښتنې لپاره زندان ته وتللو نو تل به يې اول زما پوښتنه ترې کوله او وروسته به يې ابراهيم ورته يادوه چې دا به دهغه دغوسې سبب شو او کله کله به يې زه هسې په نه خبره په سوکانو او لغتو وهلم ،په همدې خبرو کې به يو ځل ژړغونی شو په لوړ غږ به يې ويل

نه نه ابراهيم خو اوس نشته، دهغه د اعدام خبر خو پخوا راغلی، هغه شهيد شو، يوازې دمزار ليدل يې زما ارمان دي.

کله کله به دهغه دا خبرې ماته دومره په زړه پورې وې،  چې تر ډېره به مې دخبرو په منځ کې دځان ورغورځولو هڅه نه کوله  او زه به هم ورسره  په خیال کې ډېر لرې یوه پردې وطن ته تللی وم ، دا هم یو تصادف و چې زه په کمین کې ټپي شوم او درملنه مې ده وکړه، زه پوهېدم چې هغه ته زموږ دا ډول ډېر ملګري راوړل شوي ،درملنه یې کړې او بیا تللي دي خو داچې زه  ورسره  دومره  پاتې شوم او بیا سره تر څو میاشتو جدا نه شوو ؛ نو زه به هم حیران وم ، ده به که هر څه پخپله دخپل ژوند او کورنۍ په اړه وویل نو ماته به معلومات وشو، خو کله یې هم زما دکړو پوښتنو ځوابونو ته زړه نه ښه کاوه او ځان به یې هسې او داسې تېر ایسته ، چې اکثره وخت به دا مهال ددارو درملو او دتېرو جګړو یا زموږ دهغو ملګرو کیسې راغلې چې اوس زموږ په مینځ کې نه وو.

یوه ورځ ماسپښین مې پلار لږ ناروغ و، عبدالوهاب ته مې زنګ ووهه چې سپین ږیری پلار مې لږ ناروغ دی چې یو ځل یې دې معاینات کړي وی.

هغه راته وویل چې همدا شېبه زه هم په معاینه خانه کې یم او راځه همدلته یې راوله ، زه به یې هم په دیدن مشرف شم، پلار ته مې وویل،هغه هم راسره ومنله او یوه سراچه مې دربس کړه ،نږدې یو ساعت وروسته ور ورسېدم ، په معاینه خانه یې ګڼه ګونه وه او خلک په لیکه ورته ناست وو، همداسې عادي سترې مشي مې ورسره وکړل خو په سترګو کې یې دروند هرکلی راڅخه وکړ، په داسې وخت کې موږ ته ویل شوي و چې باید ځان بیخي سره نااشنا وښیو او څوک راباندې پوه نه شي چې ګني موږ سره شناخته یوو، ځکه ده ویل چې اکثره وخت ورته دحکومت کسان هم یوازې او یا له کورنیو سره دمعایناتو لپاره راځي او ټولنیز نزاکتونه هم دا نه ایجابوي چې دکار په وخت دې له چاسره مجلس وکړو ،هسې هم دا معاینه خانه( لابراتوار) او په څنګ کې یې وړوکی درملتون چې اوس ورسره زه هم همکار وم، زموږ دملګرو لپاره داړیکې او لیدنو مرکز و او چا راباندې شک نه کاوه عبدالوهاب دلته دخلکو په مینځ کې دکابلي ډاکتر په نامه مشهور و او چې کله به له ملګرو سره دجګړې میدان ته تللی و او یا به  مشرانو کوم بل کار ور وسپاره نو ټولو ناروغانو به ویل چې کابلی ډاکتر کابل ته په رخصتۍ تللی ، ډېرو  ورته وړاندیز هم کړی و  چې خپل کور له کابله دلته راولي خو یو څو ځله ما په خپله ولیدل چې ددې پوښتني په مهال به یې په څېره کې دخفګان نښې خورې شوې او خبره به یې هسې په بله واړوله ،یوازې ما حس کوله شوه چې عبدالوهاب له دې پوښتني کله کله څومره زړه خوري او کمزورې بهانه رامخکې کوي.

له پلار سره مې یې پوښتنه وکړه او نوبت ته انتظار ، له پنځم کس نه  وروسته چې یوه زړه ښځه وه زموږ نوبت راغی او معاینه یې وکړه ،زر یې دوا  راکړه په مېز مې پیسې ورته

کېښودې خو هغه یو ځل په خبرو لګیا ناستو کسانو ته وکتل او بیایې پیسې زما په جیب کې په زور راتخته کړې.

بس کړه،دابې عقلي مه کړه، ابا ته مو مه شرموه ، ورځه ابا دې رخصت کړه او له تاسره یو ځو خبرې لرم، همداسې مې وکړل، پلار مې په موټر کې کښېناوه او ما ورته دڅه کار وویل، بېرته راغلم او ورسره کېناستم ، که څه هم ناروغان زیات و خو شېبه پس ټول خلاص شول او یو څه ارامي شوه، له مېز دې خواته راغی کلکه غېږ یې راکړه بیایې په مبایل کې یو نمبر راوښوده او زیاته یې کړه

زنګ یې راته وهلی و، ویل یې چې معاینه خاني ته یو کس درځي حتما ورسره وګورئ.

شمېره راته اشنا وه او هغه نمبر و چې موږ به له خپلو مشرانو سره پرې اړیکه نیوله،عبدالوهاب له دې نه پرته بل څه ونه ویل او زما په څېر نور هغه هم نه پوهېده چې څوک به راځي، خو بېرته په کار لګیا شوو ، دوه که درې کسه راغلل، معاینه یې وکړه او رخصت یې کړل ، په دې معایناتو ګټلې پیسې که څه هم دعبدالوهاب حق و، خو ده به اکثره پرې ملګرو ته بوټونه، جامې او دمبایل کارتونه اخیستل او ویل یې چې دا یوه پیسه به هم جیب ته نه کړم او نه هم ورته اړتیا لرم ، شېبه پس یو بوډا راغی چې ستونی یې کلک نښتی و او خپ غږ یې وه ، ده یې معاینه وکړه چې په دې کې یو بل دپوخ عمر سړی او ورسره یو پنځلس یا شپاړس کلن ښکلی هلک چې تازه ږیره یې وه ، هم راننوتل ، دپاخه عمر خاوند سترګی او ستومانه معلومېده ، په اوږده او ګڼه ږیره کې یې تور او سپین تارونه سره مساوي وو ، ده ورسره سترې مشې وکړل او ځنګ ته دلرګي په اوږده څوکۍ یې ورته دکېناستو اشاره وکړه ، خو موږ همغسې په خبرو وو، کله چې ناست کسان خلاص شول او عبدالوهاب لږ وزګار شو ، همدغه کس ته یې وکتل او پوښتنه یې ترې وکړه

تاسې څه تکلیف لرئ ؟

دپاخه عمر خاوند شا وخوا وکتل

هو خو د هر تکلیف اوناورغی په وړاندې باید شهامت ولرو

عبدالوهاب دشهامت کلمه له ځان سره تکرار کړه او یو څه جدي شو، زر دمېز له شانه راروان شو او راغلی کس ته یې یو ځل بیا ټینګه غاړه ورکړه ، له سره یې ورسره روغبړ وکړ او بیایې ماته وکتل.

ابراهیمه وروره !

دابراهیم له نامه سره یې تندی یو څه وغوړېده او بیایې خبرو ته دوام ورکړ:

دا همغه کس دی چې ماته یې په اړه احوال راغلی و ، شهامت هسې زمونږ تر منځ دپیژندلو لپاره شفر ټاکل شوی و، ناروغي دې خدای له ټولو ملګرو لرې لري ، بیایې زه هم ورته معرفي کړم ، دپاخه عمر خاوند هاخوا دېخوا خبرې وکړې ، ورسره ناست ځوانکی یې هم معرفي کړ ، عبدالمنیر نومېده ، لهجه یې دکندهار دخلکو په ځای تر ډېره دکوټې خلکو ته ورته وه ، زمونږ دپوښتنو له ځواب راکولو پرته به یې نورې خبرې نه کولې ، غلی به ناست و.

دپاخه عمر خاوند سلام خان نومېده ، له ما نه چې ډاډه شو چې زه هم د دوی سره دیوې لارې ملګری یم نو په خلاص زړه شا و خوا ډېر وغږېده ، هغه کوم جنګي سړی نه و ، یوازې داربتاطي دنده به یې اجراکوله ، له څه خبرو وروسته یې له عبدالوهاب نه دسرخوږو یو څو ټابلېټه واخیستل او په بیا بیا یې ورته دناست ځوان عبدالمنیر د ساتلو سپارښتنه کوله.

موږ تر یو څه وخته په معاینه خانه کې ناست وو او بیا هغه کورته روان شوو چې عبدالوهاب به په کې اوسېده ، ددغه کور ډېرې الماری دهغه له کتابونو او دواګانو ډکې وې ، ما که څه هم په ډېرو جګړو او برېدونو کې برخه اخیستې وه ، مړي ، ټپیان او ټوټې ټوټې جسدونه او ټپیان مې له نږدې لیدلي و ؛ خو دعبدالمنیر دکیسې په اورېدو مې غونې زیږ شو.

دغه اولس کلن ځوان چې نوې نوې ږیره یې راغلې وه ، ځانمرګي برید ته چمتو شوی و او تر مناسب وخته یې ساتنه عبدالوهاب ته سپارل شوې وه ، چې باید پام پرې وکړي او دخلکو له نظره یې لرې وساتي چې له چاسره یې خبرې ونه شي ، عبدالوهاب هم دده په لیدو په لومړیو کې همغسې عادي و خو دهغه دکیسې په اورېدو یې په څېره کې دخپګان نښې خپرې وې.

که څه هم ماته یې څه نه ویل او زه پوهېدم چې څه بدلون په کې راغلی.

عبدالمنیر دزابل دمیزانې ولسوالۍ و خو کډه یې پخوا کوټې ته تللې وه ، هلته یې پلار سوداګري کوله او درختونو دوکان یې درلود، عبدالمنیر یې مشر زوی و او له ده نه یې مشره یوه لور وه ،خو نارینه اولاد یې یوازې همدی و ، او وروسته نو خدای پاک ټولې لورګانې ورکړې وې چې دی هم له ژونده راضي و.

له سیاست او سیاسي کارونو لرې سړی و، یوازې په راډیو کې به یې خبرونه مبرونه اورېدل او د خپل هېواد له حالاتو به یې ځان خبراوه ، چې ډېر خبرونه به ورته غموونکي وو ، تل ځانمرګي بریدونه ، حملې ، چاودنې ، جګړې او چاپې چې هم بهرني سرتېري، حکومت او طالبان په کې ښکیل وو او ملکي خلک په کې وژل کېدل ، خو له تېرو شپږو میاشتو راهیسې

یې دلومړي ځل لپاره له داسې څو کسانو سره ملګري شوه چې د وسله والو طالبانو سره یې خواخوږي وه ، عبدالمنیر ویل چې دوی اول دجامو لپاره رختونه اخیستل او پلار مې ورڅخه یو څه کمې پیسې واخیستې چې له همغه وروسته یې سره انډیوالي شوه او تل به یې له موږ نه سودا کوله ، له هغوی سره به یې مجلسونه او کیسې کولې.

یوه ورځ مې پلار ویل چې ته زما یوازینی زوی یې ، غواړم چې نور په خپل لاس کوږده درته وکړم ، ما څه ونه ویل ، پلار مې ویل چې زما یو دوست دی ښکلې لور لري ، همغه به درته وکړم ، خبره مې ورسره کړې او راضي کړی مې دی.

موږ لا په دې خبرو کې و چې همغه دوه کسان چې دپلار ملګري مې ورسره وه دوکان ته راننوتل ، پلار مې هم دا خبره له هغوی سره شریکه کړه ، خو هغوی یو بل ته وکتل هېڅ خوښي یې نه ښوده او نه یې نظر ورکړ، خو له دې ورځې نه وروسته یې ټولې خبرې زما په اړه وې ، دیوې میاشتې په جریان کې مې پلار له دې خبرې تېر شو ، له هغوی سره به یې کله کله دشپې هم خبرې کولې ، مورجانې او مشرې خور به مې تل پلار ته وریادوله چې ولې له خپلې خبرې تېر شو، خو پلار به مې ویل چې لا وخت شته ، هلک باید یو څه زده کړي ، چې پوه او عالم شي.

یوه ورځ مې پلار راته ویل چې ته باید زما له دې ملګرو سره لاړ شې، هلته به ډېر څه زده کړې، دیني تعلیم به دې بشپړ شي ، بیا ستا خوښه چې واده دې څه وخت کاوه ، له ماسره اوسېدې او که همدلته دې درسونه مرسونه یا اوستازي ( استادي ) کوله ، غاړه مې درباندې بندیږي ، ته باید ډېر څه یاد ولرې ، یوازې خو دوکانداري هنر نه دی.

دا وخت زما تازه ږیره راغلې وه ، هر ځل به چې په اینه کې راته لږ غوندې توره ښکاره شوه نو پاکې به مې پرې راکش کړه خو له دې وروسته مې پلار راته ویل چې ګوتې به نه پرې وهې استاد دې خفه کیږي.

ما ویل کوم استاد ؟

ده ځواب راکړ

همغه زما ملګری به نور ستا استاد وي او درس ته به ورسره ځې ، هره جمعه به دې له خیره کور ته رالیږي ،هلته به دې نور هم ستا غوندې ملګري وي او ساعت به دې تېروي ، یوه شپه یې په کور کې هم دا خبره وکړه ، خو مور او مشرې خور مې ویل چې موږ دده تعلیم ملیم ته اړتیا نه لرو او نه غواړو چې له موږ نه لرې وي ، خو پلار مې ویل چې زما زوی دی ، زه غواړم زده کړه پرې وکړم ، تاسې په دې نه پوهیږئ.

دوې اونۍ وروسته چې دشپې په کور کې ناست و نو پلار مې همدا خبره یاده کړه او مور ته مې یې ویل چې سبا ته به سالم جان له خیره له خپل استاد سره لاړ شي ، په همدې شپه یې له زیاتو نصحتونو څخه وروسته راضي کړم چې نور په تعلیم پسې لاړ شم.

دهمدې شپې په سبا مې پلار یو څه روپۍ راکړې، مور او خویندې مې خپه وې ، مور مې دعا کوله چې خدای (ج) دې لوی عالم کړه ، مشرې خور مې صبر ونه کړ او په چیغو چیغو یې وژړل ، له کوره ووتم ، څه مې نه ویل په دوکان کې خپل استاد ته په انتظار وم ، پلار مې چې یو ساعت به یې هم له ځانه نه لرې کولم ، یو ساعت وروسته راسره مخه ښه وکړه ، په مخ یې ښکل کړم او په څېره کې یې بې ساري خوښي په څپو وه.

له هغوی سره روان شوم، پلار مې په دوکان کې یوازې پاتې شو، استاد او بل ملګري یې راسره په خوښۍ او نرمۍ خبرې کولې ، تر یوې اونۍ په یوه او بل کور کې وم ، نه کوم ښوونځی و او نه هم مدرسه ، ماهم هېڅ نه ویل ، پلار مې دوه درې ځلې زنګ را وواهه ، هغوی به تلېفون ماته راکړ او ډاډ به یې راکاوه چې زړه مه تنګوه او خپګان مه کړه دا دثواب او خیر لار ده چې تکړه اموخته شې ، له خپلو ملګرو او همزولو سره چې له خیره یو ځای شې نو هر څه به دې هېر شي ، هره اونۍ به له خیره خپل کور ته ځې ، دویمه اونۍ ایله یوه مرکز ته لاړو او راته ویل یې چې دلته به درس وایې ، خو عجیبه دا وه چې هلته تر کتابونو وسلې ، دسپورت او ښو ویشتلو ځایونه ډېر وو چې زه یې هم حیران کړم.

هلته له رسېدو سره مې بیا همغه دوه کسه چې ما ورته استاد ویلو بیا ونه لیدل ، یوه بل کس ته یې وسپارلم چې نوراني څېره او سپینه اوږده ږیره یې لرله ، زړه راښکونکې سترګې او موسکه څېره یې وه ، نوم مې یې په یوه ځانګړې لېست کې ولیکه ، راته ویل یې نوم دڅه دی ؟

ما ورته وویل

سالم جان

دپلار نوم ؟

عبدالله جان

هغه لږ په سوچ کې شو او وروسته یې عبدالمنیر ولیکه او په همدې نامه یې غږ راپسې کاوه ، راته ویل یې چې نور ستا نوم همدا دی او ماهم څه نه ویل.

چې یوه میاشت پوره شوه ، هره اونۍ وروسته به مې پلار دمرکز دیوه استاد په تلېفون ډاډینه راکوله ، دمور او مشرې خورجانې ژړا ګانې به مې اورېدلې ، ماته یې ویل چې تا تیلېفون له درسه باسي.

خو ورو ورو اړیکې کمېدلې ، کله به له سپورت او تمرین ستړی وم ، او کله به داستادانو ویناګانو او خبرو کورنۍ څه چې ټوله دنیا راڅخه هېره کړې وه ، نور نو نه زما کورنۍ احوال اخیسته او نه مې پلار ته زما دځای ځایګي په اړه معلومات و ، خدای خبر چې دمور او خورګانو به مې څه حال درلود ؟

نور نو راته دهغوی یوه خبره هم د ردولو نه وه ، هر څه به مې په ډېره مینه منل ، زه اوس پوه شوی وم چې پلار مې ټول عمر دلته له راتلو وړاندې هسې عبث راباندې تېر کړی دی ، هغه څه چې هلته مالیدلي او زده کړي اوس یې ویل ډېر وخت غواړي ، او اجازه هم نشته چې تاسې ته یې ووایم، له شپږو میاشتو تېرولو وروسته یې له یوه کس سره دلته را واستولم ، ما له خپلو استادانو سره ژمنه کړې چې ځان به قربانوم ، چې تېر ګناهونه مې معاف شي او په جنت کې لوړ مقام راکړي ، پلار مې راته په دې وطن کې کومه پېغله کوله خو مشران مې پر ما له هغه نه ډېر مهربانه وو ، له یوې پېغلې یې وژغورلم او په جنت کې یې مقام راکړ

هلته به....

نورې خبرې به یې بس کړې او پاتې کیسه به یې پرېښوده ، خو کله کله به یې خورجانه خورجانه کلمې تکرارولې او ژړغونی به شو.

عبدالمنیر په همغه کور کې چې عبدالوهاب په کې اوسېده ورو ورو بلدېده ، هغه ورته یوه کوټه وښوده چې په کې اوسېده او بهر ته ورته دوتلو اجازه نه وه، که څه هم ما دومره مهمه نه ګڼله خو عبدالوهاب هره شېبه په اندېښنه کې و چې زر تر زره دغه ځوان له دغه ځای نه بوځي او ده ته کومه ستونزه جوړه نه شي.

ما به هم کله کله ددغه ځوان دکورنۍ دمور، پلار او خورګانو په اړه فکر کاوه چې له تېر نېږدې یوه کال راهیسې به دخپل یوازیني نازولي زوی په اړه څه فکر کړي ، که څه هم له پلار سره به یې دا اندیښنه نه وي خو مور او خور به یې هره شېبه د راتلو په انتظار وي ، خپل پلار به یې محکوموي ، دخپل زوی سالم جان لپاره بې یې چې اوس په عبدالمنیر بدل شوی خوښه کړې ناوې همغسې په زړه ارمان پاتې وي، کله کله به دهغوی دې ارمان دومره اثر راباندې وکړ چې ژړا به راغله ، خپله مور، خور او ښځه به راته سترګو ته ودرېدل ،

یوه شپبه مې سترګې پټې کړې او سوچ به مې وکړ که کومه ورځ له کومې جګړې ، برید او بمبارۍ نه ژوندی راستون نه شم یا ژوندی ونیول شم ؛ نو زما له نشتون پرته به یې څه حال وي ؟ په خپل لومړني ماشوم چې دوه میاشتې وروسته دې نړۍ ته راته نوم څوک او څه ږدي ؟ داټولې پوښتنې به مې په ذهن کې وې ، خو بیا به مې چې خپل هغه ملګري چې اوس زمونږ په مینځ کې نه وو او نه یې قبر او جنډه معلومه وه ، رایاد شول، نو بیا به مې یې دغه فکر کمرنګه کړ او هوډ به مې بېرته غښتلی شو.

ما به لیدل چې کله کله سعد عبدالوهاب کور ته وغوښتم او راته ویل به یې چې ابراهیم مې یاد شوی نو عبدالمنیر به مې هم دخپلې کوټۍ له کړکۍ نه لیده چې غلی به ناست و، او دکوټې په دور به یې دنړۍ لګېدلې سیاسي نقشې ته کتل ، خو خدای خبر چې خپل هېواد به یې هم په کې پیدا کړی و کنه ، ځکه نقشه دومره لویه او روښانه نه وه او ده هم له ډېر لرې ورته کتل، درس او تعلیم یې هم دومره نه و.

عبدالوهاب هم ویل چې ډېر غلی هلک دی، په بار بار یې دښه ساتلو سپارښتنه راته کېږي خو نه پوهېږم چې هغه به ترڅو دلته پاتې وي ، زه خپله هم ورسره خبرې ډېرې نه کوم ، او له خاله ( اشپزه ) نه یې هم له خبرو منعه کوم، کله کله یې راسره معاینه خانې ته بیایم او دشاګرد غوندې راسره لیګا وي ، یوه ورځ یې راته ویل چې ډاکترصیب ته دې مشرې خور ته ګران یې کنه ؟ زه یې هم دې خبرې ته تعجب شوم ، خو وروسته پوه شوم چې مشره خور یې ورته یادېږي ځکه چې دده دکیسې له مخې یې دی ډېر نازولی رالوی کړی و او حق یې هم و دګنو لور ګانو په مینځ کې دخپل پلار یوازینی هلک و .

+++++

یوه ورځ چې فکر کوم پنجشنبه وه، همداسې ناوخته معاینه خانې ته ورغلم، هغه ډېر بوخت و، زمونږ څو ملګري هم ورسره ناست وو او داسې کسان هم وو چې ناروغان یې لرل، ما هم ځان هسې عادي وښوده او ملګرو ته مې ښه راغلاست وویل لا ناست نه وم چې عبدالوهاب څنګ ته ور وغوښتم او بیایې په یوه پاڼه کې وړوکی لېست له څه پیسو سره راکړ راته ویل چې دا دوا خلاصه شوې او ورته اړتیا ده ، ښار ته لاړ شه او چېرته دې چې په ارزانه بیه پیدا کړه را یې وړه.

زه هم لاړم خو په ښار کې دګنه ګونې له امله راباندې یو څه ناوخت شوه او دماښام لمونځ په قضا کېدو و چې بېرته دوا خانې ته راغلم ، ټول خلک تللي وو دوا مې ورته وسپارله او کور ته مې دتلو اجازه ترې وغوښته خو هغه کلک شو ویل یې چې نن شپه نه شې تللی له ما سره به مېلمه کېږي سباته هسې هم جمعه ده که مشرانو کومې خواته ونه غوښتو یو څه ارام به وکړو.

ما نه غوښتل چې ورسره پاتې شم خو دهغه تر ډېر ټینګار وروسته یې مجبور کړم ، ورسره روان شوم ، نیم ساعت وروسته ورسېدو همغه خاله دروازه خلاصه کړه، هغه اشپزخانې (پخلنځي ) ته لاړه او موږ دده دهستوګنې کوټې ته ننوتو چې وړوکې کړکۍ یې درلودې ، دوه کټونه او دکتابونو یوه الماریۍ ورته نږدې ایښې وه، په وړوکی مېز دچایو ترموذ ، قهوه او پیالې ایښې وې په دېوال دې څو کسانو عکسونه راځوړند وو ، عبدالوهاب ویل چې زموږ دکورنۍ دي، نور یې تلوېزیون چلان کړ، دشپې داوو بجو خبرونو ته لا یو لس دقیقې پاتې وې ، دی پاڅېد یو ځل تشناب ته لاړ او وروسته یې ورسره عبدالمنیر هم کوټې ته راووست چې نوې جامې یې اغوستي وې او یو څه خوښ معلومېده.

عبدالوهاب ورته وویل

څنګه نوې جامې دې خوښې دي ؟

هغه په سړه لهجه ځواب ورکړ

هو ډاکتر صیب، ما خو درته وویل چې زه دیو څو ورځو مېلمه یم، جامو ته څه اړتیا ده ، همدا خپلې مې لا ښې دي ، نن وي که سبا درنه ځم.

عبدالوهاب بیا ترې وپوښتل

موږ لکه چې په دې دنیا کې دعمر قرار داد کړی که څنګه ؟

هغه دلومړي ځل لپاره وخندل او بیا یې ځواب ورکړ

بیاهم زموږ او ستاسې لارې فرق لري ، تاسې مشران یاست او دمشرانو خو ډېر کارونه وي، خو فکر کوم چې دا کور او معاینه خانه به دې دومره زر هېر نه شي کړی لکه ماچې خپله کورنۍ او دوکان هېر کړ

عبدالوهاب په ځای کې رانیغ شو

نه ګرانه، دا خو دملګرو دخدمت لپاره دي، چې کله ټېپیان شي نو څوک یې درملنه وکړي ؟ بل ځای یې که استوو خو نیول کېږي ، دا خو څه کوټه نه ده چې هر ځای دزړه غواړي هلته وګرځې او هر روغتون ته ناروغ ور وړې، ته لا پیدا نه وې چې ما له خپلې کورنۍ سره مخه ښه څه چې بیخي مې له لاسه ورکړې او خپل وطن مې پرېښی.

عبدالمنیر لکه په خپله خبره چې یو څه پښېمانه وي په شرمنده لهجه خپلو لاسونو ته وکتل

نه داسې مې نه ویل، ټوکه مې وکړه، خو زه چې څومره زر لاړ شم ، خوښ به یم ، هره شپه ښکلې خوبونه ګورم ، خدای تعالی دې ما په دې بریالی کړي چې دهغه رضا او دخپلو مشرانو هیله پوره کړی شم.

زه ددوی دخبرو ته ځير وم خو عبدالوهاب ساعت ته وکتل اوه بجې وې تلوېزيون يې چلان کړ يوه دقيقه تېره وه، دوړوکې تلوېزيون په ښېښه دوزيرستان کومه برخه ښکارېده چې دامريکا بې پيلوټه الوتکې له هوا نه ويشتې وه او له يوه کور نه دوړې اوچتېدلې ، دکور په انګړ کې ديوه موټر تر څنګ لس يوولس سوي جسدونه پيکه غوندې ښکارېدل او بيايې په هوا کې دوه سپينې وړوکې جاسوسي الوتکې وښودې چې په غرور سره په لوړه ارتفاع کې روانې وې زر يې انالله و انا اليه راجعون وويل، اوس دا کوم نوی خبر نه و، تل به همداسې خبرونه راتلل چې عبدالوهاب به يې ډېر ځورولو ، دې خبر هم بد تاثير پرې وکړ ،دتلويزيون ريموټ يې په دېواله وويشت او ډېره يې ووهله ،ورکوه يې ټول ظلم ،يوه ورځ به هم کوم ښه خبر وا نه ورې .

په کټ کې اوږد وغځېد ،له ستوماني يې سترې اسويلې کول او پوهېدم چې دغه خبر هم بد اغېز پرې وکړ، عبدالمنير ورپاڅېد تلوېزيون يې غلی کړ او په دې کې ور ټک ټک شو زړه خاله وه، دډوډۍ دتيارېدو يې وويل او نور يې رخصت واخيست ،لس دوولس دقيقې به وتلې وې چې عبدالمنير ويده شو، خرېده او دواړه لاسونه يې خواره غځولي وو، زړه مې پرې ونه کړ چې راويښ يې کړم، خو وروسته عبدالمنير ويل چې ډوډۍ خورو، هغه ډوډۍ راوړه، ما هم عبدالوهاب ورو وخوځولو او دډوډۍ خوړلو مې ورته وويل ، زر پاڅېده لاسونه يې ومينځل او له ډوډۍ خوړلو وروسته يې کوم کتاب را واخيست او پانې يې اړولې ،دشپې مې دخپل تګ ورته وويل خو هغه کلک شو او ايسار يې کړم ، عبدالمنير خپلې کوټې ته لاړ او زه له ده سره په يوه کوټه کې اوده شوم ، نيمه شپه به وه چې دچا په خبرو راويښ شوم او حس مې کړه چې په کوټه کې څوک خبرې کوي ، ورخطاغوندې په ځای کې را کېناستم ، تر بالښت لاندې تمانچې ته مې لاس کړ، خو چې ځان مې جوړاوه پوه شوم چې خبرې دې عبدالوهاب دي او په خوب کې له ځان سره ورو ورو څه وايي څو ځله يې له ځان سره دمورجانې او بيا دسعديې نومونه تکرار کړل په شونډو به يې موسکا خوره شوه او په اړخ به واوښت، زما خوب يې هم وتښتاوه او ده ته ځير وم ، دڅو دقيقو په جريان کې يې بيا بيا دسعديې نوم واخيست او بيابه غلی شو ، يو ځل مې زړه وغوښتل چې راويښ يې کړم، فکر مې کاوه چې کوم ويرونکی خوب ويني او شايد ووېرېږي خو بيا به مې ويل چې خفه نه شي، همداسې به يې پرېږدم ګوندې وي خپله راويښ شي ، نور نو زه هم ورسره عادت شوم، دهغه په اړه سوچونو واخيستم ، ډېر لرې مې يو څوک په ذهن کې انځور کړل چې دخپل زوی دورتلو شپې ورځې به شمارې په اړه به يې لارې څارې ، همداسې به يو بل څوک هم په يوه بل هېواد کې دشپې سرګردانه خوبونه ويني او د سعدعبدالوهاب نوم به اخلي، خو کله کله به مې ځان ملامت کړ چې سعديه به څوک وي ؟

هغه تر اوسه هم ماته دخپلي کورنۍ او ژوند په اړه له دې زيات څه نه وو ويلي چې ددوی پلار پخوا له قاهرې نه پاکستان او بيا افغانستان ته راغی او يوه ورځ يې مور ته چا احوال ورکړ چې هغه په مخامخ جګړه کې شهيد شو، دی ماشوم و، شايد له وطنه دراتلو او د پلار دمرګ بېلتون به يې نه وي حس کړی خو زه باورې وم چې هغه دردونه اوس هم دده په زړه کې لارې کولی شي ، محمد ابراهيم مې هم پېژنده او تر نورو مې ښه پېژنده ځکه چې خپله عبدالوهاب هم په ما دهغه تنده ماتوله او تل به يې راته ويل چې ته ابراهيم يې.

په سوچونو کې بېرته ويده شوم ، چې سترګې مې پټېدې نو دده په خوله لاهم دا او نورې کلمې تکرارېدې خو نور نو زه هم نه وم پوه شوی او سترګې مې پټې کړې.

سباته دجمعې ورځ وه، مور به معمولا په دې ورځ پلانونه جوړول او يا به له ملګرو سره عملياتو ته تلو ، خو سهار چې پاڅېدو نو دعبدالوهاب طبعه ښه نه وه له چا سره يې په تلېفون خبرې وکړې او له الماری نه يې قران شريف را واخيست له يو څو دقيقې تلاوت وروسته يې قرانکريم ښکل کړ، دعا يې وکړه او ماته يې وکتل

يا ابراهيم شپه دې څنګه وه ؟

له ځواب ورکولو سره مې بيا دهغه دشپې خوب، خبرې او د سعديې نوم وګرځېده، څو ځله مې زړه را غونډ کړ چې ورته ووايم او په دې اړه ترې پوښتنه وکړم ، خو بيا مې زړه ونه کړ ، هغه راڅخه بيا پوښتنه وکړه

خوب دې وکړ که څنګه ؟

څنګ ته يې يو څه ورنږدې شوم او دپوښتنې ځواب مې ورکړ

هو عبدالوهابه وروره بېخي ښه وم ، ښه خوب مې وکړ خو فکر کوم چې ستا شپه ښه نه وه او ډېر نا ارامه وې ؟

زما په دې خبره په ځای کی راکېناست ، ترڅنګ يې ايښې تمانچه را واخيسته او په ګوته کې يې تاوو کړه

هو، شپه مې ښه نه وه ،خو تا ولې داخبره وکړه ؟

هسې ما ويل ډېر پرېشانه وې

سوړ غوندې اوسېلی يې وکړ

هو ابراهيمه وروره ! رېښتياهم نن شپه ډېره درنه وه، بد بد خوبونه مې ليدل او څو ځله راويښ شوم ، ته خو به مې له خوبه نه وې ويستلی ؟

نه زه په اندیښنه کې وم ،څو ځله مې زړه وکړ چې راویښ دې کړم ؛ خو بیا نه شوه ما ویل رانه خفه به شي.

تمانچه یې ها خوا وغورځوله او یو څه موسک شو

نه دعبدالوهاب ورور دې په ډېرو لویو خبرو هم غوسه نه راځي وار خو دعادي خوبونو شو او...

ما یې خبره ورپرې کړه

ښه اجازه ده چې یوه پوښتنه درڅخه وکړم ؟

په زړه را ښکونتیا یې راته وویل

هو ولې نه ، سل پوښتنې خو وکړه

که شخصي هم وي ؟

هو نو ما خو ورور درته ویلي ، محمد ابراهیم نو اخر څوک دی ، وکړه

تا دشپې په خوب کې یو څه ویل ؟

څه مې ویل ،ته لکه چې ټوله شپه له ډاره ویښ وې او زه دې څارلم که له عبدالمنیر وېرېدلې چې کوم خوا لاړ نه شي

ورته ومې خندل

نه نه دا خبره نه وه او نه مې دعبدالمنیر په اړه کومه اندیښنه لرله ، هغه خوارکی خو هسې هم دڅو ورځو مېلمه دی.

ښه نو دڅه پوښتنه ؟

عبدالوهابه وروره ته ولې په خوب کې سرګردانه وې ، دسعدیې او محمد ابراهیم نومونه دې په بار بار تکرارول ، ابراهیم خو پېژنم ، خو سعدیه څوک ده !؟

عبدالوهاب په ځای کې رانېغ شو ، په رنګ کې یې یو څه بدلون راغی او دسعدیې نوم یې له ځان سره تکرار کړ،ویې خندل او دځان ډاډه کولو په خاطر یې بیا وویل

ما ریښتیا دا نوم اخیسته ؟

هو نو، کنه ماته څه معلوم و، دزړونو مالک خو یوازې الله دی.

څېره یې ببرته د پخوا غوندې یو څه جدي شوه او ماته یې وکتل

ابراهیمه ! نور نو هغه بیخي زما نوم (صفي الله ) هېر کړی و او یوازې همدا نوم (ابراهیم ) یې راته اخیسته،همداسې یې خبرو ته دوام ورکړ

ورور باید دورور له حاله پوره خبرې وي اوس خو خبره راغله او دادي په خوب کې مې هم دسعديې نامه له خولې ووته اوس نو وعده کړم چې تړوله کيسه به درته کوم خو له هغې نه وړاندې غواړم خپل خوب درته ووایم ،شاید ته يې هم کوم تعبير وکړی شې.

ما دخپل دود له مخې ورته وويل ښه دې ليده ، خودی چې له دې سره بلد نه و ، زما په خبره کې را لوېده

نه يو زره هم ښه نه و ، ټولې مرګ او سلګۍ وې په کې

ورته ومې خندل او چې کله مې پوه کړ چې زموږ دود دی او کله چې څوک خوب ويني همداسې ورته وايو ، ده هم وخندل او دوام يې ورکړ

ابراهيمه ! خوب مې ليده چې له پلار جان ، ابراهيم او سعديې سره په يوه وړوکې کښتۍ کې روان وو ، يو ښکلی شين او نيلي سمندر وي ، او دسهار لمر ځلېږي ، موږ نه پوهېږو چې چېرته ځو خو پلار جان زموږ مخکې ناست وي ، دکبانو او نهنګانو کيسې راته کوي او کله کله دخپلې ځوانۍ هغه کيسه راته کوي چې يو ځل له فلسطينه تر راستنېدو وروسته يې په کومه پټه کښتۍ کې سفر کاوه چې پوليس يې تعقيب نه کړي ، خو ناڅاپي توپان پرې دمرګ څېره له نږدې ليدلې وه ، موږ هم همداسې وړاندې روان و زه د خپل پلار څنګ ته ناست وم ، خو سعديه او ابراهيم څنګ په څنګ ناست و او دپلار له سترګو پټ يې يو بل ته چيچونه ورکول ، پلار پرې نه پوهېده خو زه پوهېدم چې دوی د کور په څېر اوس هم له شيطانته لاس نه دی اخيستی او په دې خطرناک سفر کې هم همغسې لوبې کوي او سعديه له دې وېرې چې پلار به بيا ابراهيم ته جزا ورکړي ، څه نه شي ويلی ، زه په دې وخت کې له پلار جان نه پوښتنه وکړم ، چې چېرته ځو او څه وخت رسېږو ؟

پلار جان په ډېر لرې ساحل کې سترګې ګنډلې وي ، او دکوم ځنګل شنو څوکو ته ګوري چې معمولي غوندې معلومېږي ، په بې پروايی سره ځواب راکړي

هاغه وړاندې څنډې ته ، لږ لار پاتې ده

زه بيا ترې وپوښتم

هلته دڅه لپاره ځو ؟

هغه ځواب راکړي

هلته زما دمورجانې قبر دی او ستاسې مور هم هديرې ته نيږدې په يوه کور کې اوسي ، دهغوی ليدو ته ورځو ، دعا ورته کوو او بيا نو هلته په يوه کلي کې اوسو ، هلته په ما پسې

پولیس نه راځي او بیا مې زندان ته نه بیایي ، تل به له تاسي سره وم او دسره اوښ کیسه به درته کوم ، همداسې نورې کیسې ، سبقونه به هم درته وایم.

زه خوښ شم خو سعدیه دپلار ځنګ ته ورنږدې شي او داعتراض په ډول غږ پورته کړي

نه پلار جانه ، دمرور مزدور او ترځمکه لاندې مانۍ کیسي به هم راته کوې.

خو ابراهیم ورور غوسه شي ، سعدیې ته یوه څپېړه ورکړي

نه نه پلاره ترځمکه لاندې کیسه به نه کوې ، په هغې کې خو دېوان دي ، زه ترې وېرېږم ، بیا په خوب کې راته راځي ، دا شیشکه خو هسې هم ترې وېره نه لري

سعدیه هم اوچته شي، د دوړوکې کښنتې په څنډه ځان سمندر ته ځوړند کړي ، زما چې ورته پام شي ، چیغې کړم ، سعدیې ! سعدیې !

خو پلار چې په سوچونو کې ډوب وي ، زریې ور پام شي او تر ځنګ یې په زور کښنوي ، ورته غوسه شي ، کیښنتۍ همداسې مخ په وړاندې روانه وي او څپې غوځوي ، خو همغه ساحل همداسې لرې کېږي او نه ورسېږو ، شېبه وروسته چې پلار سعدیې ته وګوري نو له سترګو یې مړې مړې اوښکې روانې وي او له ځان سره ژاړي ، پلارجان پوه شي چې دده په غوسه خپه شوې.

زریې ځان ته راجوخته کړي ، سر یې په غېږ کې ټینګ کړي او ډاډ ورکړي

مامې سعدیې لورجانې ته ډېرې نورې کیسې زده کړې ، هغه ورته کوم ، چې تر اوسه چا اورېدلې هم نه دی او نه په کوم کتاب کې راغلي ،لکه سوی ځنګل ، دشاهین بچیان ، په اسمان کې ورک شوی مرغه او نور ... دا ټولې به هلته یوازې خپلې لورکی ته کوم ، په ابراهیم شیطان پسې به ور بند وي یوازې ته به یې اورې...

دلته یې سعدیه خبره ورپرې کړي

نه پلار جانه سعد ورور به هم وي

پلار وخاندي

هو سعدیه جانې عبدالوهاب زوی به مې هم درسره وي ، بیا ماته راوګوري او په تندي مې ښکل کړي.

ما ورته په ډېره لېوالتیا ښه ښه ویل او ده همداسې خپل خوب بیانولو:

وړوکې کښتۍ همغسې په سرعت روانه وي ، خو دساحل هغه څنډې ورو ورو راڅخه لرې کیږي او څومره چې موږ ورنږدې شو نو هغه په یو ډول تورو وریځو کې پټیږي ، تر دې چې نور یې نو هغه دښنو ځانګو سرونه هم نه ښکاري، چې ګورو په دې کې ناڅاپي په ټول اسمان وریځ راخوره شي ، دسمندر له شنو څنډو ځلانده لمر لمن ټوله کړي ، هر څه وېرونکي ښکاري او دپلار جان په سترګو کې ورخطایي وي ، سعدیه په غېږ کې ټینګه کړې او موږ ته ډاډه راکوي چې څه خبره نه ده، دا دسمندر بڼاس دی ، هر وخت همداسې وي ، خو کله چې ورسره دتوپان څپې هم راښکاره شي نو ټول وېره واخلي او داسې راته ښکاري چې دپلارجان وېره هم ریښتیني وي ، یو څه لا وړاندې نه وو تللي چې په همدې کې زموږ دکښتۍ مخې ته یوه لویه څپه ودریږي ، زه سترګو ته لاس ونیسم ، پلارجان زر زر کلمې وایي ، سعدیه او ابراهیم په چیغې وي ، شېبه پس له دې تورې څپې نه یو تور بلا راښکاره شي ، ماته ښکاري چې نهنګ وي ، خوله را اوږده کړي او زموږ په لور را وړاندې شي په همدې کې خوله راښکته کړي ، لوی لوی غاښونه او ځوړندې داړې یې وي موږ درې وړاه پلار جان په غېږ کې ټینګ کړي او ډاډ راکوي ،کلمې همغسې وایي او خدای (ج) ته سوالونه کوي ، خو له څپې را اوچته شوې بلا ډېر ظالمه وي ، خوله راښکته کړي بابا له ځان سره په خوله کې واخلي ،بېرته په څپه کې پټ شي ، په کیښتۍ کې چیغې وي ، ټول پلارجان پلارجان ناري وهو ، ګورو چې بلا بیا سر را اوچت کړي او په دې خوا راشي، داځل ابراهیم هم په خوله کې ونیسي، زه دکښتۍ په کونج کې غلی شم ، خو سعدیه مې له لاسه کلکه نیولې وي او دځان خواته یې راکاږم ، بلا بېرته لاړه شي او هملته په څپه کې ورکه شي ، توپان زورور شوی وي ، نور نو بېړۍ هم سپکه وي او په بار بار یې خوځوي، زه او سعدیه همغسې په دوی دواړو پسې چیغې او نارې وهو ، ددې انتظار وو چې اوس به نو زموږ نوبت وي ،اوس مونږ هم په همدې خوښ وو چې یوازې به څه وکړو ، پرېږده چې له هغوی سره یو ځای شم، له دې پرته راته ټول ژوند بې مانا ښکاري خو په همدې ځای کې په خپلو چیغو راویښ شوم، زر مې کلمه درسته کړه ، ته ویده وې او په ما خولې را ماتې وې ، مناسبه مې ونه ګڼله چې راویښ دې کړم ، اوس مې ځکه طبعت ښه نه دی ، حیران یم چې ددې خوب تعبیر به مې څه وي ؟

دواړه غلي وو، بیایې له ځان سره وویل

واضح دی، کوم دی هغوی، هېڅ تعبیر نه غواړي ریښتیا دی.

زه هم په سوچ کې تللی وم، دسعدیې په اړه مې فکر کاوه، چې څوک به وي ؟ خو لکه هغه چې خپلې پوښتنې ته خپله ځواب ورکوي، بیا لګیا شو

هر څه باید خدای تعالی ته وسپارو، بله لاره نشته خو اوس راسره یوه بله اندیښنه ده او...

زه یې په خبره کې ور ولوېدم

دڅه اندیښنه ؟ هرې خبرې ته باید اندیښنه ونه کړې، دا خو خوب و اوس څه ریښتیا خو نه ده، خوبونه کله ټول ریښتیا خېژي.

څېره یې لږ مړاوې شوه

نه محمدابراهیمه، زه اکثره وخت خوب نه وینم او کله چې خوب ووینم ، هغه بیا ریښتیا خېژي،ما دپلار جان او مورجانې په اړه هم همداسې وېروونکی خوب لیدلی و ،زه به هغه وخت پنځلس شاړس کلن وم ،له پلار نه مې احوال نه و، همغه وو ،چې دویمه ورځ دپلار دشهادت خبر راغی ،په بم کې ټوټه ټوټه شوی و او ځلورمه ورځ مورجانه هم پسې ناروغه شوه ،په روغتون کې مرګې حال پرته وه او ډېر وروسته عادي ژوند ته را وګرځېده.

له ځان سره په خندا شو

کاشکې چې دهغوی څېرو ته خو مې لږ په ځیر ځیر کتلي وی، چې څنګه ښکاري خو افسوس چې زه وېره اخیستی وم ،هېڅ مې ورته ونه کتل ،زما اندیښنه ده چې په هغوی څه نه وي شوي،که وي نو زه ورنه ډېر لرې یم او دلته ورته بې له دعا بل هېڅ نه لرم.

زه هم وېرې، درد او غربو اخیستی وم ، غوښتل مې اوس نو نورې پوښتنې ترې وکړم خو دهغه سترګې له اوښکې ډکې وې او دهغه ډنډ په څېر ښکارېدې چې تر څوکو له اوبو ډک وي او میده میده باران پرې ورېږي ،یوه شېبه چوپتیا خوره وه او بیا عبدالوهاب لکه ماشوم پرینګ په ژړا شو.

له کړکۍ کوټې ته لمر را ولوېده، بهر مرغانو چوڼ چوڼ پیل کړ، زه بهر ته ووتم ، دعبدالمنیر دکوټې ور مې ور خلاص کړ، په کونج کې ناست و او دقران کریم تلاوت یې کاوه، ور مې بېرته وربند کړ، په انګړ کې ها خوا دېخوا وګرځېدم او بېرته هغه کوټې ته ورننوتم چې عبدالمنیر په کې اوسېده، هغه په ځای کې ناست و او له چا سره یې په مبایل خبرې کولې، زه یې هم څنګ ته کېناستم، پوهېدم چې طبعه یې ښه نه ده خو څنګ ته یې دڅو تابلېټونو پاکټونه له یو ګیلاس اوبو سره ایښي و ، پوښتنه مې ترې وکړه

وروره څه حال لرې ؟

په موسکا یې ځواب راکړ

ښه یم ابراهیمه وروره، ته مې هسې په خپل خوب خواشینی کړی، ستا خبره ریښتیا ده چې ټول خوبونه خو ریښتیا نه وي، داهسې زموږ ذهني اندیښنې دي، باید پسې ونه ګرځو.

زه خوښ شوم چې هغه خپله ځان ته ډاډ ورکړ او ګوندې وي، چې نور له دې خپګانه ځان را وباسي او ماته خپله کیسه وکړي.

ورته ومې ویل

چای اوس څښو که وروسته ؟

په ځای کې وغځېده

نه پرېږده یې چې انا راشي په ارام به یې وڅښو، دعبدالمنیر پوښتنه دې کړې کنه ؟

هو، پاڅېدلی په کوټه کې تلاوت کړي

نور زه هم خوښ شوم او دکیسي اورېدو لپاره مې همدا مناسبه موقع وګڼله، یوه شېبه غلی وم خو هغه په خپلو خبرو بیا دا چوپتیا ماته کړه

ته زما دخوب تعبیر کولی شې ؟

نه خو اوس باید زما سره کړې وعده پوره کړې، چې سعدیه څوک ده ؟

زما په دې خبره عبدالمنیر له ځایه پاڅېد، په ولاړو یې دځان شخي ویستله او دکړکۍ خواته روان شو، پرده یې کش کړه دلمر رڼا یې سترګې وبرېښولې، بېرته زما خواته را وګرځېده او دواړه منګولې یې یو له بل سره بندې کړې

ابراهیمه وروره ! زموږ دکورنۍ ماضي ټوله له درد او قربانۍ ډکه ده ، دقاهرې ټول استخباراتي زندانونه او توري تمبې زموږ له نیکه، ترونو او نیږدې خپلوانو سره اشنا دي،ټول ځوانان او خواخوږي مو یې هلته له دین او خپل پخواني تاریخ سره دژورې مینې په تور دزندان، دشپې پټو وژنو او په تیارو کې ددار له تختو سره اشنا دي او که چا ته هلته دا جزا نه ده رسېدلې نو زما غوندې ټول عمر بې وطنه،بې کوره او نا ارامه سترې ژوند لري، زه پو هېږم چې په اسلام کې وطن، پوله او سرحد نشته، هر چېرته چې اذان کېږي ، همغه زموږ وطن دی ، خو بیاهم له خپلې کورنۍ او هغه کلي چې چا په کې خاپوړي کړي وي ،ماشومتوب یې په کې تېر شوی وي ،مور یې ورته په غوږ کې دالاهو زمزمې کړي وي؛ نه هېرېږي، په پلرني کلي کې که څه هم هدیرې دخپلو تېرو دوستانو له ویر او یاده ډکې وي خو بیاهم دپسرلي په شپو ورځو کې پرې درنګارنګ ګلونو غوړېدلی څادر دهېرېدلو نه وي، په ځانګړي ډول دماشومانو لپاره تل دیوه ښکلي خوب په څېر پاتې وي.

موږ هلته له ښار نه لرې په یوه واړه کلي ته ورته محل کې اوسېدو ، هرڅه ډېر ساده وو، یو وړوکی دوه پوړیزه کور ترڅنګ دخرما او زیتونو یوه سمسوره باغچه او وړاندې پراخه سمسورې کروندې او شنې غونډې، چې دنیل له خوږو اوبو ورته لښتي او ویالې راغلې وې

. زما دوه مشرې خورګانې چې له بلې مور نه مې وې واده شوې وې،کله مې چې دغه میرنۍ مور مړه شوه نو بیا مې پلار بل واده وکړ، زموږ مور دکور کارونه ټول دیوې خدمتګارې په مرسته تر سره کول چې موږ ورته عذرا ترور نوم اخیسته ، عذرا ترور به زه او ابراهیم ورور ترجومات او مکتبه رسولو او دکور پاکوالی او په باغچه کې ګرځېدل او پالل هم دهغې په غاړه وو چې باغچې ته به تګ زموږ لپاره یوه ښه ساعتیري وه او تل به یې راتګ ته خوشحاله وو، هغه وخت به ابراهیم راته تل پلار جان پلار جان یادوه خو ما تر اوسه په سترګو نه وو لیدلی چې پلار جان څنګه سړی دی؟ زموږ په کوټه کې یې یوازې یو لوی انځور و چې مور به تل ورته کتل او ژړل، ابراهیم به ویل چې پلار ته دعاګانې کوه چې راخوشي شي نو بیا به موږ ښار ته بیایې، په موټر کې به مو ګرځوي او دنورو ماشومانو غوندې به خوښ وو، هغه زما له پیدا کېدو څلور میاشتې وروسته له ډېر پېټ ګرځېدلو وروسته یوه شپه له کوره عسکرو ویستلی و او بیا یې تر ننه چا درک ونه کړ.

دهغه دوه مشران ورونه هم په زندان کې وو، له اخوان المسلمین او القاعدې سره پرې دتړاوو تورونه وو، خو هغوی کورنۍ هم له خپل هېواده ویستلې وې، کار وبار ، ژوند هرڅه ترې پاتې وو او نه یې په اړه موږ ته معلومات وو، ابراهیم به راته کله کله دبابا کیسه هم کوله چې یو سهار یې له لس کاله بند وروسته کور ته دهغه مړی راوړی و او ورمېږ یې پرسېدلی و، هغه ته به شاید دا کیسه پلارجان کړې وه، ځکه چې هغه زما نه ښه وو یو دوه کاله خو یې له پلار جان سره تېر کړي وو، دهغه مینه او مهرباني یې لیدلې وه ، که څه هم چې پلار تر تعقیب لاندې و او کور ته به هم له وېرې پټ راته.

دمورجانې به تل سترګې سرې وې او پوهېدم چې هره شپه ما اوده کړي نو دپلارجان په تصویر یې سترګې ګنډلې وي او له ځان سره غلي غلي ژاړي ما به چې کله ورنه د علت پوښتنه وکړه نو دسر خوږ به یې راته بانه کړل ما به ورته ویل چې دجومات له ملا امام نه به درته تاویز یا له درملتونه دارو درمل راوړم، نو ویل به یې چې راوړي مې دي ، ښه به شم ، په کور کې به یې چې څه په کار شول نو ،دپلارجان نېږدي ملګري عبدالناصر ته به یې احوال ورکاوه او اکثره وخت به دا احوال هم د ابراهیم له خوا رسېده ، هغه زموږ څه خپل نه و، خو له پلار سره مې یې ډېر وخت تېر کړی و او یو بل ته یې ورور ویل ،ما به چې له مور نه دپلار پوښتنه وکړه ، نو ویل به یې چې هغه حج ته دتللو په مهال هلته سخت ناروغه شو اوس په سعودي کې دی ،چې ناروغي یې ښه شي رابه شي، خو ابراهیم بیا راته هر څه ریښتیا ویل، له هغه سره ان په ماشومتوب کې دلویو خلکو خیالونه او عقل و ،ماته به یې ویل ته مه خفه کېږه یوه ورځ به ته دمورجانې له څنګه اوده او زه به دې راویښ کړم چې پاڅه پلار جان راغی ، تاته یې وړوکی موټر راوړی، چې په دې سره به زه هم خوښ شوم او په اړه به مې یې نورې پوښتنې نه کولې.

عبدالناصرکاکا به هم چې کله کله راغی نو، موږ دواړو ته به یې ډاډ راکاوه او دمور ددرناوي ، خبرې منلو او په درسونو کې دکوښښونو به یې راته ویل، دجومات ملا امام ته به یې هم زموږ په اړه ځانګړې سپارښتنه کوله او هغه نو بیا کله غورځولی شوی، که به نور ماشومان رخصت شول نو موږ دواړه به یې یو ساعت نور هم له ځان سره کېنولي وو او درسونه به یې راته ویل، کله کله به ورسره یوه وړوکی نجلۍ هم وه چې یو کلنه معلومېده او نوم یې سعدیه و ، هغه په لومړي ځل نا اشنا وه خو ورو ورو زموږ سره بلده شوه او چې کله به عبدالناصر کاکا زموږ کره دیوښتنې او یاله زندانه دپلار دکوم نوي احوال راوړلو لپاره راغی، نو سعدیه به هم ورسره وه، له موږ سره به یې لوبې کولې او چې کله به یې پلار بېرته بېوله نو له موږ به نه جدا کېده او ژړا به یې ټول کور په سر واخیست، کله کله به عبدالناصر کاکا هم مجبور شو چې یو ساعت یې له موږ سره لوبو ته پرېږدي ،بیابه نو ده له مورجانې سره خبرې کولې ،زه نه پوهېدم خو دومره مې حس کوله چې هغه په بار بار مورجانې ته ډاډه ورکوي، څه ورته وایي، خو دمورجانې له سترګو اوښکې روانې وي.

****************************************

یو ماښام موږ له لمانځه نه وروسته په جومات کې له ملا صاحب نه سبق وایه چې بهر مې دژړا غږ واورېد، دجومات له څنګه یوه لار زموږ کور ته تللې وه، دژړا غږ راته اشنا و او پوهېدم چې دا ژړا بې له سعدیې نه پرته دبل چا نه شي کېدی ، کله کله به مو چې په بڼ کې د لښتي په غاړه سره جګړه شوه او ابراهیم به کوم ګوزار په سعدیې وکړ نو همداسې چیغې به یې وهلې او بیا به نو زه او هغه تر ډېره له ابراهیم نه مرور وو.

د غږ په اورېدو زر له ځایه پاڅېدم ، فکر مې وکړ چې سعدیه له عبدالناصر کاکا سره راغلې او اوس بېرته کور ته دتلو په مهال ژاړي ، خو حیران په دې وم چې ولې دومره ناوخته راغلې او زموږ له لیدلو یې پرته بېرته بیایي، له ډېرې بیړې مې خپل بوټونه په لاس کې واخیستل، په منډه ووتم له جومات نه وړاندې یوه کس په تیاره کې سعدیه له لاسه نیولې وه او زموږ دکور خواته نږدې کېدل ، پسې ورمنډې مې کړې خو له شانه راپسې نارې شوې، شاته مې وکتل ابراهیم له څو نورو هلکانو سره راوتی و او چیغې یې راپسې وهلې

عبدالوهابه څه خبره ده ؟ څه دې واورېدل ؟

ما همداسې ترې منډې کړې او په سعدیه پسې ورغلم چې له چا سره په تیاره کې روانه ده او ولې ژاړي ؟

همغه کس له شانه دعبدالناصر کاکا غوندې نه ښکارېده ، زه چې ور ورسېدم نو همغه کس او سعدیه دکور په انګړ کې له مورجانې سره ولاړ وو، په بیړه بیړه یې ورسره خبرې کولې، سعدیې مې مور له ګوتو کلکه نیولې وه، همغه کس عبدالناصر کاکا نه وو، زر زر یې له مور

سره خبرې وکړې ، یو کاغذ یې ورکړ او بېرته یوازې په بیړه له انګړ نه ووت ،سعدیې هم زما خواته رامنډې کړې او په لاس کې نیولې دکیک ټوټه یې راته ونیوه ، ماهم ترې واخیسته خو مورجانه یو څه خواشینې او خپه معلومیده بې له څه ویلو دکوټې په خوا روانه شوه او سعدیه یې له مانه په غېږ کې اوچته کړه، زه په رنه میدان پاتې شوم خو پسې ورمنډې مې کړې ،په همدې کې ابراهیم هم راننوت زما غوږ یې تاوو کړ

څه خبره ده، چې بې وخته راوتښوې، لا خو رخصتۍ ته وخت پاتې و ؟

ځواب مې ورکړ

هسې، هغه راغلې په دې ناوخته...

خبره یې راپرې کړه

څوک یادوې ؟ څوک راغلي ؟

سعدیه!

سعدیه ، سعدیه

دوه ځله یې دهغې نوم تکرار کړ ، په انګړ کې ترووږمي په خورېدو وه ، دواړه په مور پسې ورننوتو، مورجانه په دهلېز کې یوه پیکه ګروپ ته ولاړه وه او په لاس کې نیولې کاغذ ته ځیر وه، دسعدیې چې په موږ پام شو ، دمور ګوته یې پرېښوده او زموږ په لور یې رامنډې کړې، وروسته مو چې له مور نه پوښتنه وکړه، نو ویل یې چې عبدالناصر کاکا پولیسو نیولی او دغه له قده ټیټ کس چې سعدیه یې دلته راوسته دهغه کوم نږدې ملګری دی او ویل یې چې دسعدیې ساتنه نور ستاسې په غاړه ده ، دعبدالناصر دازادېدو امکان نشته او له ډېر وخت نه استخبارات پسې وو او څو ځله یې زموږ کور ته هم څارلی و، چې دې تګ راتګ یې زموږ له پلار سره اړیکه ثابتوله ، دعبدالناصر کاکا ژوند هسې هم له ډېرو لوړو ژورو اوستونزو نه ډک و ،دهغه پلار او دوه وروڼه هم له کلونو راهیسې نامعلومه و او هېڅ معلومات نه کېده چې داستخباراتو په کوم زندان کې به وي ، ده څلور پنځه کاله وړاندې له یوې یمنۍ پېغلې سره واده کړی و، چې دکوم همفکره ملګري خور یې وه او له دې نه دومره اغېزمن و چې ټوله کورنۍ یې دې ته راضي کړه، چې خور یې له عبدالناصر سره ژوند شریک کړي ، دی که څه هم په فعالیتونو بوخت و او اړیکه به یې ساتله او دېټو مشرانو له خوابه چې ورته څه ویل کېدل هغه به یې سر ته رسول، کله هم دومره نه وو وزګار شوی چې دسعدیې مور ته هومره مینه ورکړي لکه څومره چې دهغه حق و ، خو بیا هم هغه پوهېده چې دژوند ملګری یې دورور غوندې هره شېبه دپټو پولیسو تر څار لاندې وي ، د دوی د ګډ ژوند لومړۍ میوه همدا سعدیه وه خو سعدیه لا یو کلنۍ ته نه وه رسېدلې چې دسعدیې مور دخپل دویم ماشوم په

زېږون خپل ژوند له لاسه ورکړ ، دعبدالناصر هغه هیله هم اوبو یوړه چې خدای یو نارینه اولاد ورکړي ، وړوکې ماشوم یې هم یوازې دیوې شپېې لپاره سترګې وغړولې او نور یې له مور سره یو ځای له دغه نړۍ نه رخصت واخیست ، وروسته نو دسعدیې ژړا ګانې وې او دده اوسیلې چې تر ننه ورسره مل و.

ددې سره سره یې سعدیه په مینه روزله او هڅه یې کوله چې دده په شتون کې دمور دکمي دومره احساس ونه کړي ، په همدې خاطر به اکثره زموږ کور ته راته او سعدیې ته به یې زما مور دهغې دمور په نامه ور پېژندله چې ورو ورو دادي ورسره روږدې شوه او موږ هم ورسره بلد و ، خو نن داسې معلومېده چې نور به نو سعدیه هم زموږ په کور کې وي او پالنه به یې زموږ غوندې دمور په غاړه وي، دویمه درېمه ورځ ، جومات ته هم راسره تله او درس یې پیل کړ خو هلته راته معلومه شوه چې هغې ته عبدالناصر کاکا دومره زده کړه ورکړې وه چې زما او ابراهیم سر ه هم نه وه ، خپله ملاصاحب هم تل په شاباس او افرین نمانځله چې ما به وربانديږ من من غوښه اخیسته خو دهغه همزولو نورو نجونو او ابراهیم به ورسره رخه کوله ،ابراهیم به دمور له وېرې څه نه شوی ویلی او مجبور و چې هغه وزغمي او تشویق یې کړي.

ریښتیا هم چې بیا عبدالناصر کاکا رامعلوم نه شو او نه بیا همغه کس راغی چې سعدیه یې زموږ کور ته راوستې وه ، ما به چې کله له مورجانې نه کوم ماښام دپلار پوښتنه وکړه نو هغې به زړه ماتی ځواب راکړ

بچیه ! پلار جان دې راځي ، رابه شي زه باور لرم چې حق تل کامیاب وي ، هغه به راځي او تا به په غېږ کې نیسي ، کله به مې چې ورڅخه دهغه دڅېرې په اړه پوښتنه وکړه ، لږ به مړاوې شوه او دخپلې الماری کونج ته به یې اشاره وکړه ، هغه تصویر ته وګوره له ښی خوانه درېیم کس، همدا دې پلار جان دی.

ما به ورته وکتل خو څېره به مې یې په ذهن کې نه پاتې کېده او بیا به رانه هېر و ،مورجانې ویل چې ته د یوولسو میاشتو وې چې پلار جان دې له کوره تللی او بیا نه دی راغلی.

ماته ډېر نه دي په یاد ، ځکه زه نیږدې څلور کلن ماشوم وم او ابراهیم د اوه کلنۍ غاښ تازه لوېدلي وو، چې یوه شپه په تیاره کې خپلې مورجانې راویښ کړم ، دومره مې په یاد دي چې په کور کې چوپتیا وه ، څوک نه معلومېدل، ابراهیم سعدیه له لاسه نیولې وه، ماته مورجانې یوه غوټه په لاس راکړه او وړاندې همغه دټيټ قد خاوند چې په لومړي ځل یې څو میاشتې وړاندې سعدیه زموږ کور ته راوستې وه په انګړ کې په یوه لوی بکس کې څه اچول، ټول له دروازې نه ووتو او بهر په دوازه کې په ولاړ موټر کې وختو، زه نه پوهېدم ،خوب راته ،دسعدیې ویښتان هم خواره واره وو، دمور شونډې بیاهم دتل په څېر خو ځېدلې او پوهېدم چې

پلار جان ته دعاګاني کوي ، نور هېڅ نه يم پوه شوی چې کوم خوا ځو، پرلپسې سفر و، ما کله هم په موټر کې دومره سفر نه و کړی،خو کله چې دويمه ورځ يوه لوی ميدان ته لاړو او په الوتکه کې کښېناستو، نو يوه بل وطن ته راغلي وو، چې هوا يې ګرمه او هرڅه نا اشنا ښکارېدل، له خلکو نيولې بيا تر کورونو ،خبرو، دکانونو زموږ د خپل وطن غوندې نه وو.

دتيټ قد خاوند ته مې مور ابو سلمان ويل او موږ ورته يوازې کاکا نوم اخيسته ، سعديه هم نه ورتله او دمور په څنګ کې به غلې ناسته وه، تل به يې زما صفتونه او دابراهيم له شيطانيو نه ورته شکايت کاوه.

وروسته وروسته چې پوهېدو نو دغه ښار اسلام اباد و، ابوسلمان کاکا په ښوونځي کې واچولو او يو دپښتو ښوونکی يې هم راته ونيوه، چې موږ ته به يې پښتو او اردو ژبه هم را يادوله خو ډېر زور يې په پښتو ، موږ ته يې يو وړوکی کور نيولی و چې نسبتا ښه وو خو بياهم په قاهره کې زموږ خپل کور ته نه رسېده، ديوې مياشتې په تېرېدو سره دمورجانې په حالت کې هم يو څه بدلون راغی ، سعديې به هم ورسره دکور په کارونو کې مرسته کوله او لاس به يې پرې سپک و، يوه ورځ ډېره خوشحاله وه او په شونډو يې موسکا خوره وه، زه هم بې له دې چې دعلت په اړه يې وپوښتم ، دمور په دې حالت ډېر زيات خوښ شوم، دماښام له لمانځه وروسته يې زه ابراهيم او سعديه ځان ته راغوښتو او ددرسونو په اړه يې راڅخه پوښتنې کولې خو مخکې له دې چې پوښتنې وکړي درې واړه يې په تندي ښکل کړو، بيايې پوښتنه وکړه

پوهېږئ چې نن مې ولې تاسې ټول دلته راغوښتي يئ او پوښتنې درڅخه کوم ؟

موږ درېيو واړو دنه ځواب ورکړ

بيا مور جانې وخندل ، اسمان ته يې وکتل او ابراهيم يې مخاطب کړ

بچيه ! پلار جان دې له زندانه ازاد شوی، ابوسلمان احوال راوړی چې شايد په درېيو ورځو کې دلته راشي او زموږ سره يو ځای شي

دريو واړو چيغې کړې

پلار جان ... پلار جان ...پلاجان ، څه وخت راځي ؟

مور جانې غلي کړو

راځي زما خوب رېښتيا و، راځي ، زه پوهېدم چې په ژوند کې مو لا يو څو ورځې داسې شته چې له هغه سره ووينم او خپل زامن چې اوس لويان دي په غېږ کې ټينګ کړي او...

ما يې خبرې ورپرې کړې

مورجاني ولې سعديه دهغه لور نه ده ؟ هغه به په غېږ کې نه اخلي ؟

مورجانې چې سعديې ته وکتل نو شونډې يې بوڅې بوڅې کړې، خو مورجانې زر په غېږ کې ټينګه کړه او مور ته يې وکتل

ما کله ويلي چې نه، اول به خپله سعديه لورجانه په غېږ کې اخلي، خو اوس بايد ټول خپل درسونه تکرار کړئ چې بيا دا ونه وايي چې ما له تاسو سره هېڅ کوښښ نه دی کړی او ستاسې دروزنې کوم پلان راسره نه و.

ابراهيم ترې پوښتنه کړه

مورجانې هغه څه وخت ازاد شوی ؟

هغې ځواب ورکړ، له خپل وطنه زموږ تر وتو وروسته يې دملګرو په مرسته ازاد شوی، دا ټول دې ابوسلمان ورور پلان و چې دپلار په غوښتنه دې يې تر سره کړ او موږ يې په پټه دلته را ورسولو، وايي چې دلته موقتي يو، چې هغه راشي نو کوم بل ښار ته به ځو چې هم تاسې ژبه زده کړی او هم مو پلار جان خوندي وي، نور هغه ته هېڅ خطر نشته ، زه دهغه ورځې په هيله يم چې خدای پاک دهغوی ټول ملګري له زندانونو را خلاص کړي او زما دعاګانې يې په اړه قبوله شي، دپلار دې يوازې يو ارمان په زړه دی او هغه دا چې هر ځای دې داسلام جنډه رپانده وي او بس ! هغه له ډېرو نعمتونو ډک ژوند او نږدې دوستان له همدې امله له لاسه ورکړي چې دادي نن بې له ما او تاسې وړو نه په دې دنيا کې هېڅ خوا خوږی او ملګری نشته، له تاسې نه هم زما هيله داده چې دهغه لاره ونيسئ او له ځانه دغرونو او لوړو څوکو بازان جوړ کړئ، نه چې دښځو په څېر په کور ناست وی او حيثت مو دکور چرګانو ته ورته وي.

نن راته مورجانې عجيبه خبرې کولې او موږ يې ټول حيران کړي و، يا خو به يې وړاندې هم راته دخبرو پيغام دا و خو نن موږ پرې پوهېدو او په يوه پردي وطن کې يې عجيبه تاثير درلود ، همداسې يې پسې خبرې وغځولې

کله چې مسلمانان په يوه مرکز راغونډ وو ديوه خليفه امر يې مانه، نو ټوله نړۍ ددوی تابع وه او خليفه ويلي وو چې اوس په اسلامي خلافت کې لمر نه ډوبيږي، زموږ نيکونه چې اروپا ته لاړل، نو هلته څلورو خواوو ته وحشت خور و، څه يې دمدنيت او علم په نامه نه پيژندل، خو موږ بياهم تاريخ او نوم درلود، سره له دې چې په څو جبهو کې اسلامي غازيان جنګېدل خو ورسره ورسره دعلم او پرمختګ ډېوه هم روښانه وه او دجګړې دډګر دغازيانو د اسونو تېز حرکت بايد کله هم دغه ډېوه ګل نه کړه ، موسی بن نصير (رح) چې کله اندلس او نورې اروپا ته پورې وته نو خپله ښېړۍ يې ددې لپاره وسوزوله چې دملګرو په زړه کې يې دبېرته

پورې وتلو فکر پیدا نه شي ، له هغه سره داروپا دحاصل خېزه ځمکو لاندې کولو هیله او خیال نه و او نه یې هم ځان ته دکوم واکمن په سترګه کتل، له هغه او ملګرو سره یې دا احساس و چې خپل یو دیني مسولیت ادا کوي او دخلیفه امر په ځای کېږي، دوی په خپل دې هوډ کې بریالي شول په اروپا کې یې دلومړي ځل لپاره داسلام بیرغ رپاند کړ.

هغوی له ځان سره یو روښانه او تلپاتې پیغام هلته یووړ ، چاته چې الله تعالی هدایت کړی و او په زړه کې یې دغه رڼا وه نو روښانه شوه ، له تیارو راووتل او ددغه نومیالي جنرال له تبلیغي ډلو سره ملګري شول، اسلام یې قبول کړ او ددغه کمو خو دقوي عزم لرونکو غازیانو سره ځنګ په ځنګ وجنګېدل، دوی په اندلس کې اسلامي تمدن رامینځ ته کړ او دخلافت پیغام یې ورساوه ، موسی بن نصیر ( رح) بېرته خلافت ته راستون شو، خو هغه رڼا چې ده هلته وړې وه ، په لمر بدله شوه او نږدې اته پیړۍ هلته ځلېدله او خلکو په کې دحق په لوري خپل مزل کاوه، اندلس دجوماتونو ، مدرسو، ښوونځیو ، کتابتونو او پوهې ښار شو ، دټولې اروپا سترګې یې په علم او ادب روښانه کړې ، ډېرو عیسوي کورنیو ورته خپل اولادونه دزده کړې لپاره را واستول خو اته سوه کاله وروسته چې کله مسلمانان خپلې دغه واکمنۍ مغروره کړل ، دموسی بن نصیر او نورو شهیدانو وینې یې له یاده ویستې، ځانونه ورته پادشاهان او واکمنان ښکاره شول ، په سر یې له غمیو ډک تاجونه کېښودل ، دخلاف له فرمانونو یې سرغړونه وکړه، کورونه یې په ښکلو نجونو او زیوراتو ډک شول؛ نو الله تعالی ددې کار جزا هم ورکړه ، بېرته همغه کسان پرې مسلط شول چې د غلامانو په څېر یې ددوی خدمت کاوه او سرلوړې یې یوازې په اسلام قبلولو کې وه.

په هغه ځمکه چې داسلامي خلاف دیوې څانګې بنسټ یې دموسی بن نصیر او ملګرو په خولو او وینو ایښودل شوی وو، هغه دخلافت دوروستي استازي ابو عبدالله عیاشو او دعیسویت رنګین خواره شوي جال بېرته له بېخه ویوست، چې له امله یې نه یوازې ده، بلکې ټولو مسلمانانو ته دسر په کاسه کې اوبه ورکړې ، همغه جوماتونه وسوزېدل ، مدرسې یې ړنګې کړې حتی په هدیرو کې یې ددوی داتو پیریو دخښ شوي نسل قبرونه له مینځ یوړل چې هېڅ نوم نښان یې پاتې نه شي او راتلونکي تاریخ لیکونکي دخپلې دې ادعا لپاره چې ګني یو وخت و چې هلته دمسلمانانو دخلاف فرمان چلیده ، څه ثبوت ونه لري.

دمور جانې سترګې له اوښکې ډکې شوې، یوه شېبه چوپتیا وه ، ابراهیم او سعدیه هم مورجانې ته ځیر وو او اوښکو ته یې کتل ، شېبه پس یې بیا خپلو خبرو ته دوام ورکړ.

نن هم هماغه زمانه ده ، نن هم موسی بن نصیر (رح) ، محمد بن قاسم او نور مېړني موندلی شو خو دفرعونانو شمیر زیات دی او ټوله اسلامي نړۍ دفتنو په جال کې راګیره ده ، زما سره یوازې او یوازې ستاسې د راتلونکې غم دی ، پلار جان او نورې کورنۍ خو مو دادي

بیاهم خپله زمه واري تر سره کړه او دځوانی ډېرې خوږې شپې دزندان دتورو تمبو شاته تېرې کړې، کورنی او بچیان یې هېر کړل، دده ډېرو ملګرو حتی دسعدیې غوندې معصومو او ښکلو بچیانو پروا هم ونه کړه او دا ملګري وپالله ، په ماهم که عمر تېر نه دی خو همدغه سوچونو مې په سر کې بې وخت سپین لګولي ، زه هم دسعدیې غوندې همداسې وړه له پلاره پاتې شوم کله چې ستاسې دبابا دمړي او ژوندي درک ورک شو نو مور مې قوي هوډ او حوصلې سره سره له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې او زه دهغه دیوه ملګري په کور کې را لویه شوم ،خو تل به مې همداسې خبرې اورېدې او استاد به مور ټولو ته له سبق وروسته همدا تاریخونه بیانول چې کله کله به مو ارمان وکړ چې کاشکې موږ هم نارینه وی او لږ تر لږه ددغه غازیانو نوم او یاد مو تازه کولی شوی ، له تاسې دواړو مې هیله داده چې له دغه رښا باید یو څرک خامخا ستاسې په زړونو کې وي له خپل دین او پرېښې وطن څخه کله هم بې پروا نه شی.

ستاسې پلار او دهغوی ملګرو بې له دې نه بله کومه هیله نه درلوده او نه یې کومه شخصي موخه درلوده ، هغوی په مصر کې تر ټولو ښه ژوند درلود او هرڅه چې غوښتل یې کولی یې شوی خو ددوی په زړونو کې دخلافت جذبه وه، هغوی خپل هېواد داسلامي خلافت یوه برخه ګڼله او فکرونه یې ډېر لرې په هغه هېوادونه کې وو چې داسلامي خلافت دوجود ببلې شوې ټوټې ګڼل کېدې او ورځ تر ورځې یې جغرافیوي موقیعت محدودېده ، زه دا نه وایم چې مصر زموږ وطن دی ددې نړۍ په هره برخه کې چې مسلمانان ژوند کوي او کلمه وایي زموږ ورونه او زموږ هېوادوال دي ، ستاسې پلار او دهغوی همفکري ټول په دې نظر دي
.

مورجانه سلګو واخیسته ، په ستونې کې یې خبرې بندې بندې کېدې او موږ ټول ورته حیران لاس ترزنې ناست وو ، ابراهیم ته مې کتل چې په سترګو کې یې اوښکې ګرځې خو زه او سعدیه لا همغسې په خپل حال وو ، مابښام ورو ورو تیاره خورېده ، زه په دې خوښ وم چې سبا بله ورځ به د ابوسلمان کاکا زیری ریښتیا کېږي او پلار جان به وګورم چې څېره یې څنګه ده، کله کله به مې ویل چې ما به وپېژني که نه ؟ زما په اړه به څه فکر کوي ، لا په همدې سوچونو کې وم چې بهر دروازه ټک ټک شوه ، مور جانې اوښکې وچې کړې ځای په ځای ودرېده دابو سلمان کاکا اواز مې واورېده چې ددوازې دخلاصېدو یې ویل، ابراهیم له موږ ټولو ورمخکې شو چې څه خبره ده ، زه او سعدیه دمور ترڅنګ په انتظار ولاړ وو او دددوازې خواته مو کتل چې څه خبره ده .

شپېه پس له ابوسلمان سره یو کس چې اوږده سپینه ږیره یې په انګړ کې لګېدلي ګروپ ته ځلیده، راښکاره شو، ابراهیم ورنه ترهېدلی وړاندې راغی او زموږ ترڅنګ ودرېده، دمور

جاني چې په سپین ږیري او ډنګر سږي سترګې ولګېدې یو ځل یې داوښکو بهیر رامات شو او دهغه خواته یې ورمنډې کړې په نارو شوه

اسماعیله!

اسماعیله ! ته راغلې ، ما ویل چې په دې جلاوطنۍ کې ستا خوښه او پلان شامل و ، بیا ورغاړې وته موږ حیران ولاړ وو چې داڅه خبره شوه، ابوسلمان چې زموږ ورخطایي حس کړه نو په خندا شو او ماته یې وکتل

سعده ! ولې حیران حیران ورته ګورې، پلار جان مو دی ، ما خو درته ویل چې نن سبا به دې پلار جان راشي.

ټول کور خوښیو په سر واخیست، دپلارجان څېره مې له هغې نه بیخي بل ډول شوې وه، لکه څنګه چې زما په ذهن کې و ، وچ کلک او ډنګر ، سترګې یې په کې لوېدلې وې او په دمه دمه یې خبرې کولې، لکه دناورغۍ له بستر نه چې را پاڅېدلی وي ، هغه زما دژوند تر ټولو عجیبه صحنه وه ، دمور او پلار له سترګو مې اوښکې روانې وې او موږ ورته حیران حیران کتل، سعدیه یې اول ونه پېژندله، خو کله چې مور جانې ورته دهغه دملګري عبدالناصر نوم واخیست ، نو ځان ته یې راجوخته کړه ، سترګې یې یو ځل بیا له اوښکو ډکې شوې ، شونډې یې وخوځېدې او په مخ یې لاسونه راتېر کړل.

وروسته چې خبر شوم نو دمصر استخباراتو په ډېره قوي واسطه هغه له اعدام ژغورلی و او دتل لپاره یې دجلا وطنۍ سزا ورکړې وه ، یوه میاشت مو په اسلام اباد کې په ډېره خوښۍ سره تېره شوه، له پلار جان سره اشنا شوو او دهغه نوي مېلمانه مو هم وپېژندل چې پلار جان وسره په بله ژبه غږېده او زموږ کورته به له وسله سره تلل راتلل ، موږ همغسې خپلو درسونو ته ځېر و او یوه بوډا استاد راته دژبې درس راکوه که څه هم په درسونو کې زه او ابراهیم تکړه وو، خو په ژبه سعدیه له دواړو وړاندې وه او څه به چې استاد ویل نو زر به یې زده کول، حتی په اردو یا پښتو به یې کومه نیمه جمله هم ورسره ویله ، له یوې میاشتې تېرېدو وروسته له ټولې کورنۍ سره له دغه ښاره کوم بل خوا روان شوو، پلار جان مې ویل چې پېښور ته ځو، هلته به تاسې زده کړه کوئ او زه له خپلو ملګرو سره افغانستان ته ځم نور نو خپل هېواد ته هسې هم دستنېدلو نه یو، همدومره هم بس ده چې سرونه مو ترې روغ راویستل او دخپلو نورو ملګرو په برخلیک اخته نه شوم، خو بیاهم ناهیلی نه یم او شاید داسې یو وخت راشي ببرته خپل هېواد ته ستانه شو، زما هیله داده چې دخپلو ملګرو دهغو قربانیو یاد تازه کړم چې سرونه یې مسلمان امت ته دخپل پخواني برم او خلافت د راستنولو په لار کې په مېړانه قربان کړل ، خو افسوس په دې کوم، چې هغوی د دار تر تختې پورې هم زموږ خپلو

هېواد والو تر متو نيولي ښول نه زموږ دهغه دښمنانو چې زموږ برخليک يې ددوی په لاس ورکړی و.

ددې ترڅنګ به يې دورځې يا شپې په هغو وختونو کې چې کور ته به راغی ، دمورجانې غوندې نصحتونه کول.

+++++

پېښور ته دراتلو په مهال بياهم په ټوله لاره دابراهيم او سعديې ترمنځ جنګونه وو، خو ابوسلمان کاکا به پرې غوسه شو، زه بياهم حيران وم چې پلار جان مې ولې زموږ سره په يوه لار نه ځي، ما له مورجانې نه ډېرې پوښتنې وکړې، چې هغه څه شو خو راته ويل يې چې هغه وړاندې تللی موږ چې ورشو کور به يې راته نيولی وي ، موږ به په کې واچوې او دی به خپله افغانستان ته لاړ شي.

زه دلته تعجب شوم، دافغانستان نوم مې ډېر زيات اورېدلی و، داسلام اباد په کور کې به پلار جان هم له راغلو مېلمنو سره بار بار دغه نوم اخيسته او زما په ذهن کې يې يو عجيبه انځور جوړ کړی و، له پوره زيات مزله وروسته يوه ښار ته ورسېدو چې اسلام اباد ته نه پاتې کېده،خو بياهم ښکلی و رنګا رنګ نوی ودانۍ په کې جوړې شوې وې او سړکونه يې هم ډېر پراخه نه وو، موټر يوې دوه پوړيزې ښکلې ودانۍ ته ودرېده ،رنګين چت او دېوالونه يې درلودل ، ابو سلمان کاکا او ورسره يوه بل کس ويل چې همدا کور يې را ښودلی ، ټول ورننوتو ، ښکلی او شين انګړ يې ، په چمن کې دوه څوکۍ او يو مېز ايښې وو ، مورجانه او ابراهيم تر ټولو وړاندې ننوتل او سعديه له ما سره يو ځای جوړه روانه وه دلومړي ځل لپاره مې دسعديې په روښانه او زړه راښکونکې څېره کې دخفګان نښې وليدې چې شونډې يې وچې وې او ويښتان يې خواره واره معلومېدل ، ورته ومې کتل او ترې ومې پوښتل

سعديې نور راورسېدو ، ولې خپه يې ؟

په زور يې وخندل او لاس مې يې کلک کړ

نه يم خپه ، خو اخېر به تر څو روان وو او کوم زموږ کور دی ؟

ما ځواب ورنه کړ او دمور په غوښتنه ور ګرندي شوو ، په يوه کوټه کې کېناستو او کوم ملازم مورجانې ته د دوازې او الماری ګانو کلياني ورکړې، ګروپونه يې چلان کړل او يخې اوبه يې راته کېښودې، سر له همدې ورځې مو په دې ودانۍ کې هستوګنه پيل کړه ، خو پلار جان بياهم نه و ، له مورجانې به مې چې هر څو پوښتنه کړه نو ويل به يې چې رابه شي په څه کارونو پسې تللی ، هغه خو نوی له زندانه ازاد شوی خپل ملګري او دوستان ګوري ، په دويمه او درېمه ورځ مو بيا درس پيل کړ او يوه ښوونکي راته پښتو هم پيل کړه چې اوس

پرې يو څه پوهېدلو او سعديه همغسې له ما او ابراهيم نه وړاندې وه او مور جانې به تل ستايله او هڅوله....

****************************************

يوه اونۍ بيا همداسې تېره شوه، ابو سلمان کاکا هم نه معلومېده ، يوازې همغه سپين ږيري ملازم چې موږ ورته ستار کاکا وايه زموږ خدمت کاوه او دکور ساتنه يې هم په غاړه وه، که به مو څه په کار شول نو ده به راته له ښاره راوړل، دويمه اونۍ هم تېره شوه، ستار کاکا ويل چې په همدې کوڅه کې څو نورې کورنۍ هم له عربو راغلې او مشران يې افغانستان ته تللي، دريمه اونۍ پيلېده چې يو ماښام پلار جان له څو کسانو سره راغی چې وسله وال ساتونکي هم ورسره و، موږ ته يې ډالۍ هم راوړې او سعديه يې له ځان سره کېنوله، راغلي کسان په بله کوټه کې ناست وو، له مورجانې سره له څه پټو خبرو وروسته بيا همغه ملګرو ته ورغی، وروسته يو څو نور کسان هم راغلل، شپه يې همدلته شوه، ماښام يې له موږ نه يو څو پوښتنې وکړې، موږ ته خوب راته او ګرمي هم وه، ويده شوو، خو ده له مورجانې سره خبرې کولې او مورجانه خفه غونډې وه ، سهار وختي چې پاڅېدو ما لومړی دپلارجان پوښتنه وکړه خو مورجانې ويل چې هغه سهار وختي له مېلمنو سره وتلی دی.

پوره شپږ مياشتې مو په همدې کور کې تېرې کړې پلار جان به په مياشت کې يو ځل راته او بيا به يې په ساعتونو ساعتونو له موږ نه پوښتنې کولې او ښوونکی به يې هم راغوښته، خو حيران په دې وو چې هرې پوښتنې ته به يې سعديې ځواب وايه، ما او ابراهيم ورور به کله کله نه شوی ځوابولی ، دې ځوابونو به که ماته خوند راکاوه او هغه دچا خبره من من غوښه به مې پرې اخيسته ، خو ابراهيم به يو ډول کرکجن و او رخه به يې راته ، چې ددې سره سره يې دپلار جان له وېرې به يې څه نه شوی ويلی، پټ به يې سعديې ته ګواښونه کول چې ځان دې ډېر تکړه تکړه نه کوي.

يو کال وروسته دومره بلد شوو چې خپله به بهرته وتلو، څه به مو چې په کار و خپله به مو راوړل او ستار کاکا به هم نه ايسارولو، پښتو مو هم زده کړې وه سعديې وربانديې رواني خبرې کړلې خو موږ وربانديې يوازې خپل مشکل حل کولی شوی، ماته به چې کله کله خپل پخوانی وطن راياد شو نو ډېره شېبه به په فکر کې ډوب وم ، اکثره وخت به مې همغه ځايونه په خوب کې ليدل خو کله به چې په کومه شپه راته مورجانې درس وايه او دپخواني تاريخ کيسې به يې راته کولې نو بيا به دجګړې او جنګ په ذکر کې وم ، له کوره به مې رخصتي اخيسته او سعديې به راپسې ژړل ، راته غوسه به وه چې ولې مې يوازې پرېږدې ،ابراهيم خو هسې هم جنګونه او ضد راسره کوي.

دوه نيم كه درې كاله تېر شول، مورجانه همغسې غلې او تل خپه وه، لمنځونه او دعاګانې به يې كولې، سهار او ماښام به يې هغه قرانكريم مخې ته غوړېدلی و چې په اسلام اباد كې پلار جان ورسره راوړی و، له ژوند سره عادي شوو ،په پېښور كې مو څلورم كال و، دهمدې كال په جريان كې يوه ورځ پلار جان له افغانستان نه راغی يوه ډله كسان ورسره وو، لويې لويې ځنې او پكولونه يې وو چې هغه وخت يې زما نوم نه و زده ، خو ښكلي ورسره ښكارېدل، دلومړي ځل لپاره زه او ابراهيم هم په يوه كوټه كې ورسره كېناستو ، پلار جان راته ويل چې دا دافغانستان مجاهدين دي، دوی ټول عمر په جهاد كې تېر كړی، دوی د روس لوی شيطانې قوت مات كړ، خو لاهم قرار نه دي ناست اوس هم دشر او فساد په وړاندې جنګېږي ، دوی چې دالله تعالی په مرسته دغه فساد ته ماته وركړي ، له خپل وطن نه بېغمه شي، او دادي له خيره دبرياليتوب په درشل ولاړ دي ، بيا به نو له خيره په ټوله اسلامي نړۍ داسلام بيرغ رپوي ، ټول مسلمانان به ورسره اوږه په اوږه ولاړ وي ، زه كه ورو ورو دځوانۍ له ځواكه غورځم خو تاسې نېكمرغه ياست چې له همدوی سره به ملګري كوئ او داسې وخت به هم راځي چې دغه كاروان به مو تر خپل پلرني ټاټوبي رسېږي او له هغه به انتقام اخلئ چې ستاسې پلار يې په كلونو كلونو يوازې په دې شعار چې جابر او كافر حكومت ورته دمنلو نه دی ، په ټوله نړۍ دې داسلام جنډه رپانده او كفر دې مغلوب وي په تورو او تياره زندانونو كې وساته او يوه الهي قدرت د دار له سره وژغوره او دلته يې په دغه سپېره خو غيرتمن وطن كې ددوی ملګري راپه برخه كړه.

وروسته ناستو كسانو زما او ابراهيم نه هم ګڼې پوښتنې وكړې، دا چې مور په نيږدې روانه پښتو ځوابونه وركړل نو يو بل ته يې حيران حيران كتل ، تر دې ډېر مور دپلارجان روانې پښتو ته حيران وو چې له ناستو كسانو سره يې دومره فرق نه درلود خو ددې سره سره يې عربي توري په كې كارول او جامې يې هم اوس زمور پخوانيو جامو ته نه وې ورته ، كټ مټ ددوی غوندې ښكارېدو.

هو يوه خبره مې هېره شوه هغه دا چې پلار جان زمور له دلته راتلو نيږدې شپږ مياشتې وړاندې له بنده ازاد شوی و او دلته يې ژوند كاوه ،چې مور نه پرې خبر نه وو ، خو دا خبره يوه ورځ دمورجانې له خولې ووته.

مور په كوټه كې له مېلمنو سره ناست وو؛ يوه شېبه مې پام شو چې دكړكۍ شاته سيوری خوځي چې ښه ورته ځير شوم، نو سعديه وه، چې غوږ يې نيولی و او زما په ځير كېدو بلې كوټې ته په منډه لاړه خو دبل چا ورته پام نه شو، زه پوهېدم چې هغه به تل دپلار جان داسې خبرو ته ځير وه ، په مينه مينه به يې اورېدې او پوښتنې به يې كولې ، پلار جان به هم په ورين تندي ځوابونه وركول.

تر یوه کاله پورې همدغه تګ راتګونه وو، دلته نو مور نور عرب نه ښکارېدو، دپېښور پولیسو راته احترام درلود ، کله کله به حکومتي چارواکي هم له پلار جان سره کور ته راتلل او تر نیمو شپو به یې مجلسونه روان وو، خو مور یې نه ورپرېښودو ، هر څه همغسې عادي روان وو ، خو دوه کاله وروسته زمونږ پلارجان یوه عجیبه فیصله وکړه ، یو ماښام چې راغی نو دمېلمنو له رخصتولو وروسته یې زمونږ دکوټې ور را خلاص کړ ، مورجانې مونږ ته سبق بس کړ او هغه ته یې ځای پرېښود خو پلار یو څه ستړی او ستومانه معلومېده ، مور ته یې وکتل او بیا په خبرو شو

فاطمې ! ته پوهېږې چې ما څه پرېکړه کړې ؟

خو مورجانه بې له دې چې ورخطاشي ، په ډاډه زړه یې ځواب ورکړ

نه سعد اسماعیله ، دزړونو په پټو خبرو یوازې الله تعالی ښه پوهېږي ، هغه عالم الغیب دی.

پلار جان وخندل

خیر دی څه د اندېښنې خبره نه ده ، دخوښۍ زیری دی په دواړو کې زمونږ خیر نغښتی...

ابراهیم د کوم کتاب پاڼې اړولې، کتاب یې بند کړ او دپلارجان خبرې یې ورپرې کړې.

هو پلارجانه، ته غواړې ووایې ، چې بیا به یو کال نه وې او مونږ دلته یوازې پرېږدې، یا به غواړې مونږ هم درسره بوځې او مورجانه یوازې پرېږدې، ماته خو همداسې ښکاري!

پلارجان وخندل ابراهیم یې ځان ته راجوخت کړ، په تندي یې شونډې ورکېښودې ، ځواب یې ورکړ

نه بچیه ! دواړه دخیر پرېکړې دي په دواړو کې زمونږ خیر دی ، بیا لږ جدي شو لومړی یې مورجانې او بیا سعدیې ته وکتل

فاطمې! ته خو پوهېږې چې زه ډېر ستړی ستومانه وم ، کله په پیسو پسې ورک وم کله په وسلو پسې او کله بیا ان دجګړې په مرکزونو کې سرګردانه وم د اولادونو ټوله روزنه تاته در دغاړې ده او زه چې څومره ګورم تا دغه مسولیت په ښه توګه تر سره کړی دی ، دوی دریو واړو ته دې هم تعلیم ورکړ هم تربیه ، هم دې داسلامي نړۍ له اوسني حالت خبر کړي او هم دې ورته دماضي کیسې کړې ، داولاد په حقونو له ښه نوم وروسته دتعلیم حق وي مونږ دا دواړه ادا کړل ، او دریم حق هم په ځای کول غواړي.

مورجانه پوه شوه ، په شونډو يې موسکا وغوړېده لومړی يې ناڅاپي سعديې او بيا ابراهيم ته وکتل، سعديه هم لکه چې پوهېدلې وي دمور څنګ ته ورنږدې شوه خو پلار جان خپلې خبرې وغځولې

هو ما پرېکړه کړې چې همدا نن سعديه جانه دابراهيم په نوم کړم ، پوهېږم چې په راتلونکي وخت ک به زه د پخوا نه هم ډېر ستړی او لاله هانده يم، وم به کنه ، موږ خو هسې هم اوس دقربانۍ پسونو ته ورته يو ، هر وخت چې دڅښتن تعالی زړه وي وا به مو خلي.

دپلارجان په دې خبره زه هم حيران شوم، ما تر ننه نه حس کوله چې دسعديې وينه له موږ پردی ده ، سعديې مخ په پړوني پټ کړ، دمور شاته پټه شوه او ابراهيم په منډه له کوټې نه ووت ، مور جانې پسې نارې کړې

زويه ته راشه پلار دې ښه وايي، زما په زړه کې به هم دا خبره کرځېده خو ښه شوه چې پلار دې ياده کړه له دې نه خو انکار نه شو دا خو د ژوند او فطرت قانون دی.

خو هغه په درز سره ور رابند کړ او پلار جان وخندل

خير دی، دا دهر نوي زلمي عادت وي ، دا نازونه کومه نوې خبره نه ده ، بيايې سعديې ته وکتل

سعديې لورجانې ستاخوښه ده ؟

هغې مخ دمور خواته وګرځاوه

نه نه ماته داخبرې مه کوه، هغه خو تل له ماسره جنګونه کوي ...

پلار او مورجانې مې وخندل دسعديې خبرې يې ورپرې کړې

سعد اسماعيله ! ته پوهيږې چې زموږ بچيانو هم اوس ددې ځايونو عادتونه اخيستي کنه يو عرب ځوان په اوس وخت کې ددې شپبو په راتلو نارې وهي او له خوښۍ په جامو کې نه ځاييږي که داهم نه وي نو دمور او پلار له مخه داسې نه تښتي خبرې ورسره کوي دليل ورسره وايي.

پلارجان هم وخندل خو بېرته جدي شو

بس چې ته موافقه وې فاطمې دا کار به وکړو خو زما دويمه پرېکړه دې وا نه ورېده ، هغه داچې له دې سپېڅلي تړون وروسته به ابراهيم بېرته خپل وطن ( قاهرې ) ته ستنيږي او...

مورجانې مې خبرې په حيرانۍ ورپرې کړې

اسماعيله! دا ته څه وايې هغه وطن چې تا له وېرې پرېښود او دتل لپاره دې هېر کړ نو ابراهیم زوی به مو څنګه وتوانېږي، هغه خو نابلده هم دی او په ماشومتوب کې دې دلته راوستی ، دوطن همدا ډالی چې ته یې جلا وطن کړې او هلته دپانسۍ په تخته ولاړ وې بس نه ده ، هېر کړه دا وطن ، تا خو خپله ویل چې اسلام ټاکلې پوله او سرحد نه لري.

پلارجان وخندل

فاطمې همدغه دخوښۍ خبره ده، ابوسلمان چې له افغانستان نه راشي نو جوړه به ورسره ځي، ماته مې اخواني ملګرو پېغور راکړی چې هر څه دې هېر کړل ، خو ته پوهېږې چې زه الله تبارک تعالی ته نه یم ملامت او دلته هم همغسې سرګردانه یم لکه هلته به چې په شپو شپو له کوره ورک وم او ته به مې یوازې پرېښې وې ،حتی دناوېتوب او ځوانۍ ډېرې شپې دې هم بې له مانه تېر کړې.

مور جانه په دې خبرو یو څه غلې شوه او پلارجان خبرو ته دوام ورکړ

ابراهیم چې هلته لاړ شي نو څوک یې نه پېژني، نور نو ځوان هم دی او زما دملګرو داګیله او پېغور به لري شي ، لږ به په کور او جایدادونو هم پام کوي، اخېر په خپل وطن کې خو هم باید یوه نښه ولرو.

مورجانې پوښتنه وکړه

ابراهیم به دا وکړی شي.

پلار جان مې یوه شېبه وروسته ځواب ورکړ

هو زه مطمئین یم ، ابوسلمان به ورسره پوره مرسته کوي همغه به یې لار ښود وي ، اخیر ابوسلمان دکار سړی دی، لومړی زما او بیا ستاسې راتګ دلته ټول دهغه په مشورو او هڅو تر سره شوی دی او دا کار هم دهغه په ډاډ او مشوره کوم چې هلته مو هم په جونګړه څوک پاتې وي ، دخپل پلار او نیکه یاد ژوندی وساتي.

مورجانې په خواشینۍ ترې وپوښتل

دا خو سمه ده ، دعبدالوهاب زوی په اړه مې دې څه پرېکړه کړې ؟

پلار جان په ډاډ او باور ځواب ورکړ

هو دهغه په اړه مې هم پرېکړه کړې، زما یو ملګری دلته له کور سره نیږدې درملتون او معاینه خانه لري زه غواړم چې عبدالوهاب زوی مې له هغه سره شاګرد کړم چې لږ تر لږه

خو ترې دډاکترۍ کارونه زده کړي او يو وخت مو په درد وخوري اوس خو په کور کې نه ته او نه زه ددارو ګانو نوم پېژنو.

زما زړه مطمئن شو چې له وروړجان سره مې خپل پلرني وطن ته نه استوي خو زما سره د سعديې په اړه پوښتنې وې چې ماته يې ښکلې سترګې نېغې نيولې وې او په دې پرېکړه مې دهغې په سترګو کې هم خوښي حس کړه، زه ورنه ووتم او نيږدې يو ساعت وروسته پلاجان ، سعديه ، ابراهيم او مورجانه هم راووتل.

دويمه ورځ وه که درېمه خو همداسې وشول ، ابراهيم له ابوسلمان سره روان شو ، هغه سهار مې ښه په ياد دی چې دوی دواړه روانېدل ، پلار جان نه و، دمورجانې، سعديې او زما سترګې له اوښکو ډکې وې، له مانه هغه څوک جدا کېده چې له زانګو او خاپوړو تر ننه له يوبل يوه شېبه هم نه وو جدا شوي په ګډه مو لوبې کړې وې، درس مو ويلی و، په يوه بستره کې به ويده کېدو، خو کله چې په ماشومتوب کې سعديه زموږ کور ته له ابوسلمان کاکا سره راغله او مورجانې مو ورته لور وويل نو پوهېدم چې هغه زياته راباندې ګرانه ده او شېبه هم له مانه نه جدا کېږي خو له ابراهيم سره تل ضدي غونډې چلند کوي ، زه په دې هم پوهېدم چې په ما دهغې دومره نازونه د ابراهيم هم نه دي خوښ او ترمينځ يې فاصله ورو ورو ډېرېږي خو له دې وېرې چې ما به هرڅه مورجانې ته رسول؛ وېرېده ، يوازې پټ غاښونه به يې ورته چيچل.

په همدې منځ کې مې دابراهيم دهغه مينې کموالی هم حس کاوه چې له ماسره يې درلوده، اوس چې سعديه دهغه په نامه شوه، دا بيخي ناڅاپي بدلون او پرېکړه وه ، ما کله هم په خيال کې دا نه وه راوستې چې ژوند به يو وخت دا ښه غوره کوي او دژوند په لار به له داسې کږلېچونو سره مخ کېږو ، کله چې دمخه ښې په مهال ابراهيم سعديې ته لاس ورکاوه نو دهغې سلګۍ په ژړا بدلې شوې ، په منډه لاړه او دمور شاته پټه شوه ، ددوی له وتلو وروسته مورجانه تر ډېره په دهلېز کې دېواله ته ناسته وه ، په پړووني يې اوښکې پاکولې، چې زما هم زړه ورته بد شو خو زما حال هم له هغې نه چندان ښه نه و ، سعديه موږ دواړو ته مخامخ ولاړه وه ، خو خير خدای دا ورځ هم تېره کړه، په سبا بياهم په موږ يو غم و، ستار کاکا زه همغه معاينه خانې ته بوتلم چې پلار جان مې خبره ورسره کړې وه .

که څه هم ، چې هر ماښام به ناوخته کور ته راتلم ، خو دا بيا هم دمور جانې په زړه يو بل ګوزار و، چې زه به ټوله ورځ نه وم او دا به له سعديې سره يوازې پاتې کېده، هغه ډاکتر چې ما ورسره په معاينه خانه کې کار کاوه شاهدخان نومېده، ورته به ګڼ داسې کسان راتلل چې ماته عرب ښکارېدل او ما به چې عربي ورسره وويله او دپلار نوم به مې ورته واخيست نو

بیا به یې په خوښۍ غاړه راکړه او په غېږ کې به یې ټینګ کړم او ډاکتر شاهدخان ته به یې زما په اړه سپارښتنې پیل کړې ، خو ددوی له دې سپارښتنې او ستاینې پرته هم ما ډاکتر شاهدخان ته خپل لیاقت او فرمانبرداري ثابته کړې وه، هغه به ماته وراره ویل او دپلارجان صفتونه به یې راته کول، دوه نور همکاران یې هم لرل، خو په ما یې ډېر لاس سپک و او هر څه به مې دده په زړه برابر وو، په کمه موده کې مې ډېر کارونه ورنه زده کړل او ورځ تر ورځې په کار کې بلدېدم خو دپلار جان درک مې نه و کله کله به یې په کوم نا اشنا نمبر راسره تلفوني خبرې وکړې ویل به یې چې په افغانستان کې یم ، کله کله به یې دکندهار او خوست نومونه هم اخیستل خو زه نه پوهېدم چې دا کوم ځایونه دي او څه په کې روان دي ؟

وختونه همداسې تېرېدل، یوه میاشت وروسته راته پلار جان ایله دا خبر را واوروه چې ابراهیم په خیر قاهرې ته رسېدلې او دده له ملګرو سره یو ځای شوی، هغه خوشحاله و، ویل یې چې اوس به یې ملګري ددې پیغور نه ورکوي چې له خپل وطنه یې بیخي ځان ویستلی؛ خو دا اندیښنه یې هم وښوده چې حکومت یې په ملګرو دفعالیت کړۍ بیخي راتنګه کړې، په زندانونو کې یې اچولي او دګڼو فعالیتونو په تور یې پرې د اعدامونو او اوږدو بندونو سزاګانې را ایستلې دي.

له دې نه وروسته به کله کله دهغه احوال راته او پلارجان همغسې په خپلو کارونو بوخت و، کله به چې کور ته راغی نو دله ملګري او حکومتي کسان به ورسره وو ، مورجانه هم زړه خوږینې وه، له یوې خوا یې ابراهیم ته زړه خوږه او له بلې خوا ورسره دا شک ملګری و چې ګڼي پلار جان کوم بل واده هم کړی، ځکه چې کور ته کم راځي او دایې هېره کړې.

زه اوس دمعاینې خانې او درملتون په ډېرو کارونو پوهېدم ، دورځې به مې یو ساعت په لا براتوار کې هم تېروه، په ښوونځي کې هم ښه روان وم ، سعدیې هم نور دکور ټول کارونه دمور جانې له مرستې پرته کول او چې ماښام به شو نو په انګړ کې به زما په انتظار ناسته وه، کله کله به مې ورته وویل چې ابراهیم لالا دې یادېږي که نه؟ نو غوسه به شوه او مورجانې ته به یې غږ کړ چې ځوروي مې خو کله کله به یې له ضده وویل

هو خود مې یادېږي، خو ته له مانه زیات پسې مړ یې ... او له دې سره به یې منډې کړې، په پخلنځي به ننوته شېبه پس به یې ماته چای یا اوبه راوړې، مورجانې به چې کله زموږ دغه ننداره ولیده نو په وچو شونډو به یې موسکا خوره وه.

بس وختونه تېرېدل په څورلس کلنۍ کې مې له تلوېزیون او خبرونو سره مینه پیدا شوه، تر ډېره به مې دنړۍ حالات په تلوېزیون کې کتل چې لاریونونه، جنګونه او شخړې به په کې وې، دافغانستان په اړه به چې خبرونه راغلل، دجګړې ، مړو او ورانیو عکسونه به په کې وو ، پلار جان به مې سترګو ته نېغ ودرېده، چې اوس به په همداسې سیمو کې ګرځي، کله

به مې چې دټپيانو چيغې او کريږې واورېدې نو له خپلې دندې سره به مې لا مينه پيدا شوه ، کلک هوډ مې کړی و چې ددغه کسانو درملنه به کوم، کالج به وايم له ځانه به له خپل استاد ډاکتر شاهدخان نه هم تکړه او ماهر طبيب جوړوم چې دجګړې دټپيانو په درد وخورم او دپلار هيله پوره کړی شم ، تل به مې ابراهيم په خوب ليده چې سترې او سرګردانه وي، له مور به مې هر وخت دهغه په اړه پوښتنې کولې، دسعديې په زړه کې به مې هم دغه پوښتنې وې خو له مورجانې به يې په پوښتلو شرمېده او زما ځواب ته به يې داسې غوږ نيولی و چې ظاهرا به يې ځان بوخت ښوده خو په زړه کې به ښه ځېر وه، زه پوهېدم او ددې په زړه کې مې له ورورجان سره مينه حس کولی شوی، هغه له مانه يو کال کشره وه خو په قد کې زما نه نيږدې يوه لوېشت لوړه ښکارېده.

پوره پنځه کاله ووتل، په ذهن کې مې دابراهيم درنګارنګ نوي تصويرونه جوړول ، هغه توپيرونه به مې په ذهن کې انځورول چې په دې کلونو کې به دهغه په څېره کې راغلي وي، اوس به نونس کلن ځوان وي په سپين او روښانه مخ به يې تازه ږيره راغلې وي، دپلارجان غوندې لوړه پزه، جګ قد او زړه راښکونکې سترګې به يې تل زموږ په ياد غږېږي، خپله سعديه به يې په زړه ورېږي، په خوبونو کې به يې ويني او په خيال کې به ورسره خبرې کوي.

په درملتون کې راته ډاکتر شاهدخان د ورځې يو ساعت ځانګړی درس هم راکوه او اوس مې لومړۍ طبې مرستې څه چې ډېر نور څه هم ياد کړي وو او ديوه عادي ډاکتر دنده مې اجرا کولی شوی.

خبرونه مې همغسې اورېدل چې ټول له جنګونو او شخړو جوړ وو، يوه ورځ مې پلار جان ډاکتر ته زنګ را وهلی و، زما پوښتنه يې ترې وکړه ، هغه هم ماته تلېفون راکړ، حال احوال مورجانې او سعديې پوښتنه يې راځخه وکړه ما ورته وويل چې ما هم نور افغانستان ته دروله، دلته مې نور زړه تنګ دی او يامې ورورجان ته واستوه ، پلار جان وخندل او ځواب يې راکړ

زما زوی عبدالوهابه ! مخکې له دې چې ته ووايې ما په دې اړه پرېکړه کړې، خو خير دی، دوه درې مياشتې صبر وکړه، هر څه به وشي، هغسې چې ته يې غواړې.

دپلارجان له دې خبرې وروسته خوښ وم، په کور کې به مې خالي وخت دکتابونو په مطالعه تېرولو چې ډېر په کې دډاکترشاهدخان له خوا راکړل شوي طبي او په عربي ديني ، تاريخي کتابونه وو، ښه مې په ياد دي چې په دغه کتابونو په قاهره کې هم زموږ دکور يوه الماری ډکه وه، خو زه هغه وخت په مطالعه نه پوهېدم ، يوازې دمور جانې کيسې راته هرڅه وې.

کور ته چې لاړم مورجانې ته مې هم داخبره وکړه، هغه راته غوسه شوه او ویل یې چې بس دی ابراهیم مې له سترګو پناه دی، تاته هېڅ ځای دتلو اجازه نه درکوم ، بس دي چې له سهار تر ماښامه دې دراتلو انتظار کوم، دسعدیې خو لا په سترګو کې اوښکې وګرځېدې او مخامخ راته ودرېده

نه نه عبدالوهابه ! تاته څوک اجازه درکوي چې لاړ شې، ما چاته پرېږدې که ته له کورکومې خواته لاړې نو هېڅکله به هم درسره خبرې ونه کړم او نه به په مخه درشم ، کاشکې تاته معلومیدی چې څومره دې زه او مورجانه په انتظار وو، که دې بیاهم باور نه راځي نو ورشه له ستار کاکا نه پوښتنه وکړه چې هر مازدیګر دې څو ځله ورڅخه پوښتنه کوم، خو خیر دی ته ما نه شې درک کولی زه به له تانه کشره وم خو دژوند دې لوړو ژور په دې وړوکوالي کې هم ډېر څه را ښودلي دي.

دسعدیې په دې خبرو مې په زړه یخې اوبه تویې شوې، دهغه په سترګو کې پروت خپګان او مایوسي مې حس کړه، زه پوهېدم چې اوس به یې دابراهیم په اړه په زړه کې څومره اندیښني وي، څومره به یې یادېږي خو له شرم او حیا څه نه شي ویلی دغه خبره مې هغه وخت ښه درک کړه چې یوه ورځ مې ددې په کتاب کې دابراهیم ورور یو تصویر ولیده چې پاڼو کې یې نغاړلی او په منځ کې یې ایښی و، تل به یې ددې کتاب پاڼې اړولې خو زه نه پوهېدم چې په پاڼو کې دابراهیم تصویرهم دی، دهغې حق و چې دخپل محبوب په اړه یې اندیښنه کړې وی، اخېر اوس یې دژوند ملګری و، په کلونو کلونو یې درک نه و او نه خو یې پلار جان په اړه معلومات راکول ، سعدیه اوس هم ډېره صبرناکه وه .

پلارجان پوره درې میاشتې وروسته ، یوه ورځ ناوخته کور ته راغی، زه که څه هم اوس نیږدې زلمی وم، خو پلار جان همغسې دماشومتوب مینه راکوله ، سعدیه یې هم په څنګ کې ناسته وه ، دشپې یې مورجانې ته وویل چې ابراهیم ته یې احوال لیږلي چې دیوې میاشتې له پاره راشي ، سعدیه به ورته ناوی کړو او وروسته به دواړه بېرته لاړ شي، که ممکنه وي نو ته به هم ورسره لاړه شې خو ابراهیم به سر له سبانه زما دڅو ملګرو سره افغانستان ته لاړشي ، هو نور ډېر مصري ځوانان هم شته ، دی به ورسره وي، په افغانستان کې هغه ډله نور د خورېدو او روانېدو په حال کې ده چې موږ ورسره دشر او فساد دختمولو او دیوه اسلامي حکومت درامینځ ته کولو لپاره شپه او ورځ کار کاوه ، زموږ پاکستاني ملګري وایي چې اوس ددوی دپرمختګ لپاره ښه زمینه مساعده ده، زموږ عرب ورونو هم له خپلو هېوادونو ګڼ ځوانان ورسره مرستې ته را وستلي او چمتو کړي دي ، په دوی کې څه له پخوا نه هم په

افغانستان کې پاتې و ، زموږ زوی ابراهیم به هم ددې نوې ډلې یو همکار او غړی وي ، زه په پوره باور سره ویلی شم چې دغه ډله به د ډېرو نورو اسلامي خوځښتونو لپاره الهام شي.

مورجانې ترې وپوښتل

ډله ؟

پلار جان په فاتحانه انداز چت ته وکتل او بیایې ځواب ورکړ

هو دطالبانو په نامه یادیږي، ښه مخلص ملګري په کې راغونډ دي ، که په دې خپه کیږي امارت به ورته ووایو ، په سر کې یې یو امیر دی.

سعدیه چې وړاندې دپلار په کړې خبره له حیا غلې ناسته وه، په دې خبره یې هرڅه هېر کړل او دپلار څنګ ته ودرېده.

پلارجانه ! زه نه غواړم عبدالوهاب زموږ له څنګه جدا شي ، نه ګورې چې تاهم زه او مورجانه یوازې پرېښي یو ، دا یو ته بس نه یې چې ټول عمر ورک وې ؟

پلارجان وخندل او سعدیه یې څنګ ته کېنوله

سعدیې لورې ! ته مه خپه کیږه ،اسماعیل کله هم چاته دبې غیرتۍ درس نه ورکوي ، که ته هم یو هلک وی نو په کور کې به مې داوسېدو او پاتې کېدو اجازه نه وه درکړې، ما خو دهمدې جذبې لپاره خپل وطن او خاوره هېره کړې ، عبدالوهاب دشاهین زوی دی او باید شاهین وي، په لوړو څوکو باید الوت وکړي ، نه چې دکورنې چرګ غوندې ددې وړوکې چاردېوالی په انګړ کې وګرځي.

سعدیه دپلار په خبره وشرمېده، همداسې چوپه خوله له ځایه پاڅېده او له کوټې ووته ، دګروپ په رڼا کې مې کتل چې دمور جانې سترګې هم له اوښکې ډکې دي خو څه نه وایي.

زه که څه هم خوښ وم، چې سبا ته به له خیره نور دهمغه کسانو خواته ځم چې هره ورځ به مې دتلویزیون په خبرونو کې لیدل، خو کله به چې سعدیه راپه یاد شوه چې زما له په تګ به یې په زړه کې څه تېریږي او څه حال به یې وي، مورجانه چې هسې هم دابراهیم لالا بېلتون دردولې زما په نشتون کې به یې غم دوه چنده شي ، خو خیر دی له دې ټولو اندیښنو سره دخوب کوټې ته لاړم لا اوده نه وم چې ور را خلاص شو ،که ګورم سعدیه ده ، سترګې یې سرې وې ، څنګ ته مې کېناسته، په خبرو شوه

عبدالوهابه ! ته ریښتیا ځې ؟

هو دپلار جان غوښتنه ده، ما خو پخوا درته ویلي وو چې له شهادت او جنت سره باید هر مسلمان مینه ولري، زه چې چېرته ځم دا دهمدغه هدف لار ده، که په خپل وطن کې مې جهاد ونه کړ دلته خو به يې وکړم، تا نه دې اورېدلي چې په اسلام کې وطن ، پوله او بریدونه نه وي، څه قاهره او څه پېښور یا افغانستان خو ته مه خپه کېږه، تل به مې په یاد وې، دمورجانې خدمت کوه چې زما نشتون حس نه کړي، دپلار جان ملګري شاید سهار وختي په ماپسې راشي او...

سعدیې مې خبرې راپرې کړې او ویې وپوښتل:

که هغه راشي نو ...؟

نوره خبره بې ونه شوه کړی او زه هم پرې پوه نه شوم

ومې پوښتل

څه ... که څوک راشي ...؟

سعدیه بیا له حیا تکه سره شوه

څه نه پلار جان خو ویل چې بله میاشت راځي او ته به نه وې

پوه شوم چې ابراهیم ورور یادوي په خندا مې ځواب ورکړ

وه لېونۍ زه به له هغه نه مخکې دلته حاضر وم، دورور جان واده به وي او زه به نه وم ، هلته خو دی پټ ګرځي ځکه ترې احوال نه لرو، دلته چې څنګه را ورسېږي نو اول به ما خبروي او بیا که زه دجګړې په لومړۍ کرښه کې هم وم نو په منډه به راځم.

سعدیې وخندل خو په څېره کې یې دخپګان خورې نښې دپټېدو نه وې، له څه خبرو وروسته مې سترګې پټې شوې ، سهار وختي پلار جان راویښ کړم چې څو مې لمونځ کاوه نو بهر چا ددروازې زنګ وواهه، ور ووتم دوه فوځي ډوله موټر ولاړ و او دپلار جان پوښتنه يې کوله ، پلار ته مې وویل،خو هغه پوه شو ویل یې همدا زما ملګري دي ځان تیاروه او ورسره ځه ، زه دلته په پېښور کې لږ کارونه لرم او درې څلور ورځې وروسته درځم هلته په افغانستان کې به دې ووینم ، هېڅ تشویش مه کوه ، دمورجانې لاسونه مې ښکل کړل ، په ژړا یې راسره مخه ښه وکړه خو سعدیې ته چې ورغلم په ځان پسې یې دکوټې ورکلک بند کړی و او دسلګیو غږ یې اورېدل کېده ، زما زړه هم ډک شو ، همداسې ووتم پلارجان له خلکو سره خبرې کولې، زه یې ورمعرفي کړم او دواړه موټر چې له وسله والو ډک وو ؛ روان شول.

زه دلته دومره بلد نه وم ، خو پښتو مې اوس ښه وه، حتی له ځایي خلکو سره مې هېڅ فرق نه کېده، نه پوهېدم چې چېرته یو، دویمه ورځ راته یوه ملګري وویل چې دا کوټه ده او سباته

کندهار ته ځو ، ریښتیا هم همداسې وشول سبا مازدیګر له یوه وړوکي کاروان سره یوه ښار ته ورسېدو چې کندهار یې ورته ویل همغه ملګري قدم په قدم لارښووني راته کولې او دځایونو نومونه یې راښودل ، راته ویل یې چې دطالبانو خوځښت له همدې ځایه پیل شوی، یوه میاشت زده کړې او تمرینونه وو ، دلومړي ځل لپاره مې ټوپک استعمال کړ، نښه مې وویشته او په عملیاتو کې برخه راکړل شوه، ټول همغه کسان وو چې مابه دتلویزیون په خبرونو کې لیدل.

شاړې لونګی اوږده کالي چې دفوځیانو غوندې نه وو خو زموږ عربو ته یې زیات درناوی درلود ، کومه ورځ زموږ دوه درې کسه چې زموږ سره لومړی کرښې ته تللي وو سخت ټپیان شول ، دېتی لګولو څوک نه وو ، له مجبوریته ماېرې پټی ولګولې ، قومندان چې له دې نه خبر شو چې زه په دارو درملو هم پوهېږم نو زیات یې تشویق کړم او راته ویل یې چې نور به په دې کارونو پوره مرسته کوې چې ماهم ورسره ومنله ، پوره شپږ میاشتې مې تېرې شوې ، کور ، مورجانه ، سعدیه دابراهیم راتګ مې ټول په زړه ورېدل خو دپلار جان درک نه و ، نه یې په دې دومره موده کې زما پوښتنه کړې وه.

ماهم څه نه ویل ، زه پوهېدم چې ډېر زیات بوخت دی او شاید تر اوسه ابراهیم هم دبوختیاوو په سبب نه وي راغلی ؛ ځکه که راغلی وی نو زه خو یې حتما خبرولم ، دسعدیې او مورجانې یادونو او د راتګ په وخت خپګان راته بل سرخوږی جوړ کړی و ، تل به یې ځورولم او ګډوډ خوبونه به مې لیدل ، داوومې میاشت په پیل کېدو مې اندیښنه بیخي زیاته شوه ، بوختیاوو او دملګرو مینې دومره اخیستی وم چې درخصتۍ اخیستلو لپاره به مې هم وخت نه درلود، دعربانو څو پټو دفترونو ته ورغلم ، له قومندانانو نه مې هم پوښتنې وکړې خو هېچا راته دپلار په اړه معلومات رانه کړل ټولو ښه ورسره پېژندل ویل یې چې روغ جوړ دی خو ډېرې بوختیاوې ور دغاړې دي او په دې حساس وخت کې کله یو ځای وي، کله بل ځای چې ارام شي؛ حتما به ستا پوښتنه کوي، تر هغو پورې صبر وکړه، خو نور زما زړه د ارام نه و، ما ویل که رخصتي یې رانه کړه نو پټ ځم او دمور پوښتنه کوم خو ښه وه چې قومندان ته مې یاده کړه، نو شل شپې یې اجازه راکړه ویل یې چې اوس دجګړې له لیکو زیات ټپیان راځي، تاته ډېره اړتیا ده زر به راځې .

مازدیګر مهال بېرته په راغلې لار روان شوم ، پرلپسې مزل مې وکړ، په کوټه کې هغه مرکز ته هم ورغلم چې یوه شپه مو په کې کړې وه، دپلارجان پوښتنه مې وکړه خو نه و، یوه کس چې زه یې پېژندلم او دکوم عربي هېواد و ویل یې چې پنځه میاشتې وړاندې یې یو ځل دلته په کومه ناسته کې لیدلی بیایې درک نشته، له هغې ځایه هم روان شوم، پېښور ته مې حرکت وکړ، دویمه ورځ ناوخته ورسېدم او همغه کور ته ورغلم، زړه مې درزېده دروازه مې ټک

ټک کړه، په دې انتظار وم چې اوس به ستار کاکا په منډه راووزي خو دروازه یوه بل کس راخلاصه کړه ویل یې له چا سره دې کار دی، ماورته کیسه وکړه ، پوه شو، زر یې یوه بله پته راکړه ویل یې هغه دعرب کونډه یادوې ؟

زما زړه پرېوت ورته ومې ویل چې دا د شیخ اسماعیل کور دی، زه دهغه زوی یم.

بیا یې په ډاډه زړه ځواب راکړ.

راځه زویه ! ستړې به وې ارام وکړه بیا به دې زه ورورلم،هغوی پنځه میاشتې وړاندې کور بدل کړی، مایې بلنه رد کړه ، ما ویل ستړی نه یم ، یو ماشوم یې راسره روان کړ، پنځه شپږ کوڅې ها خوا یوه ساده کور ته یې ودرولم، دروازه مې ټک ټک کړه، ستار کاکا راووت ، په خندا یې غېږه راکړه ، ناري یې کړې

تروري ، تروري هغه راغی ، عبدالوهاب زوی دې!

ورننوتم یو پوړیز وړوکی کور و، مور جانه په زهیر حالت په انګړ کې را روانه وه او سعدیه لا وختي ددروازې څنګ ته ولاړه وه ، وړاندې یوه بله ځوانه ښځه هم له دریو وړوکو ماشومانو سره حیرانه ولاړه ښکارېده.

دمور جانې سترګې په کې لوېدلې وې، رنګ یې توربخونده شوی و، پوهېدم چې په کور مو کومه ټکه را لوېدلې، په غېږ کې یې ټینګ کړم ، مایې هم بې واره لاسونه ښکل کړل خو سعدیې ته چې ورلنډ شوم نو څنګ ته ودرېده ، په سلګو نیولې انداز یې راته وویل

څه څه زه درنه خپه یم ضدي ، ولې دې مور یوازې پرېښوو او خپله لاړې ؟

پوهېدم چې په ماشومتوب کې هم دهغې پخلا کول او ضد ماتول دومره اسانه نه و ،اوس خو په پیغلو کې حسابېده او خبره ګرانه وه، ښننه مې ترې وغوښته او زاری مې ورته وکړ ، ددې سره سره یې تاثیر پرې ونه کړ، ستار کاکا هم مړاوی او خپه ولاړ و ، ما چې هغې بلې ښځې ته حیران حیران کتل، نو دی هم پوه شو ویل یې چې دا هم خپله مور وګڼه ، دهمدې ځای ده ، ته چې لاړې دوه میاشتې وروسته دې دپلاجان یوه ملګري راوسته ، پوه شوم چې دمورجانې هغه اندیښنه چې کوله به یې بې ځایه نه وه او پلارجان مې ریښتیا هم بله ښځه درلوده.

کوټې ته ننوتو ، دمور جانې په زړه کې هم خبره دېټېدو نه وه ، ټوله کوټه سلګو او ژړا ګانو په سر اخیستې وه، ما مورجانې ته وویل چې ماته دپخواني کور ساتونکي هر څه ویلي نو ځکه یې خبره رانه پټه نه کړه، دټولو په سترګو کې داوښکو درېدلې سېلابونه رامات شول ، پلار جان زما دتګ په همغه اوله میاشت په جګړه کې سخت ټپي شوی و، مورجانې ویل چې

ملګرو یې دلته راوړ پې کوم روغتون کې بستر و خو په دې وخت کې ورته له قاهرې نه زنګ راغی...

دمورجانې غږ دلته ټپ شو، خبرې یې پرې شوې

زه هم ورخطا شوم ، چیغې مې کړې

نو څه ، دڅه زنګ و ؟

مورجانې اوښکې پاکې کړې او خبرې یې وغځولې....

کوم چا ورته دهغه ددریو ملګرو داعدام خبر ورکړ چې ابراهیم هم په کې شامل و ، دقاهرې پټې پوځې محکمې داپرېکړه کړې چې یوازې دهغوی نیږدې ملګري پرې خبر دي، نور مې ابراهیم زوی نه راځي او ... دمورجانې خبرې په ستوني کې بندې شوې ، په چیغو شوه

بس دا خبره نه وه ، دټوپک ګوزار و ، په سلګو کې یې خبره بشپړه کړه

پلار جان دې همدلته سلګۍ ووهلې ، الله تعالی دې جنت ورنصیب کړي.

بیا نو نه یم پوه شوی، چې څومره به مو ژړلي وي، ټوله نړۍ مې په سر وګرځېده.

پوره یوه میاشت مې په چیغو او سلګو تېره کړه، یو ځل ډاکتر شاهدخان هم راغی خو ماته یې ډاډ راکولو کومه ګټه نه درلوده، دمور نتلي او درېدلې زېړې څېرې ، دسعدیې وچو شونډو او لوېدلو سترګو په ما دژوند هره شیبه قیامت کړې وه ، له درده مې دسعدیې سره یوه خبره هم نه شوی کولی، هغې ته به مې چې کتل ، نو زړه به یې زرې زرې کېده ، شپږ میاشتې وړاندې چې ما هغه لیدلې وه نو دشوخې ، مستې او ښکلې پېغلتوب نښې په کې ښکاره وې، که څه هم له مانه کشره وه، خو په قد کې راځخه لوړه او مشره ښکارېده ، اوس هغه سعدیه بل ډول شوې وه، اوښکو یې په مخ لارې کړې وې، هره شیبه به یې دمور غونډې قران کریم لوسته ، له ماسره یې هم خبرې کمې کولې او دپخوا خلاف یې یو ډول حیا راځخه کوله چې یوازې زه پرې پوهېدم ، ایله اوس دخپلو خوبونو په تعبیر پوهېدلی وم، چې په کندهار او نورو سیمو کې مې لیدلي وو ، درې ورځې پرلپسې هر مازدیګر دپلار قبر ته چې نیږدې په یوه هدیره کې و؛ ورتلم او هلته به مې اوښکې تویولې، یوه ورځ خو مورجانه او سعدیه هم راسره لاړل ، مورجانې راته بیاهم نصیحت کاوه ، صبر او دپلار دلارې تعقیبولو ته یې رابللم .

دی نږدې یوه میاشت وړاندې راغلی و، په پېښور کې یې دمور پوښتنه کړې وه ، په پلار جان پسې یې اوښکې تویولې، بیا افغانستان ته راغلی و په پوښتنه پوښتنه یې زه پیدا کړی وم ، له څه خبرو وروسته یې راته وویل چې مورجانه او سعدیه بېرته قاهرې ته بیایم، ته هسې هم

دلته بوخت یې او دهغوی سره څوک نشته ، پیښوری مېرمن دې یې دلته پاتې وي ، خو ستا مور جانه به هلته له ماسره اوسي ، سعدیه لور به خپل سبقونه هم ووایي ، هر وخت چې ته وزګار شوې له خیره بیابه نوم او خپل ژوند له سعدیې سره شریک کړې.

ابراهیم زوی دې خدای وبښي ، دهغې له مرګه وروسته سعدیې اوس په دې نړۍ کې یوازې تاته سترګې نیولې او ته به وعده کوې چې ددې لپاره به ځان وزګاروې ، ته که اوس چمتو وې هم نو زه به دا کار وکړم ، ستا په نوم به یې کړم بیادې چې واده هر وخت کاوه خو دهغې زړه به ډاډه وي.

زه غلی شوم او زما چوپتیا ورسره دهمدې مانا لرله، خو بیا مې هم ورته وویل، چې دا هرڅه منم او زه هغه اوس ښه حس کولی شم ، خو کله چې لږ وزګار شم نو خپل ژوند به ورسره شریک کړم ، بیایې بلنه راکړه چې زه هم دمخه ښې لپاره ورسره لاړ شم خو ماته په روغتون کې پرتو ټپیانو دا اجازه نه راکوله ، دوی هم له بل چاسره کار درلود ، بیړه یې وه ، مخه ښه مې ورسره وکړه او ددوی دتلو په مهال مې یو لوی بار له زړه نه لرې شو، خو په دې مې بیاهم ځان ملامت ګڼه، چې ولې دهغوی سره مخه ښې ته ورنه غلم ، ددوی له تګ مې نور په ډاډه زړه کار ته دوام ورکړ، که په روغتون کې به کار نه و نو بیا به دجګړې لیکو ته له خپلو ملګرو سره تلم ، اوس مې زیات ملګري درلودل ، یو بل ته مو په زړونو کې بې ساري درناوی و ، خو په دغه ملګرو کې مې دډېرو دمرګ وروستۍ سلګۍ هم څه په روغتون او څه دجګړې په لومړیو لیکو کې په خپلو سترګو ولیدې ، چې له ژوند سره یې خدای پاماني کوله خو موږ ته یې دا پیغام راکاوه چې زموږ لاره پرېنږدئ.

هغه وړوکی ډله چې دیوه وړوکي ښار له شاړو کوڅو یې فعالیت پیل کړ او موخه یې داسلامي شریعت پلي کول او داسلام سرلوړي وه ، په ډېر کم وخت کې یې په ټول هېواد خپل سپین بیراغ ورپاوه ، دلاره شکوونکو ، غلو ، داړه مارانو او عصمت پلورونکو ګروپونو مخه یې ونیوله ، له چا سره دسفر په مهال دشپې او ورځې وېره نه وه ، سر ، مال او عزت یې خوندي وو.

اوس موږ ټول دهمدې نظام لپاره جګړه کوله، مخ په وړاندې روان وو ، قربانۍ مو ورکولې او چا دا پوښتنه راڅخه نه کوله چې ته عرب یې که افغان یا بل څوک ؟ چا ددې پوښتنه نه کوله چې دنظام په راس کې څوک دي ؟

پلان او امکانات دکومه کوي ؟ بس دیوه مشر چې ملامحمد عمر یې باله امر چلیده ، ټول دهغه دامر او فرمان تابع و، دلته نه کوم روزل شوی پوځ و ، نه پیاوړي جنرالان وو، نه هم دومره پرمختللې وسلې چې په یوه وخت کې هم خپل کورنې دښمن ته دجګړې په ډګر ماته ورکړې

هم دنړیوالو په سر کې دامریکا ګواښونو ته ځواب ورکړي، موږ یوازې په الله (ج) توکل کړی و، په همدې کې زموږ دبریالیتوب راز نغښتی و او مخ پر وړاندې روان وو.

په پنځم کال کې دغه ګواښونو زور واخیست، ما له خپل وطن نه لرې هر څه هېرکړی وو، مورجانه ، سعدیه او ابوسلمان چې یوازې دپلار سره یوې ملګری زموږ دکور غړی ترې جوړ کړی و او ګڼې قربانۍ یې زموږ لپاره ورکړې او لا مې هم مورجانه او سعدیه دهغه سره اوسېدل.

نور نړۍ والو حس کړه چې دغه نظام مخ په وړاندې روان دی، خو کوکنار که څه هم په یوه فرمان بند شوي وو ، دښځو دحقونو نه ورکړه ، دمدني ټولنو او بیان دازادۍ نشتون ، دالقاعدې مرستې ، په افغانستان کې اسامه بن لادن شتون ، دنړیوالو ادارو تړل او بهرنیانو ته دفعالیت اجازه نه ورکول که څه هم دامریکا او ملګرو ملتونو پخوانۍ بهانې ،اندیښنې او غوسې وې خو په همدې کال دسپټمبر په ۱۱مه په امریکا کې دالوتکو بریدونو چې خپله دامریکا دجاسوسي ادارې (CIA ) پلان و ، دغه غوسې ته اور ورکړ، دکلیسا پاپانو په دغه اور تېل واچول او ټولې نړۍ ددغه نظام د له منځه وړلو لپاره پراخه عشر وکړ ، نور ه خپله پوهېږې چې څه وشول او تر اوسه څه روان دي ، خو دا مې هېڅکله نه هېرېږي چې له ورونو هم خواږ ملګري مې راځخه لاړل ، شاید دا به دیو چا دعاګانې وي چې په دې دومره کالونو کې ژوندی پاتې شوم، په مرګونو کې مې لوبې وکړې، تر دې وخته ولوبېدم ، خپل وطن ، مور جانه او سعدیه مې همغسې پرېښودل، دا لس کاله مې ټول له خپلو ملګرو سره یوازې په دې تېر کړل چې دخپلو ملګرو یاد تازه وساتم او یو ځل بیا ثابته کړم چې موږ مات شوو خو مړه نه شوو او لا د الله تعالی له درباره ناهیلې نه یو، دا به شاید زموږ په راوستې نظام کې دځینو نا اهلو کسانو درانونوتلو او پتېدلو بدله وي چې ایتلافي لښکرې مو تر هر کلي او کوڅې پورې ورسېدې، پخواني داړه ماران بیا واک ته ورسېدل او زموږ په ملګرو یې زندانونه ډک کړل خو نور به درته....

دسعدعبدالوهاب سترګې له اوښکو ډکې شوې، سر یې په زنګون تکیه کړ، غلې غلې سلګۍ یې وهلې او زما سره هم نور ددې دردوونکې کیسې تاب نه و ، لمر اوچت راختلی و ، په مخابره کې پشهار شو، را اوچته مې کړه او عبدالوهاب ته مې ورکره ، زه هم له کوټې بهر ووتم ، په ذهن کې مې یوازې عبدالوهاب ، دهغه دقربانیو دردونکې کیسه ، دهغه مور او سعدیه ګرځېده چې اوس به دخپل دې یوازیني نازولي زوی په اړه څه فکر کوي ؟

خوښ وم چې دهغه سره ملګری شوم، خپلې دتېرو اوو اتو کالونو قربانۍ او سترې راته هېڅ ښکاره شوې، هرڅه راته حیرانوونکي وو ، لکه کوم خوب مې چې لیدلی وي ، خو دا هرڅه ریښتیا وو ، خوب نه و ، عبدالمنیر هم په کوټه کې اوده و ، له وړوکي پخلنځي ځخه دودونه

جګېدل او خاله په پخلي لګيا وه ، دکړکۍ ځنګ ته یې غلی ودرېدم چې عبدالوهاب هم له کوټې راووت ، راپسې غږ يې کړ ، څنګ ته يې ورغلم ويل يې چې مشر غوښتي يو ، هسې دې په کيسه دومره بوخت کړم ، اوس هم ناوخته شوې ، په خبره کې يې ور ولوېدم

ته څه وايې عبدالوهابه!

تا خو ويل چې نن روغ نه يې ، ته ارام وکړه ، په عبدالمنير به هم پام ساتې هغه ته به زه ورشم او ستا عذر به ورته وړاندې کړم، هغه په خپل تګ ټينګار کاوه، خو ما ونه منله ، خدای پاماني مې ترې واخيسته، له کوره ووتم او په ښار کې دمشر له خوا رانښودلي ځای ته ور روان شوم .

دهمدې ورځې په سبا راته زموږ ځايي مشر يو څو نوي کسان رامعرفي کړل او زياته ستاينه يې وکړه، چې تکړه خلک دي، کار ورڅخه واخلئ، ددغه لسو کسانو څخه يې نيږدې ټولو څو ځله دامريکايي سرتېرو په کاروانونو او دهغوی په مرکزونو بريدونه کړي وو، ځکه زموږ مشر راته ځانګړې سپارښتنه وکړه، چې بايد له نورو ملګرو سره هم معرفي شي او ګټه ترې واخلي، ماهم ځينو ملګرو ته چې زموږ سره په اړيکه کې وو؛ ور وپېژندل، دوی دټانکونو او درنو فوځي وسيلو لپاره دماينونو په جوړولو کې هم مهارت درلود چې دا زموږ لپاره يوه ښه خبره وه ، عبدالوهاب ته مې هم ترې يو څو کسه ور وښودل، معاينه خانې ته ورتلو په مهال يې نومونه ورسره وليکل او بيايې يوه شپه هم په کور کې راسره وکړه، دفعاليتونو له پيل سره ددوی کار نتيجه ورکړه او په هلمند کې مو پرې دبريتانوي سرتېرو ديوه کاروان څلور ټانکونه والوزول، خپله وړتيا يې ثابته کړه، وروسته بمبار هم پرې وشو چې دوه درې په کې له مينځه هم تللي و، نور يې دفعاليت ساحه هملته وه خو موږ خپل پلانونه په کندهار کې جوړول ، ډېر وخت به مې له عبدالوهاب سره تېرېده ، کار ته مې همغسې دوام ورکړ.

له موږ دواړو سره ، دعبدالمنير په اړه اندېښنه وه، په دې حيران و چې څه وخت به هغه له موږ نه بيايي او په اړه يې ولې کوم پيغام نه راځي، خو بيا به مو ويل چې شايد تر اوسه مناسبه موقع نه وي راغلي، چې دهغه لپاره دبريد زمينه برابره شي ، زړه مې هم پرې دردېده خو دعبدالوهاب کيسه چې دجمعې په ورځ يې راته کړې وه دهغه کيسه بيخي زما له ياده ويستې وه ، دوی دواړه دردېدلي وو او زه هم ورڅخه کم نه وم ، خو په هر څه مې صبر کاوه ، پټې مې په زړه کې دواړو ته دعاګانې کولې، له ځينو مهمو ملګرو سره مو داړيکو ځای يوازې دعبدالوهاب معاينه خانه وه چې دناروغانو په بهانه به راتلل او له ويرې به مو پټې او په رمز کې سره خپلې خبرې او نوي پلانونه مو شريکول.

دراتلونکي پنجشنبې په شپه يې زنګ راته وواهه، ويل يې چې يوځل معاينه خانې ته راشه، يوه خبره درسره شريکوم.

زه ورخطاشوم او پوښتنه مې ترې وکړه

دځه خبره اوس یې نه شي راته ویلئ ؟

غاړه یې تازه کړه او بیایې ځواب راکړ

هسې د عبدالمنیر په اړه یوه خبره وه

زه پوه شوم چې شاید دهغه په اړه کوم نوی خبر راغلی وي، په کور کې مې څه کارونه وو ، هغه مې خلاص کړل او ماسپیښین مهال دهغه خواته ور روان شوم، په ښار کې ګڼه ګونه وه ، خو هغه کوځه چې دهغه معاینه خانه او درملتون په کې وو له ګڼې ګونې یو څه لرې وه په څنګ کې د خوراکي توکو پلورنځي وو، چې ور ورسېدم، نو دوه کسه ورسره ناست وو او دیوه کس معاینه یې کوله ، ښه راغلاست یې راته وویل ، په څوکۍ کېناستم او پوهېدم چې عبدالوهاب بوخت دی، نیم ساعت وروسته وزګار شو ، خواته یې ورغلم غاړه مې ورکړه ، څنګ ته یې کېناستم، دکارونو پوښتنه مې ترې وکړه، ده له وره نه بهر وکتل او بیا مې څنګ ته راغی

ابراهیمه وروره!

پرون سهار همغه کس راغلی و...

په بیړه مې ترې وپوښتل

څوک پوه نه شوم ؟

همغه کس چې عبدالمنیر یې دلته راوستی و، سلام خان یادوم

ښه ښه پوه شوم څه یې ویل ؟

بس دعبدالمنیر پوښتنه یې کوله، ویل یې چې زیاته پاملرنه پرې کوئ ، دشنبې په ورځ به یې له موږ نه بوځي، دهغه دقربانۍ وخت رارسېدلی، هغه کس ویل چې له کابله څوک کندهار ته راځي، کوم مشر چارواکی دی، چې بهرنیان هم ورسره دي او فکر کوم دوی دعبدالمنیر لپاره همدا موقع مناسبه ګڼلي، هسې یې هم نور زموږ لپاره ساتل ښه نه دي نه ویل کېږي، دا بیا زموږ نورو ملګرو ته ښه نه تمامېږي، هغه کس ویل چې دوه کسه نور استشهادیان یې هم ورته چمتو کړي چې نن به خپلو ټاکل شوو ځایونو ته ورسول شي، ددغه دوو کسانو درا وستلو دنده هم دهغه په غاړه ده ، که موږ ته هم اړتیا شي نو باید چمتو وو، نور یې ماته هم معلومات نه دي راکړي ، چې په دې کسانو کې به څوک وي او دځه لپاره راځي، خو خیر دی همدا بېګا ته شاید له موږ سره دهغه وروستۍ شپه وي، ماویل زموږ نه خپه شوی نه وي،

که څه هم تر عمره چا له ژوند سره قرار داد نه دی کړی، خو هغه په دې نړۍ کې ډېر کم وخت لري ، سبا بله ورځ شايد نه وي.

ابراهيمه ! که ريښتيا درته ووايم، دهغه په حال مې ډېر زړه خوګيږي، کله چې دهغه کورنۍ او په ځانګړي ډول دهغه مور راياده شي نو زړه مې درد وکړي...

مايې خبرې ورپرې کړې

عبدالوهابه وروره ! ته څه وايې دهغه نه زيات ستا حالت دخواخوږۍ وړ دی داد کلونه تېر شول چې له خپلې کورنۍ او خپلې سعـــ...

خبره مې مناسبه ونه ګڼله ، دسعديې نوم مې وانه خيست، په نيمايي کې مې پرېښود خو هغه وخندل

نه نه صفي خبره دې بشپړه کړه تا څه ويل ؟

ماهم وخندل

ما ويل سعديه دې هېره کړې او کلونه وشول چې احوال هم نه ورنه لرې ، که يې په خوبونو کې وينې نو هغه بېله خبره ده

دعبدالوهاب په نريو شونډو مړاوې موسکا خوره شوه

وروره! زه باور لرم چې په ژوند کې به خدای يوه داسې شېبه ضرور راولي چې زه په کې خپله سعديه ووينم ، زه پوهېږم چې هغه په دې نړۍ کې اوس ټولې هيلې په ما پورې تړلې دي، زه باور لرم، چې هغه به هره شېبه زما انتظار کوي ، الله تعالی پوهېږي چې دمورجانې به څه حال وي، خو خير ما دوی ټول دهغوی په خالق سپارلي او يوازينۍ دعا مې داده چې خالق مو په خپل فضل او کرم يو ځل بيا سره يو ځای کړي او دمورجانې لاسونه ښکل کړم او...

زه يې بيا په خبره کې ور ولوېدم

او خپلې سعديې ته په چيغو چيغو وژاړې کنه ؟

عبدالوهاب په خندا کې غوسه غوندې شو

دا څه وايې، ګوره ابراهيمه وروره! ته ډېر شوخ شوی يې ، دا ددې وخت نه دی ، بېګاته بايد له ماسره کور ته لاړ شې ، که څه امر راته وشي نو يو ځای به وو او دملګرو سره به زر يو ځای شو، سمه ده ؟

ماهم ورسره ومنله او په دې خوښ وم چې دهغه په شونډو مې ديوې شېبې لپاره موسکا وليده .

موږ لا په دې خبرو کې وو چې درې کسه راننوتل، په ساده جامو کې وو، له دوو کسانو سره په لاسونو کې نسخې وې، سلام يې وکړ او هغه ته يې په مېز کېښودې ، په لوړ غږ يې وويل

ډاکتر صيب محترمه دا دواګانې لرې ؟

ده ورسره ستړي مه شي وکړل ، دهو ځواب يې ورکړ بيا ددارو ګانو په را اخيستلو لګيا شو، ددوی لهجې هم دکندهاريانو غوندې نه وې، له جامو نه هم زموږ غوندې نه ښکارېدل، دوه کسان له عبدالوهاب سره په خبرو لګيا وو او يو بل کس په ټوله دواخانه او دټسټونو په ځانګه کې سترګې غړولې، د ښار په دې برخه کې به اکثره دلابراتوار او درمتلون برخې بېلې وې يوازې دی و چې دواړه يې لرل ، ما فکر کاوه چې شايد دا به ورته دتعجب وړ وي خو دده سترګې په وار وار هرې خوا ته اوښتې کله به يې زه او عبدالوهاب سر تر پښو له نظره تېر کړو ، ماته يې وويل

ته هم ناروغ يې ؟

ځواب مې ورکړ

هو، له ډاکتر صيب سره ملګري هم لرم ، يوازې و ، يو څو شېبې ورسره تم شوم ، ډېر تکړه او ايمانداره سړی دی.

هغه هم وخندل

هو، مونږ يې هم صفت اورېدلی و ، له ډېرو درملتونونو راتېر شوو، خدای دې نور توفيق هم ورکړي، ډاکتر صيب تر څو بجو پورې کار کوي ؟

تر پنځو يا شپږو بجو تر ډېر ناوخت پورې کار نه کوي، هسې هم وروسته بيا مراجعين نه وي.

ياني دشپې کار نه کوي که اړتيا شي ؟

ځواب مې ورکړ

نه، دشپې دکور کارونه ور دغاړې وي

دوو نورو ته هم ځير شوم چې له عبدالوهاب نه يې بېلابېلې پوښتنې کولې، خو زه ور اوچت شوم او دځينو پوښتنو ځوابونه يې ما ورکړل ، لکه دولسوالی ، کلي او سيمې، دهغه دزده کړو، ما هرڅه ورته خپل وښودل او هغه مې کټ مټ خپل کليوال معرفي کړ.

دعبدالوهاب بحثونه او خبرې دومره نه خوښېدې او اکثره به یې ماته هم یوازې دخپلو پوښتنو ځواب راکاوه ، اوس یې هم دوی ته دهو او نه ځوابونه ویل ، په همدې کې کوم بل کس هم دمعایناتو لپاره راننوت چې ښځه ورسره وه ، عبدالوهاب هغوی ته لارښوونه وکړه او درې واړه راغلي کسان هم یو ځای ووتل، عبدالوهاب ماته راوکتل

دا څه دمفتیشینو غوندې پوښتنې یې پیل کړې وې، دومره وخت چاته مه ورکوه.

په اندیښنه مې ځواب ورکړ

وروره دا کسان ماته څه بل ډول ښکاره شول او...

ده وخندل

څه بل ډول، دا پوښتنې خو دهر چا په زړه کې ګرځي مه یې کوه ، څه به وکړي مونږ خو یوازې دخلکو خدمت کوو، بیایې سترګه راته ووهله او له ناروغې ښځې سره راغلي کس ته یې اشاره وکړه .

پوه شوم چې خپله اندیښنه مې باید په داسې وخت کې هغه ته نه وای وړاندې کړې

، د ښځې معاینات یې وکړل او دماښام له اذان سره مو دروازه بنده کړه، نیږدې جومات ته لمانځه ته ولاړو او له جمعې نه وروسته مخ په کور روان شوو ، ددرملتون او هغه کور تر منځ چې عبدالوهاب په کې اوسېده دموټر دشلو دقیقو یانیم ساعت لاره وه ، څه سودا او نور څېزونه یې له نیږدې هټۍ واخیستل، په یوه موټر کې وختو، په لاره کې ګڼه ګونه نه وه او زر ورسېدو.

دغه کور په یوه ګوښه کې و او ګاونډیان یې هم په ښار کې هټیوال وو، چې کور ته به ناوخته راتلل ، دروازه مې ټک ټک کړه، څوک را ونه وتل ، یوه شېبه تم شوو ، ددروازې له شانه دڅوک یې غږ راغی ، دعبدالمنیر غږ مې وپېژنده او ځواب مې ورکړ

ورورره صفي الله یم ، عبدالوهاب راسره دی ، دروازه خلاصه کړه.

دروازه یې خلاصه کړه

په غېږو یې ګرمه ستړي مشي راسره وکړه او عبدالوهاب ته یې په ګیلمن انداز وویل

ډاکتر صاحب ، زه نور په دې کور کې یوازې تنګ شوی یم، راته ووایه، چې زما په اړه خو کوم نوی احوال نه دی راغلی ، اخر تر څو به په دې څلور دېوالۍ کې بندي وم؟ نن هم نږدې وو چې له ډېر زړه تنګوالي وژاړم ، خاله راغلې وه، څه یې پاخه کړل او بېرته لاړه.

عبدالوهاب ورته وخندل

عبدالمنیره ! لکه چې زما له زړه نه خبر یې ما غوښتل دا زیری زه درباندې وکړم، خو ته له ما وړاندې شوې ، ته به ډېر زر انشاءالله عزیز له دې ځایه لاړ شې او خپل مرام ته به ورسېږې، نن راته احوال راغی، چې عبدالمنیر باید چمتو وي ، سبا ته دې له خیره بیایې ، نن دې شاید زموږ په دې غریبانه جونګړه کې وروستۍ شپه وي.

عبدالمنیر له خوښۍ وغوړېده ، دعبدالوهاب لاس ته یې زور ورکړ

ایله په ایله چې ښه خبر دې راکړ ، نیږدې وو له یوازېتوب نه مې زړه وچوي ، زه به ریښتیا سباته ځم ، ما ویل چې بېګا مې بل ډول خوبونه لیدل.

بیا له مور نه وړاندې شو او دماشوم غوندې یې په لوړ غږ خبرې پیل کړې

ټول خفګان مې لرې شو ، نن غواړم ټوله شپه له تاسې سره خبرې وکړم ، ما به خوب ته نه پرېږدئ ، هسې هم بیا خدای خبر چې...

عبدالوهاب یې په خبره کې ور ولوېده

هو ورور جانه! ما غوښتل چې دا خبره زه درته وکړم، نن به مور تاته یوه ښکلې مېلمستیا برابروو ، مور هم نه غواړو چې ته یوه شېبه زموږ له څنګه لرې شې ، په لاس کې نیولې پلاستیکي کڅوړې ته یې اشاره وکړه.

نه ګورې ، دا هرڅه موږ ستا لپاره راوړي ، په موږ حق لرې

عبدالمنیر کڅوړه ترې واخیسته او دیخلنځي په لور یې منډې کړې

وروره ! زه نن غواړم چې په خپلو لاسونو تاسې ته هرڅه تیار کړم ، مخه به مې نه نیسئ ؛ که نه داسې به درنه خپه شم، چې بیا به هېڅکله درسره خبرې ونه کړم.

موږ هم ټینګار ونه کړ او همداسې دعبدالوهاب ځانګړې کوټې ته لاړو چې مخابره و څو لاسي بمونه او وسله به هم په کې وه ، کورټۍ یې ویسته ، بیایې مخابره چالانه کړه او په تاخچه کې یې کېښوده ، اوږد وغځېده ، سوړ اوسیلی یې وکړ ، چې زه یې هم حیران کړم ، ترې ومې پوښتل

ځواب یې راکړ

هسې څه خبره نه ده

نه بیاهم ! ؟

بس دعبدالمنير په اړه مې نن تړوله ورځ سوچ کاوه، ابرهيمه وروره چې ريښتيا درته ووايم زما له اوسه دا زړه نه و چې دی دې دا کار ترسره کړي ، دهغه په فکر کې دا بدلون راته بل ډول ښکاره شو ترې ومې پوښتل.

ولې ، په مطلب دې پوه نه شوم ؟

بېرته په ځای کې راسم شو

ګوره صفي الله ! ته پوهېږې چې مور تر اوسه ډېر دا ډول استشهاديان فدايي حملو ته چمتو کړي او ښه نتيجه يې ورکړې خو زه نه پوهېږم، چې ددغه ځوان په اړه ولې زما زړه تل ما په داډول فکرونو کې اچوي ، دا خو سمه ده چې دلته دونيا مال او متاع نه ده مطرح خو کله چې دهغه مور ، خورجانه چې دده دتلو په وخت ده ته په کوژده پسې ګرځېدل را ياد شي؛ نو زړه مې درد وکړي ، چې دهغه له شهادت وروسته به داسې څوک پيدا کېږي ،چې دهغه مور او پلار ته احوال ورکړي چې زوی مو نور په دنيا کې نه شته ؟ يا دا چې هغوی به تر کله دده دراتلو انتظار کوي ؟ ښايي پلار به يې هم دا تمه نه درلوده چې زوی به يې يو وخت ورځخه بيخي پردی کېږي ، هېڅ احوال به يې په لاس نه ورځي ، شايد چې دهغه به دا تمه نه وه، چې زوی به يې يو وخت فدايي بريد کوي، بله دا چې دی به نن او هغه ورځ چې عبدالمنير په دې نړۍ کې نه وي خپلې ښځې او بچو ته څه ځواب لري ؟ دلته دهغه له راتلو سره ان له هغه اولې ورځې چې دده کيسه مې واورېده، نو په دې فکر وم چې کاشکې دده په ځای دکومې بلې کورنۍ غړی دې کار ته انتخاب شوی وی.

ته په دې له مانه مه خپه کېږه او مه مې بل ډول ګڼه ، دا يوازې زما يو شخصي نظر و ، که نه زه همغه عبدالوهاب يم چې پلار به يې سعد باله ، خپله کورنۍ او وطن يې هېر کړ، پلار يې په دې لار کې قرباني شو ،ابراهيم زړګی مې رانه دتل لپاره جدا شو، سعديه مې په سرو سترګو وژوړله او تر ننه به يې يوازې زما سره اړيکه په خوبونو کې وي .

دعبدالوهاب سترګې له اوښکو ډکې شوې ، زه پوه شوم چې له عبدالمنير سره دهغه دومره خواخوږي کوم بل رنګ نه لري او نه يې په خيالونو کې بدلون راغلی ، تسلې مې ورکړه، ورته ومې ويل چې زه ستا دزړه درد او احساس درک کولی شم ، زه په تا دغرونو هومره باور او اعتماد لرم ، په دې لار کې به هېڅاهم ستا غوندې قرباني نه ورکړي وي او نه به يې ورکړي ، په همدې مې دهغه خپګان لرې کړ.

په مخابره کې پشهار شو ، له چاسره يې خبرې پيل کړې او زه هم دېخلنځي په لور ورغلم له عبدالمنير سره دډوډۍ په تيارولو لګيا شوم ، هغه له ځان سره کومه ترانه زمزمه کوله او

داسې خوښ و لکه موږ به چې په ماشومتوب کې داختر په شپه له خوښۍ نه بې خوبۍ اخیستي وو، په چوپه خوله لګیا وو، ډوډۍ مو تیاره کړه، کوټې ته مو له ځان سره یوړه.

عبدالوهاب په تلویزیون کې خبرونه را اړولي وو، چې ګڼ وسله وال طالبان په کې معلومېدل چې ښه ورته ځیر شوم، دالجزیرې چینل و او په نورستان کې یې دطالبانو دواک او فعالیت په اړه کوم فلم خپروه ، په شنو ځنګلونو کې کارته پورته کېدل ، مورچلونه یې جوړول او لنډې لنډې مرکې یې له عربې ژباړې سره خپرېدلې چې عبدالوهاب ورته ځېر وو ، ډوډۍ مو کېښوده ، ده زموږ دسلام ځواب هم رانه کړ ، یوازې دډوډۍ خوړلو یې راته وویل خو دعبدالمنیر چې ورته پام شو ، په زوره یې کوم شعار ورکړ دهغه له څنګه کېناست پوښتنه یې وکړه

ډاکترصیب دا دکوم ځای مجاهدین دي ؟

یوازې دمشرقي نوم یې ورته واخیست او تلوېزیون ته ځیر شو.

نیږدې نهه لس دقیقې وروسته صحنه ختمه شوه ، بغداد په کې راغی ، امریکایي ټانکونه او خړې درېشۍ واله سرتېري ، چاودنې ، بریدونه او ورسره جنګیدونکي وسله وال ښکاره شول، چې په کوڅو کې یې منډې وهلې.

عبدالوهاب سر وڅنډه او دلاس وینځلو لپاره بهر ووت، ډوډۍ مو په ګډه وخوړه ، عبدالوهاب بېلابېل چینلونه اړول، له موږ سره یې هم خبرې کولې ، ځینې وخت به یې مخابرې ته ځواب ورکاوه او نور یې عبدالمنیر ته دپخوانیو تاریخونو ، اسلامي خلافت ، ورانېدو ، لاملونو ، دبېرته راوستلو هڅو ، دبیت المقدس، فلسطین ، صلاح الدین ایوبي او هلته د فدایي لومړیو بریدونو کیسې کولې، کیسې ډېرې اوږدې شوې ، له دوو دوو نیمو ساعتونو واوښتې ، ماهم ورته غوږ نیولی و ، دعبدالمنیر په څېر ورته ځیر وم، دهغه دمطالعې ژور والي او دقیقو معلوماتو حیران کړی وم ، په کوټه کې چوپتیا خوره وه ، په تلوېزیون کې دخبرونو تصویرونه اوښتل خو عبدالوهاب پرې غږ غلی کړی و، په همدې چوپتیا کې یو نرم غږ واورېدل شو، موږ پرې پروا ونه کړه، د دویم درب سره عبدالوهاب خپلې خبرې بندې کړې، ځیر شو، په ځای کې راسم شو، ماته یې وکتل

صفي الله کوم غږ نه و ؟

زه هم ځیر شوم، فکر مې وکړ چې هسې کوم څه به وي خو په دې وخت کې یو بل غږ هم واورېدل شو، زر پاڅېدم خو له مانه عبدالوهاب وړاندې شو، له کوټې ووت، په وړوکې دهلېز کې په منډه شو، زه هم ورپسې شوم، څه خبرې مې هم تر غوږ شوې، بېرته په بیړه را وګرځېدم، حس مې کړه چې خالي لاس یم، په کوټه کې مو دوه میله تومانچې درلودې، درې

مېله کلاشینکوف مو په هغه کوټه کې پټ کړي و چې عبدالمنیر به په کې اوده کېده خو له دې کوټې نه وړاندې دانګړ په سر کې وه، لا بېرته دکوټې وره ته نه وم را رسېدلی چې عبدالمنیر هم راووت، لا ور مې نه و خلاص کړی چې برق لاړو، تپه تیاره شوه، یوه شوم چې څه خبره شته زر راوګرځېدم، درېش (درېژه) او چیغو غږ مې واورېد، ددروازې دماتېدو غږ شو، سترګې مې برق پسې اخیستې وې، دوو کسانو په غېږ کې ټینګ کړم، په ټول زور مې بیا دکوټې په خوا دتلو هڅه وکړه خو تېز لاسي ګروپ مې سترګو ته را رڼا شو چې دروند غږ ورسره ملګری و

بس نور مه خوځېږه، هر څه بې ګټې دي.

په زور یې انګړ ته کش کړم، په رڼا کې دوه درې کسه وسله وال مجهز سرتېري په انګړ کې کوټې ته تېر شول، وړاندې عبدالوهاب له څو کسانو سره لاس او ګرېوان و، په انګړ کې ګڼ کسان تر سترګو کېدل چې له وسلو سره ګرځېدل، شور ماشور و ، برق بېرته راغی، په عبدالمنیرهم دوو کسانو لاسونه اړولي وو، دېواله ته یې مخامخ درلولی و او سترګې یې پړې تړلې ، په دریو واړو یې بدرېغه ګوزارونه کول ، مخې ته مې یو کس راغی او په سرتېري یې غږ وکړ

بلکل هماغه دی، نښه مو سمه ده ، لاس یې پړې واړوئ.

ددغه کس غږ راته اشنا ښکاره شو، ورته ومې کتل له همغو درېیو کسانو څخه و چې مازدیګر یې په درملتون کې دوا اخیسته، ایله اوس یوه شوم چې دغه کس څنګه په معاینه خانه کې هر څه ته په ځیر ځیر کتل او پوښتنې یې کولې، په مخ یې یوه درنه څپېړه راکړه

څه راته برګ برګ ګورې، اخر ستاسې سوړه په لاس راغله، وایه چې نور کسان مو چېرته دي؟ زر کړه ځواب راکړه ، داڅه عجیبه بې ښځو او بې ماشومانو کور دی ؟

زه غلی وم، یوه ډله نور سرتېري هم راننوتل ، په ټول کور کې پلټنه پیل وه او موږ تر لغتو او کنداغونو لاندې وو ، کوم سرتیري په سر په کنداغ ووهلم او ځمکه راباندې وګرځېده ، وړاندې په عبدالوهاب هم دلغتو او سوکانو نوبت نه کېده، انګلیسي خبرې هم اورېدل کېدې، خو ما نور په ځان دپوهېدو احساس دلاسه ورکړی و.

په سر مې درد و، نه پوهېدم چې چېرته یم، خو ټول وجود مې درد کاوه، عبدالمنیر او عبدالوهاب هم راسره نه وو، یوازې یې په یوه تنګه کوټه کې اچولی وم، لوږه مې هم حس کوله او هېڅ نه پوهېدم چې چېرته یم؟ څه راسره شوې او راتلونکی به مې څنګه وي ؟ سر مې په دېواله تکیه کړ، یوه شېبه نه وه تېره چې پنجرې ته ورته دروازه راخلاصه شوه، دوه کسه راننوتل له ځایه یې پاڅولم او یوې کوټې ته یې بوتلم ، یوه شوم چې ځینې پوښتنې به

راڅخه کړي، نور نو له ماسره د انکار کومه بهانه هم نه وه، په هغه کور کې هېڅ هم پټ نه و ، وسلې مخابره، ځینې نقشې، شمېرې ،کاغذونه، لاسي او له لرې کنترولیدونکي بمونه او عبدالمنیر چې دوهلو په زور به حال ویلی وي ، خو په یو څه ډېر ډاډه وم هغه داچې زموږ سره په کور کې داسې څه نه وو، چې عبدالوهاب دې دیوه عرب په نامه وپیژني، یوازې ځینې عربي کتابونه و چې هغه کومه خبره نه وه ، زموږ اکثره دینې کتابونه هسې هم په عربي دي.

په یوه اوږده دهلېز کې یې ودرولم ، دسر وېښتیان او په مخ دوچو شوو خولو خاپونه یې راپاک کړل، بهر دالوتکو شور ماشور او غږ و، ایله دومره وپوهېدم، چې هوایي ډګر دی ، ښکاري چې یابه مو باګرام او یاهم ګوانتانامو ته استوي، له منظمولو وروسته یې کوټې ته ور ننویستم، دوه دېاخه عمر کسان ناست و ، بد بد یې راته کتل او ګنې پوښتنې راڅخه پیل کړې ، چې دطالبانو ، ځینو مشرانو، عبدالوهاب او عبدالمنیر په اړه وي، ماهم ځوابونه ورکړل،خو پوهېدم چې ورته قانع کوونکي نه دي.

له پوښتنو وروسته یې بیا ویستلم ، بهر یې درولی وم چې یو دتورو ښېښو موټر راغی ګڼې، وسله وال هم ورته ولاړ وو ، دروازه خلاصه شوه که ګورم، عبدالوهاب او عبدالمنیر هم په کې ناست دي ، لاسونه یې تړلي او وېښته یې ګډوډ دي موټر دڅو ټیټو ودانیو څخه تېر شو او دیوه وړوکي سالون مخې ته ودرېد ، راښکته یې کړو، او یو سرتېرى مو تر مخ شو ، ګورو چې ګڼ کسان په چوکیو ناست دي او تلوېزیوني کمرې ایښې، پوه شوم چې دوى خپله بریا خبري رسنیو ته وړاندې کوي او ریښتیا هم همداسې وه.

لومړى یوه کس خبرې وکړې چې ماته کوم لوړ پوړى کس ښکارېده او موږ یې معرفي کولو، خوښ په دې شوم ،چې زه او عبدالوهاب یې دیوې سیمې معرفي کړو خو هغه یې ډېر ستر او یوه ډاکتر معرفي کړ چې دوسله والو طالبانو مهم او ارتباطي کس دی، خو عبدالمنیر یې همغسې معرفي کړ ویل یې چې ځانمرګي برید ته چمتو شوی و، خو له برید وړاندې له وسلو سره ونیول شو، نور نو بس دکمرو رڼاګانې او تصویرونه وو، څو خبریالانو هم پوښتنې وکړې ، بېرته یې په منډه همغه موټر ته اوچت کړو، تر مازدیګره یې له دربیو واړو نه یو ځاى پوښتنې کولې چې داځل ورسره په کېبلونو درانه وهل هم ملګري و، خو وروسته یې سره جلا کړو او سترګې یې راوتړلې، بیا نو نه پوښتنې وې او نه هم یو دبل لیدل، خو له ځانه مې هم په عبدالوهاب زړه درد کاوه ، دهغه سعدیه او مورجانه به را یاد شول خو بیا به مې چې خپله کورنۍ مخې ته ودرېده نو هر څه به په تیارو کې ورک شول، یوازې دزندان یوه توره تنګه کوټه وه او زه چې له ټولې نړۍ ناخبره په کې پروت وم ، نه پوهېدم چې چېرته یم او څوک به راباندې خبر وي کنه ؟ دورځو شپو شمېر هم راڅخه هېر و.

یوه ورځ بیا دروازه راخلاصه شوه، که ګورم سرتېري راته ولاړ دي، همداسې لاس تړلی یې له کوټې ویستم ، یوې کوټې ته یې بوتلم چې ګڼ بهرنیان هم په کې له کمرو سره ولاړ وو ، ماډېره موده وروسته رڼا ولیده ، سترګې مې وبرېښېدې، نیږدې مې دچورلکو اوازونه اورېدل ، دومره پوه شوم چې بیاهم په کندهار هوایي ډګر کې یم اوس مې شاید د باګرام او یا بل کوم زندان په لور روان کړي خو داسې نه وه ، لس کسه نور هم وو ، ګڼې پوښتنې یې راڅخه کړې چې ډېرې تکراري او پخوانۍ وې خو یوه په کې نوې وه او هغه داچې تاسې ته په هوایي ډګر او دوالي په دفتر دځانمرګي برید پلان چا درکړی و ؟ ما چې انکار وکړ نو یو کس راوړاندې شو، سترګې یې راته غبرګې کړې

انکار مه کوه، دا همغه ځوان عبدالمنیر ویلي چې تاسې برید ته چمتو کړی و، تا په خپل اقرار کې هم ویلي،چې په والي او هوایي ډګر دبرید مسولیت درسپارل شوی و.

همداسې یې ګڼې نور تورونه او خبرې هم ورسره ملګرې وې ، خو دتصویر اخیستلو اجازه چاته نه وه ، په اخېر کې چې دوی ټولې خبرې خلاصې کړې نو دټولو ولاړو کسانو چې بهرنیان او خبریالان په کې وو ، زموږ عکسونه واخیستل ،سترګې یې راوتړلې په یوه سرپټې موټر کې یې واچولو او موټر حرکت وکړ ، دا ځل مو پوره زیات مزل وکړ، په ځان نه پوهېدم چې چېرته ځ ؟ دومره پوهېدم چې له هغه پخواني ځای نه چې په کې ساتل کېدو بل خوا روان یو، په لاره نه پوهېدم ، ترڅنګ ناست کس په ما را ولویده او په څنګل یې ولګېدم ، اه یې وکړ په ټیټ غږ یې وویل وروره چېرته مو بیایي ؟

له ماسره کوم ځواب نه و، سترګې مې تړل شوې وې، هېڅ هم نه راته ښکارېدل خو دیوه بل زنداني غږ راغی.

سرپوزې زندان ته مو بیایي ماهغه لیدلی، یو ځل پخوا...

په یوه درب سره یې غږ ورک شو

دسرتېري کرکجن غږ اوچت شو، زما سره په نیږدې کس یې هم یو دروند ګوزار وکړ

خبرې مه کړئ، دپردیو مزدورانو، نو ستاسې څه زړه دی چې دپلار کور ته مو بو ځو، بیا مو سوې هم وانه ورم که نه ککرې به مو په کونداغ در ماتې کړم .

ټول له وېرې غلي شوو او موټر په تېزۍ سره لاره لنډوله، دپولیسو هارنډونه هم اورېدل کېدل، له پوره مزل وروسته، موټر ودرېده ، غږ شو

پاڅئ، په خپلو پښو ودرېږئ.

ټول ودرېدو، زه ډارېدم چې سر مې په چت ونه لګي خو له شانه يې په لغته ووهلم ، پاڅه ته خو فدايي يې په سر ولې دومره وېرېږې.

ټول يې له موټر ښکته کړو، کوم چا غږ کړ

سترګې يې ورخلاصې کړئ، نور را ورسېدو، په خالي کوټو يې زر زر وويشئ.

سترګې مې وغړولې، دمازديګر لمر په ډوبېدو و، دګټو او پلنو سيمنټي دېوالونو په څنګ کې ولاړ وو، نيرډې دشلو په شا وخوا کې بنديان راته ښکاره شول او دپوليسو مشرانو يې په اړه خبرې کولې، هر څو مې چې په ذهن زور راووړ ځای مې سم نه کړ ، نه پوهېدم چې کوم ځای دی، خو په اغزنو دېوالونو، سيمونو او کلکو وسپنيزو پنجرو ښودله چې کوم عمومي زندان دی، ما پخوا له دې هم زندانونه ليدلي و، خو بېرته به زر خوشي شوم، دې زندان له هغو نه توپير درلود، بيا په موټر کې دبندي ملګري خبرې را ياد شوې چې ويل يې سرپوزې زندان ته ځو، ماهم ددغه خطرناک زندان نوم اورېدلی و او ګڼو ملګرو يې کيسې راته کړې وې، بياهم نه وېرېدم ، داسې راته ښکارېده لکه خوب چې وينم، څو قدمه وړاندې لاړم ديو لويې وسپنيزې پنجرې شاته دجومات وړوکې مناره معلوميده او ساحه يې ډېره غځېدلې وه، په لسګونو زندانيان ښکارېدل چې په نلونو يې اودسونه کول، زړه مې ډاډه شو، ورو راباندې چا غږ وکړ چې له خوښۍ ډک و

يا صفي الله!

ور ومې کتل

ددېواله څنګ ته عبدالوهاب هم لاس تړلی ولاړ و، سپېره مېره ښکارېده او دمخ يوه ډېره او وروځې يې پړسېدلې وه، سرتېري زموږ تر مينځ په بيړه ګرځېدل او خبرو ته يې اجازه نه راکوله، په ميز يوه پوليس دڅه جدولونو پاڼې اړولې يو يو نوم يې اخيسته او هلته يې ورغوښتلو ، زه هم دعبدالوهاب څنګ ته ورغلم، خو زړه مې له ژړا او درده ډک و يوازې غلي غلي مې ورته کتل، په زړه کې خوشحاله وم، چې دواړه سره يو ځای شوو، هغه يې هم په دې شلو کسانو کې له موږ سره راوستی، خو سترګې مو کلکې پټې وې، يو بل مو نه وو ليدلي، زما نوم يې هم واخيست، ځينې پوښتنې يې راڅخه وکړې ، دپوليسو ولاړ قومندان يوه دوسيه له هر بندي سره ورسپارله او بيا به دوو سرتېرو ورسره روانولو ، موږ نه پوهېدو چې دا به مو راکړل شوو سزاګانو اسناد او پاڼې وي که بل څه دي ؟ خو نه پوهېدم، تر اوسه خو موږ له ځانه ديوې خبرې دفاع هم نه وه کړې او که څه مو ويلي هم وو نو دوهلو په زور وو.

په يوه ځانګړي بلاک يې ننويستو، اوس پوره يقيني شوم، چې سرپوزې زندان ته يې را رسولي يو او بيا ازادېدل مو ګرانه خبره ده، خو انديښنه مې يوازې په دې وه چې هېڅوک هم راباندې

نه وو خبر ، ټولو دلمانځه کولو غوښتنه کوله، تر مخ مو روان برېتور قومندان سرتېرو ته اشاره وکړه چې دلمانځه اجازه ورکړئ زه به تر هغو دزندان کوټې وګورم ، لمونځ مو وکړ خو داوږدو دعاګانو اجازه نه وه ، جامې يې رابدلې کړې ، کوټو ته يې ننويستو ، په پښو کې يې زولنې را واچولې، لاسونه يې راباندې خلاص کړل او په کوټو يې ور دننه کړو ، په ننوتو کې عبدالوهاب راته وکتل خو سرتېري دڅه ويلو اجازه رانه کړه ، به بېلو بېلو کوټو يې ننويستو په زړه کې مې څړيکه تېره شوه او وسپنيزې دروازې راپسې بندې شوې .

ورو ورو د زندان له تنګ چاپېرپال سره بلدېدم، اومحدوديتونه راڅخه لرې کېدل، زولنې يې هم راڅخه لرې کړې، يو دبل کوټې ته هم کله کله ورتللی شوی او خبرې به مو کولې خو تل تر څار لاندې وو، دډوډۍ خوړلو او دزندان دکومې برخې دپاکارۍ په مهال به مو هم يو بل ليدل.

تر ټولو ښه داوه چې لمونځونه مو په جمعه و او يوه کس چې ويل يې تر ټولو زيات عمر يې په دې زندان کې تېر کړی؛ موږ ته جمعه راکوله ، له لمانځه وروسته به اوږدې دعاګانې وې او ځينو بنديانو خو به دسلګو په بدرګه ورسره امين ويل، عجيبه خو دا وه چې حکومتي سرتېري به هم ولاړ وو او زموږ ملا امام به حکومت ، بهرنيانو او پوليسو ته سپيني او سپورې خبرې کولې.

ځينو بنديانو ته دکورنيو دراتګ او ملګرو سره دليدو اجازه هم وه چې دې يوې پنجري سره به يې ديو متر په واټن کې خبرې کولې او پوليس به پسې څارو ولاړ وو، خو زه او عبدالوهاب له دې ديدنونو څخه هم محروم وو، دهغه څوک وو نه او له ما نه کورنۍ خبر نه درلود، چې زه دلته راوستل شوی يم، تل مې حس کوله چې وړوکی بچی مې راپسې ژاړي، له عبدالمنير نه مو احوال نه درلود، چې کوم خواته به يې وړی وي، د دواړو تر منځ څلور کوټې فاصله وه، خو دلمانځه په مهال به مې يې دحال او احوال پوښتنه کوله، زړه مې ورباندې همغسې دردېده، د اوو اتو مياشتو په تېرېدو دهغه په رنګ او څېره کې هم پوره بدلون راغی، سترګې يې په کې ولوېدې ، سپين رنګ يې تور او زېړبخونده شو ، ږيره يې اوږده شوې وه، وچ هډوکي پاتې و، زه پوهېدم چې هغه ايله اوس دخپلې کورنۍ او خپلې سعديې په اړه سوچونو ته وزګار شوی او دهغې يادونه يې خوب ته نه پرېږدي.

يوه ورځ خو دهغه دڅنګ ملګري راته دډوډۍ په مهال په طعام خانه (خوړنځي )کې وويل چې کله کله دشپې دخپل ګاونډي دژړا غږ اوري، چې له تلاووت وروسته تر ډېره پورې دوام کړي او ښکاري چې ويښ ناست وي، چې دا ګاونډی يې عبدالوهاب و، له هغه نه به يوه کس چې ځان يې ډاکتر معرفي کړی و او کله کله به په موږ ګرځېده هم دروغتيا په اړه ډېرې پوښتنې کولې خو ده به ويل چې روغ جوړ يم، په همدې زندان کې مو يو کال تېر شو او نور

له همدې ژوند سره عادي شوي وو، ګڼ نور ملګري مو وموندل چې زموږ غوندې برخليک يې درلود خو په وړو وړو جرمونو حتی په نه جرمونو دسياسي بنديانو په لېست کې راغلی وو، خو خبرو ته مو به ډېر له وسه نه کېدل، هسې هم ګيلې، اوسيلي او دزړه له درده ژړا ګانې زموږ ملګري وې ، کله کله به مې ويل چې کاشکې دخپل سر په بدل مې هم که کېدی ؛ عبدالوهاب ازاد کړی وي، خو نه کېده او نه يې کومه لاره چاره راته معلومېده ، بس يوازينی هيله مې دعاګانې او خپل رب ته زاری وې، خپل مور پلار، ښځه او ټوله کورنی مې له ذهنه وتل او يوازې عبدالوهاب مې په ذهن کې وو، دهغه سره پېژندګلوي ، دهغه دژوند دردوونکې کيسه ، عبدالمنير چې بيا مې ونه ليد، ټول ددغه کيسې برخې وې چې زما په ذهن يې منګولې لګولې وې ، نه پوهېدو چې څه به کېږي ؟

دتېښتې هڅه خو هسې دلېونتوب او مرګ مانا لرله، نور نو له دې انتظاره هم ناهيلي شوو چې پوښتنې موښتنې به راڅخه کېږي، جرم او جزا به مو معلومه شي، کله به مې ويل چې شايد په عمري قيد محکوم شوي وو، زموږ سره په هغه کور کې دومره وسلې ، بمونه او اسناد وو چې موږ ته يې ددې سزا لار برابرولی شوی، خو دخدای (ج) کړه او پرېکړه بېله وه، ريښتيا هم چې انسان له خپل خير او شره نا خبره وي، خپل رب ورته يوازې دسختيو او ناتوانی په مهال ښه ورپه يادېږي.

يوه شپه چې په کوټو کې ناست وو، هغه بندي چې دجومات پاکوالی او ساتنه هم ور دغاړې وه په ټولو کوټو وګرځېده او نارې يې وهلې چې جومات ته دماخستن دلمانځه لپاره ټول راځئ،هېڅوک هم بايد پاتې نه شي، ملاصاحب غواړي تاسې ته يوه مهمه وينا واوروي، په دې ورتک کې زموږ او ستاسې ټولو خير دی ، هغه دجارچي غوندې دغه خبرې کولې او زندانيان يې اورېدو ته څک وو.

زه هم حيران وم چې دجومات ملا امام به راته څه مهمه خبره کوي ، هغه خو له موږ نه هم بې وسې دی او په همدې بلاک کې ديوه زنداني غوندې ژوند لري ، همداسې مو وکړل دماسخوتن لمانځه ته له نورو وختونو وړاندې لاړو په لوی جومات کې مو ځايونه ونيول، ګڼ زندانيان راغونډ شوي وو چې پخوا کله هم جمعې ته دومره زيات کسان نه راتلل.

دوه کسان راپاڅېدل په غبرګو غږونو يې ښکلې ترانه وويله چې ټول يې دفکر په ټال وزنګول او دځينو دسلګيو سوڼ سوڼ مې هم تر غوږ شو ، په خلاصېدو يې ملاامام په ممبر ودرېده، اوږده خطبه يې وويله، لومړی يې ټولو ته دصبر او استقامت سپارښتنه کوله چې دزندان سختی په صبر سره تېرې کړو، دخپل خلاصون لپاره تل خدای تعالی ته دعاګانې وکړو له دې خبرو وروسته يې وويل چې لومړی به لمونځ کوو بيا به دقرانکريم يوه برخه ويل کېږي چې ټول به يې اورئ، وروسته درته زه خپله وينا وړاندې کوم.

دا نو داسي شېبې وې چې هر زنداني به له خدایه غوښتې او دزړه تسکین به يې پرې کېده، لاهم زندانیان راننوتل او وړاندې دګروپونو په رڼا کې وسله وال ساتونکي له جومات ګرد چارپېره ګرځېدل.

لمونځ وشو، ګرمي هم زیاته وه، په هرچا خولې راماتې وې، خو دکوټې له فضا نه بیاهم دجومات هوا ښه وه، ټول دقرانکریم دتلاوت اورېدو ته په تعظیم ناست وو، چې ملا صاحب په لوړ غږ تلاووت کاوه ، یوه سیپاره به و که کم او زیات، خو خبره تر لسو لس نیمو اوښتې وه، ځو زندانیانو له جوماته چاته دوتو اجازه نه ورکوله، دانضباطانو غوندې ګرځېدل، په همدې وخت کې ملاصاحب خپله وینا پیل کړه، کټ مټ لکه په یوه ازاده فضا کې چې خپلو مخاطبینو ته خبرې کوي، بیاهم دصبر ، استقامت ، ایمانداری ، په خپل هوډ ددرېدو ، په دغه لار کې دلا زیاتې حوصلې او ټینګښت خبرې وې.

دحضرت بلال (رض) ایمان راوړلو، په اسلام کې دهغه دمقام، دمشرکینو لخوا په سرو شګو دځملولو او په دې لار کې دصبر او سختیو کیسه يې په خوند بیان کړه چې ډېرو زندانیانو په چیغو چیغو ژړل او ځینو شعارونه ورکول، خو کله چې ډېر احساساتي شول ن ، ملا صاحب هم خپله لهجه لږ نرمه کړه، دزندان ماحول ته راغی ، په دې اړه يې سپارښتنې کولې، چې باید دزندان اړوندو ځېزونو ته زیان ونه رسوو ، برق او اوبه کمې مصرف کړو، له ساتونکو سره ښه چلند وکړو، خبرو يې ومنو ، دوی ملامت نه دي، یوازې دلته زموږ دخدمت لپاره ګومارل شوي، زموږ دښمنان او هغه ځوک چې په موږ يې ظلم کړی له دې ځو کلکو او اغزنو چاردېوالیو بهردي.

ملاصاحب چې ستړی شو یو بل کس هم له مخکیني صف نه ورپاڅېد او نیږدې نیم ساعت يې خبرې وکړې ، دامریکایي او نورو سرتېرو له خوا يې په بمباریو کې د دوژل شوو ملکي خلکو او نورو وحشتونو کیسې په خپل ځانګړي انداز په خوند سره بیانولې چې ناست کسان يې غلي کړي وو.

عبدالوهاب هم زما له څنګه ناست وو او له سترګو يې اوښکې رواني وې، خبره دوولسو بجو ته نیږدې کېده،چې دملا امام موعظه پای ته ورسوله، ډلیزه دعا يې وکړه،چې ټولو پسې په لوړ غږ امین ویل، بیایې ټولو ته اجازه ورکړه ،چې نور نو خپلو کوټو ته په ارام سره ستانه شي، ملا امام او ورسره درې نور ملګري يې له ټولو وړاندې ووتل او بیانو ورو ورو صفونه خالي کېدل، جومات په یوه شېبه کې خالي شو، هر ځوک خپلو کوټو ته روان وو ، په لاره کې مې هڅه کوله چې عبدالوهاب پیدا کړم ، خو که ګورم راځنګ ته شو ، سلام يې وکړ او بې له ځنډه يې خبرې پیل کړې

وروره ! پوهېږې چې له ننی دعا سره زما زړه ځومره سپک شو، یو ډول دخوښۍ او ازادۍ احساس کوم، بیایې له ځان سره وخندل

نن سهار اوده شوی وم، ښکلی خوب مې لیده چې دواړه دیوه سمسور او شنه غره په لمن کې یوازې روان وو...

ده لا خبرې کولې چې یوه سرتېرې غږ کړ

تېز ځئ ، دادخبرو وخت نه دی، اوچت ... اوچت ګامونه اخلئ ....هلئ

دواړه یې سره بېل کړو او دهغه خبره مې په زړه پاتې شوه، نه پوهېدم چې دهغه نور خوب به څنګه وو خو سوړ اوسیلی مې وکړ، په کوټه یې ننویستم، ور مې راپسې پورې کړ، خو خوب نه راته ، چوپه چوپتیا شوه او سرتیرې هم خپلو پوستو او دخوب خونو ته لاړل، نور نو دشپې زموږ خواته نه راتلل ټول زور به یې دعمومې دروازې دسر په پوسته وو،چې دوه نوکریوال سترتېرې به په کې تر سهاره ناست وو، خو موږ ته سم نه معلومېدل او فاصله زیاته وه.

ماهم په خپله کوټه کې دېوال ته ډډه وهلې وه او په سوچونو کې تللی وم ، یو که یو نیم ساعت به وتلی و؛ خو یو وخت نه پوهېږم،چې اوده وم که پړموښې وړی وم،چې ورو ورو ټک ټک مې تر غوږ شو، هیڅ باک مې پرې رانه ووړ ، بیامې واورېد دچا غږ هم ورسره راغی.

وروره ویښ یې که اوده ، دروازه خلاصه کړه، غلی راپاڅه چې شور ونه کړې.

په غوږو مې باور رانه غږ، غږ راته اشنا ښکاره شو، همدغه کس به موږ ته په جومات کې دلمانځه په مهال دلین دپښو برابرولو توصیه کوله ور پاڅېدم ، بیا یې راغږ

جامې دې هم را واخله

په مخ راځوړندې یو جامې مې را واخیستې، حیران وم چې څه خبره ده ، سر مې وڅنډه چې هسې نه خوب نه وي، خو بهر درې نور کسان هم دروازو ته ولاړ وو او کسان یې را ایستل ، هغه کس چې وسله هم ورسره وه زما په خوله یې لاس راکېښود ورو یې راته وویل

وروره چوپه خوله په ماپسې راځه، زموږ دعاقبوله شوې، دخدای (ج) مرسته رارسېدلې، په څو دهلیزونو کې یې په تیاره کې په منډه ویستم او یوې کوټې ته یې ننویستم، ګروپ په کې لګېدلی و، درې څلورکسه مول وهلي چې تمانچې یې په لاس کې وې ولاړ وو ، ښه راغلاست یې راته وویل ، په غولې کې دڅاه غوندې ژورغالی ښکارېده، لومړی خو ترې وورېدم ، زما نه مخکې رارسېدلی کس په کې کوز شو او لاسې ګروپ یې پسې رڼا کړ، زه بیاهم وویریدم، خو ولاړ کس راباندې غږ کړ

هله وروره! له بېړې کار اخله وچې ډېر وخت نه لرو ځان وباسه چې نور کسان درپسې دي، بې وېرې په سوړه کې ورښکته شوم ، سترګې مې وغړولې، ګرمه هوا په کې چلیده، په ملا یو څه خم شوم ، مخامخ اوږد تونل و، چې پیکه رڼا په کې تر سترګو کېده ، یوازې په کې ساه ګانې او پرلپسې وېرونکې ښکالو حس کېده ، له لس پنځلسو قدمونو وروسته مې پښې ازادې شوې، پوه شوم چې له مانه وړاندې هم په لسګونو کسان په تونل کې روان دي، شاته

هم دچا دپښو ښکالو وه ، چې راپسې رانیږدې کېده ، چې څومره تلم تونل اوږدېده او ساه مې سترې سترې کېده، په هره فاصله کې چې ماته یې اندازه نه معلومېده یو ګروپ لګیدلی و او پښې مې هره شېبه په یوه پراته نل ته ورته کېبل لګېدې، له پوره مزل وروسته چې پښې او ملا مې وچ شوي وو، یو څه رڼایي راښکاره شوه ، پوه شوم چې نور دتونل سر دې خو نه پوهېدم چې کوم ځای به وي ، خوله یې یو څه لویه وه ، بهر ته ووتم ، تپه تیاره وه ، یوازې لاسي ګروپونه لګیدل،چې څو کسه وسله وال په کې زمونږ هر کلي ته ولاړ ښکارېدل.

چا مې سترګو ته لاسي ګروپ را رڼا کړ، چوپه خوله یې غاړه راکړه، تر مټ یې ونیولم یو څنګ ته یې ودرولم، دوه کسان نور راغلل تلاشي یې کړم او په جیب کې مې یې څو پیسې راکېښودې، دنوم پوښتنه یې راڅخه وکړه او بیایې د دیوال څنګ ته ودرولم ، کتل مې چې لوی قطار ولاړ دی او ټول یو بل ته حیران حیران ګوري ، ټوله صحنه بیا راته دخوب غوندې ښکاره شوه ، سر ته مې څنډ ورکړ، سترګې مې وموښلې ، دوجود شخي مې ویسته خو کوم کس راباندې غږ کړ

وروره ! وړاندې ځه ، هله بیړه کوه ، له دروازې بهر څوک نه ګروپ ولګوئ او نه هم خبرې وکړئ، وړاندې په کونج کې موټر ولاړ دی او په کې اوچت شئ ، په ډېر احتیاط قدمونه اخلئ .

مخ په وړاندې تلم، حیران په دې وم، چې دومره ډېر کسان څنګه داسې زر په دومره اوږده تونل کې راوتلي دي، څو اوږده موټرونه چې ماته کاشټر ښکاریدل؛ ولاړ وو، په منډه په کې وختو او څلورو موټرونو په یوه وخت ګروپونه ولګول، حرکت یې وکړ، په پوره سرعت روان وو، ټولې لارې راته عجیبه ښکارېدې، نه پوهېدم چې چېرته یم، ټولو شکرونه ایستل، کلمې یې ویلې او ترڅنګ ناستو ملګرو ته یې حیران حیران کتل، زه پوهېدم چې تر ما پورې ټول همدا فکر کوي چې هسې نه دا کوم خیال وي.

تر ځمکه لاندې سلګونه متره تونل او په یو ځل ددومره زندانیانو را ایستل چې څلور موټرونه ترې په یو ځل ډک شول، موټرونو په پوره سرعت لاره وهله، په عمومي سرک دموټرو ګڼه ګونه زیات وه، یوه ولاړ کس چې دکلینیرغوندې په موټر کې ولاړ وو؛ غږ کړ

نور انشاءالله دخطرله ساحې نه وتلي یو، هیڅ تشویش مه کوئ، ستاسې یوه پیره ملګري مو له دې نه وړاندې ایستلي، خو موټرونو ته یو ځای تګ ښه نه دی مونږ هر یوه ته بېل مسیر ټاکلی ، باید حیران هم نه شئ، تاسې ته خدایي مرسته رارسېدلې.

دسهار رڼا خپرېده چې همغه ولاړ کس غږ کړ

هر څوک چې دلته دوستان او خپلوان لري او دېتې ځای یې وي کولی شي ښکته شي او تر یوې اونۍ پورې پټ اوسي او که نه وي ښه ورته دا ده چې لرې سیمو ته لاړ شي او یا له پولې واوړي.

دکور له کلمې سره مې اوچت ذهن ته عبدالوهاب ودرېده، په ناستو کسانو کې مې سترګې وغړولې په دویم سېټ کې یو ناست کس راته له شانه دهغه غوندې ښکاره شو، ناڅاپې ورپاڅېدم، له پنځم که شپږم سېټ نه دهغه په لور ورغلم، ټولو په حیرانۍ راته کتل ، ولاړ طالب هم راغږ کړ

څه کوې، څه فکر درته پیدا شو؟

خو بې له دې چې ځواب ورکړم، دهمغه کس په اوږه مې لاس ورکېښود

عبدالوهابه وروره!

په څوکۍ کې ووېرېده، پورته یې راته وکتل، ریښتیا هم کس همغه و، شونډې یې خوځېدلې او څه یې له ځان سره ویل، له تعجب سره یې زیاته کړه

صفي الله، دا هرڅه ریښتیا دي ؟

ورته ومې خندل

هو الله تعالی موږ ته هغه مرسته راورسوله چې په دعاګانو کې مو کوله، په همدې وخت کې دده بېګانی خوب رایاد شو چې له جوماته د راوتو په وخت یې راته یاد کړ خو سرتیري ورته پرېنښود، ورته ومې ویل

څنګه ستا هغه خوب خو به داسې نه و؟

ویې خندل، پوهېدم چې دهغه دمخ بڼه څومره بدله شوې او سترګې یې په کې لوېدلې.

هو کټ مټ همداسې یا دې ته ورته دی چې تعبیر یو ډول کېدی شي، زه خو اوس ځکه وایم چې له زندانه زموږ ټولو راوتل کوم خوب نه وي.

زما په ځای ولاړ وسله وال ځواب ورکړ

نه نه خوب نه دی هر څه ریښتیا دي اوس ولې ولاړ یې ووایه ، ښکته کېږې خو به نه ؟

په همدې ساحه کې زما دیوې ترور کور هم و، زر مې له خولې نه ووتل

هو وروره همدلته زما کور دی، کوم خطر نه شته که موږ دواړه دلته ښکته کړی، ښه به وي، عبدالوهاب ته مې هم اشاره وکړه

هله پاڅه ورور‌ه!

دې هم بې له دې چې څه ووايې دځنګ ملګري ته يې دخداى پامانى لاس ورکړ، را اوچت شو خو دشاه له سپټ نه ځلور کسه نورهم پاڅېدل او کوزېدو غبر يې وکړ

له ټولو سره مې په ولاړو مخه ښه وکړه، کتل مې چې دهر يوه په شونډو موسکا خوره ده خو په سترګو کې يې دساتونکو له تعقيب نه وېره هم ښکاري.

ولاړ کس يوازې همدومره وويل چې په ځان پام کوئ نور مسوليت مو په خپله غاړى دى.

زر ښکته شوو او دسرک له غاړې په يوه کوڅه ننوتو، په هوا درې چورلکې تېرې شوې، ويره راسره وه چې اوس به ټول ساتونکي خبر وي، دواړو ته خپل راوتل بيخي معما ښکاريده، هېڅ نه پوهېدو خو يوازې په دې مو سرونه خلاصېدل چې په جومات کې مو بېګانى ناسته تر ناوخته بې څه نه وه.

رښا هم په خورېدو وه، کتل مې چې ددواړو جامې خېرني دي او ګډوډ يو، په سختى مې نيم ساعت وروسته دخپلي ترور کور پيدا کړ، نور نو رڼا په خورېدو وه، ترور ته مې زه زيات ګران وم، زما يو همزولى زوى يې دوه کاله وړاندې په امريکايانو فدايي وکړ چې دهغه په نشتون کې به مې ترور کله کله دخپل دغه زوى شېر محمد تنده په ما ماتوله.

دروازه مې ټک ټک کړه خو څوک نه وو، بيامې ووهله چې دهغه خوا دپښو ښکالو راغله او څوک يې غبر يې وکړ.

خپل نوم مې ورته واخيست او دترور بوډا خاوند مې دروازه خلاصه کړه، په تعجب او حيرانى سره يې راته کتل، غاړه يې راکړه او بې له دې چې نور څه ووايې دمېلمستون دروازه يې خلاصه کړه، موږ هم ايله يو څه د ارام ساه واخيسته.

يوه اونى مو زما د ترور په کور کې په پټه تېره کړه ، زموږ په وتو په ټولو اختر و ، پلار مې هم زموږ ليدو ته راغى، خو وتل يې راته مناسب نه ګڼل، هره شېبه مې راډيو اورېده، هر څه رېښتيا وو، کارپوهان، پوځيان او پوځيان ځېرونکي په کې غږېدل، دپوليسو او ساتونکو ناکامي او زموږ دملګرو جوړ کړي پلان ته حيران وو، په همغه شپه زموږ څه کم ځلور سوه ملګري له همدې پټ تونل نه زما او عبدالوهاب په ځېر را ايستل شوي وو ، زما يوه ملګري چې دهمدغه ګروپ سره په اړيکه کې و ټوله کيسه راته په تيلېفون وکړه او ويل يې چې دغه پلان نيږدې درې نيمې مياشتې وړاندې پيل شوى و، ددوى کيسه هم ډېره عجيبه وه.

درې میاشتې وړاندې دغه کسانو زموږ دمشرانو په مشوره چې هغوی ته هم حیرانوونکی او خیال غوندې ښکارېده، یو وړوکی کور چې ویرانه غوندې وو په کرایه ونیوه او دبلوکو جوړلو دشرکت په نوم یې په کې کار پیل کړ، دوی لومړی له دغه کوره د بولوکو یوه وړوکې خو لوړه چاردېوالي راګرځولې وه، بیا یې دبلوک جوړلو څو ماشینونه، برقي جنراتور او نور وسایل واخیستل ، کار یې پیل کړ او دهستوګنې لپاره یې یوه کوټه جوړه کړه ، درې که څلورو کسانو دشرکت دمشرانو په نامه ځانونه جوړ کړل او څو ګارګر یې له ځان سره ونیول، په دې شرکت لګېدلې پیسې څه ددوی او څه مشرانو ورکړې وې، په کم وخت کې دبولوکو امبارونه جوړ شول او دا چې له نورو محکم او اصیل وو، زیات مشتریان یې هم درلودل او هره ورځ یې دوه درې موټره بازار ته وتل، یوه ښېګنه داوه چې څنګ ته یې نور څه ابادي نه وه او ددې ځای مالک هم په خوښۍ سره په لوړه کرایه خپل ځای ورکړی و ، دلته نو ددوی اصلي کار پیلېده ، دورځې به له کارګرو سره لګیا وو او د شپې یې دجوړې کړې کوټې منځ سوری کړ، دکوټې ور او کړکۍ به کلک بند و ، په نوبت به دڅلور دیوالۍ په خوله کې یوه کس پیره کوله او درې نور به په کار لګیا وو او خاورې به یې بهر ته را ایستلې، چې سهار به نیږدې کېده نو رایستل شوې خاورې به په یوه مازدا موټر کې لرې چېرته یووړل شوې، په غولي کې په جوړ کړي سوري به یې یو سرپوښ کېښود او دورځې به یې خوبونه کول، کارګرو ته هم اجازه نه وه چې دشپې پاتې شي ، ځکه دوی تر سهاره کار کاوه ، لنډه داچې په درېیو میاشتو کې دا تول دزندان تر بېخه ورسېده.

ددفتري تلېفون سیستم ، دهواکشۍ او ګروپ لګولو چارې په کې پیل شوې، چې دساه بندۍ مخه یې نیوله ، هر څه په بریالیتوب مخکې روان وو، حتی یو ځل خو له زندانه وړاندې تېر شوی و او د اوبو دکوم ژور پمپ پیپ په کې راغی له دې سره څو ورځې کار تم شو او کله چې ددې پمپ درک ولګیده نو له زندانه وړاندې په یوه بله ودانۍ کې وو، همغه وو چې دتونل مخه بیا بل لور ته وګرځېده او په شلو شپو کې ټاکل شوي ځای ته ورسېده.

اوس نو مهمه په زندان کې له یوه اعتباري کس سره داړیکې ټینګول وو او خدای(ج) دا کار هم اسانه کړ، یو کس راپیدا شو که څه هم ورته دمنلو نه وه خو دوه کسه نور نیږدې او باوري ملګري یې ورسره په جریان کې کړل، نور نو کار خلاص وو او د زندان دهغه کوټې په پیدا کولو پسې لټه روانه وه چې ورسورۍ شي، خو دزندانیانو په شتون کې دا کار ممکن نه و.

په هغه شپه چې موږ یې جومات ته ټول کړي و همدا کار ترسره شو او زموږ دځنډولو یو علت داوو چې دځمکې دتل له تونله یوې کوټې ته کانکرېټ ماتېده او چې کله مات شو، نو هلته په جومات کې دغونډې دخلاصولو خبر ورکړل شو، دملګري په دې کیسه مې ځکه پوره باور راغی، چې په هغه شپه ملا صاحب ته یو څوک راغلل ، په غوږ کې یې څه ورته وویل او بیا درې کسه له ټولو وړاندې ووتل.

وروسته موږ ته دوتلو امر وشو، دسهار له رڼا خپرېدو سره چې ساتونکي راغلي؛ ګوري چې یو زنداني هم نشته، شور او چیغه ګډوي او ډېر وروسته په یوه کوټه کې دغه تونل پیدا کوي او دا هغه وخت وي چې تر ټولو وروستی راوتلی زنداني هم خوندي ځای ته رسول شوی وي.

په راډیو ګانو او تلویزیونو کې همدا خبرې کېدې چې دزندان له ساتونکو سره دجوړښت او همکارۍ نه پرته دا کار امکان نه لري، دا هم ویل کېدل چې ځینې کسان بېرته نیول شوي چې امکان یې نه درلود اودیوه زندان په تنده هم دهغه نوم نه وو لیکل شوی، ما په خپلو سترګو ولیدل چې دا هرڅه امکان لري،کله چې پوخ عزم ، په خدای توکل او ایماني حوصله موجوده وي؛ نو دانسان متو ته غرونه هم دسلامي سرټیټوي.

که څه هم نور ما او عبدالوهاب په دغه کور کې بې وېرې ژوند کاوه خو ددې امکان وو چې په دغه ساحه کې پلټنې وشي، دترور خاوند مې هم ددې نه اندیښنه درلوده بله خبره مهمه خبره دعبدالوهاب په اړه وه، له زندانه تر راوتو وروسته ورته هغه طبعه نه وه پاتې، تل مړاوی او غلی و، ډېر کم یې خندل او کمې خبرې یې کولې دډوډۍ خوړلو طبعه یې هم نه وه، ډېر وخت یې په تلاوت تېراوه .

راتلونکي ورځ مو ماښام ددوی پخوانی کور پیدا کړ، چې میره یې په کې اوسېده او ماته یې په خپله کیسه کې یادونه کړې وه، دروازه مو ټک ټک کړه، دوه ځوانان غبرګ راووتل، چې شاید دده دمیرې زامن به وو، عبدالوهاب ور وړاندې شو ،دابوسلمان کاکا پوښتنه یې ترې وکړه

هلکانو یو بل ته وکتل او بیا یو ورڅخه را وړاندې شو

هغه زموږ سپین ږیری مېلمه یادوې، چې له عربو راغلی، زموږ دپلار...

عبدالوهاب یې په بې صبرۍ خبرې ورپرې کړې

هو همغه اوبوسلمان نومېږي، چېرته دی ؟

کشرځوان را وړاندې شو

هغه مخکې جومات ته ووت، دادي اوس به راشي، جومات مو نیږدې دی، لور یې همدلته له مورجانې سره ناسته ده.

دعبدالوهاب په رنګ کې بدلون راغی، دګروپ په رڼا کې راته زیړ او ترهېدلی ښکاره شو، له یو څو پوښتنو وروسته له دروازې سره یو کس را ښکاره شو، چې په زنه یې اوږده سپینه ږیره زنګېده

او له ځېرې نه وچ کلک ښکارېده، عبدالوهاب ورته ځیر شو او ناڅاپه یې منډه ور واخیسته، چیغه یې کړه، ابوسلمان کاکا ته بوډا شوی یې...

په عربي ژبه یې څه وویل او دواړه سره غاړه غړۍ شول، له سترګو یې اوښکې روانې وې، ډېره عجبیه شېبه وه، زه او دوه کسه نور ځوان هلکان هم حیران ولاړ وو، چې سترې مه شي یې خلاص کړل، په مخ یې عبدالوهاب ته یوه ځېیره ورکړه، دسعدیې نوم یې ورته واخیست او په عربي یې څه ورته وویل.

دعبدالوهاب څېره له حیا سره واوښته، زه یې ورته معرفي کړم، په ځیر ځیر یې راته وکتل، دابراهیم نوم یې واخیست، بیایې په غېږ کې ټینګ کړم، دکور په لور روان شوو، زه یې دمېلمه کوټې ته ننویستم، چې راسره ځوانانو دبېټک نوم ورته اخیسته، عبدالوهاب یې له ځان سره وړاندې کوټې ته روان کړ، له راسره ناست ځوان نه مې پوښتنه وکړه

ابوسلمان یوازې راغلی ؟

ځواب یې راکړ

هو یوه یې لور ده ورسره، نن سهار زموږ کور ته راغلي وایي چې ستاسو خپلوان یو ، له دغه سړي سره موږ په ژبه نه پوهېږو خو دلور یې زموږ ژبه یو څه زده ده، له مور سره مې خبرې کوي.

کړکۍ ته مې غوږونه څک کړل، د غلو ژړا ګانو غږونه راتلل، زړه مې همدا شاهدي راکوله چې له ابوسلمان سره راغلې نجلۍ له سعدیې پرته بل څوک نه شي کېدی، هلته ژړا ګانې وې، خو دلته له خوښۍ زما زړه باغ باغ و، د عبدالوهاب هغه خبره را یادېده چې ویل یې په ژوند کې به یوه شېبه داسې خامخا راځي چې زه په کې سعدیه او مورجانه وګورم .

شپه په خوښۍ سبا شوه، سهار وختي ابوسلمان او عبدالوهاب بې له دې چې ما خبر کړي؛ کوم خوا تللي وو، زه چې راپاڅېدم هغوی نه وو، خو ځوانکي هلک ته چې راشد نومیده، دوی دا پیغام پرېښی و، چې دوی یو ځل تر یوه دفتره ځي ته باید همدلته وې، دوی دشپې ناوخته راغلل او زه هم ډېر انتظار ستړی کړی وم، زما خبره ریښتیا وخته، له ابوسلمان سره راغلې نجلۍ چې ده ورته لور ویل سعدیه وه.

ابو سلمان هم له پوره هنره کار اخیستی و، سعدیه یې دهغې له ډېر ټینګار وروسته ورسره راوستې وه چې عبدالوهاب تلو ته چمتو کړي، خو مور یې هلته په ناروغ حالت کې په بستر پرېښې وه، له ډوډۍ وروسته چې عبدالوهاب دخپلې پرېکړې او دمور لیدو ته دورتلو کیسه وکړه، زما سترګې له اوښکې ډکې شوې، زما ټینګار هېڅ ځای نه درلود، ده هم ژړل ، موږ لا سلګۍ وهلې چې دروازه خلاصه شوه ، په ځانګړوعربي جامو کې یوه دلوړ قد لرونکې نجلۍ راننوته، یوازې سترګې یې ښکارېدې،عبدالوهاب یې مخې ته ورپاڅېد

سعديې! دا زما ورور صفي الله دی، چې پرون شپه مې يې کيسه درته وکړه، زه ورته ابراهيم وايم.

سعديې لاس راکړ، پوښتنه يې وکړه، ښکلی زړه راښکونکی غږ يې درلود، زما په ذهن کې همغسې ماشومه سعديه ګرځېده، چې عبدالوهاب يې کيسه راته کړې وه، شېبه وروسته پاڅېده او له کوټې ووته، دا شپه مې ټوله په وير تېره کړه، له ډېرخپګانه وختي اوده شوو، سهار په لسو بجو له کوره ووتو، له کوربنو سره مو مخه ښه وکړه ،خو راشد راسره وو، زما سترګې همغسې له اوښکو ډکې وې، راشد له موټروان سره ناست و، زه او عبدالوهاب په منځني، ابوسلمان او سعديه په وروستي سېټ کې ناست وو، په خبرو دومره ګرم راغلی وو چې تر هوايي ډګره په لاره هم نه يو پوهېدلي، زه له هغه چانه جدا کېدم چې دژوند ډېرې ترخې او خوږې شېبې مو سره يو ځای تېرې کړې، هغه ويل چې ابوسلمان کاکا ډېر ټينګارکوي، چې دمور غوښتنه دې په ځای کړه او بايد ورشې، اوس دعمر په وروستيو اوکمزروي حالت کې دهغې يوازينی هيله داده، چې ما وګوري او ابوسلمان ورته بې وعدې نه شې.

لږ غلی و او بيايې خبره په ټيټ غږ وغځوله

ابراهيمه وروره ! زه باور لرم چې دمورجانې په مخکې زما او سعديې واده وشي او دخپل ژوند دغه يوازينی خوښي وګوري؛ نو حالت به يې يو څه ورسره ښه شي، ته خو پوهېږې، چې هغې په ژوند کې هم خوښي نه ده ليدلې، زه وعده کوم چې بېرته به دغه خاورې ته راځم، زه څنګه هغه خاوره هېره کړم، چې ډېر نازدانه ملګري مې په کې په ابدي خوب اوده دي، حتما راځم ، دا زما قول دی، داهم دژوند يو ازمايښت دی ته دخپل پردېس ورور ته دعا کوه چې په کې بريالی شي، بيا غلی شو، غږ يې دروند دروند کېده.

له سترګو مې داوښکو دربېدلې بندونه بيا رامات شول، هېڅ نه يم پوه شوی، چې په څه حالت کې مې له دربيو واړو سره مخه ښه وکړه، دوی وړاندې لاړل، زه او راشد ځای په ځای پاتې شوو، په دوی پسې مې کتل، زما په ليدو دراشد سترګې هم له اوښکو راډکې شوې، خو زه بيا هم همغسې ځای په ځای دبت غوندې ولاړ وم.

نيږدې لس دقيقې وروسته يوه وړوکې الوتکه له هوايي ډګر اوچته شوه، ترهغو پورې مې پسې کتل ،چې په وريځو او ګردونو کې ورکه شوه ، په سر مې درد شو ، او ځای په ځای کېناستم.

## پای

۲۰۱۲ جنوري ۸ کابل